# اللمعة في خصائص الجمعة

❖ تاليف : علامة جلال الدين السيوطي رح

❖ پښتوژباړه: مولوي حزب الله (رښتين) فاضل وفاق المدارس العربية ملتان

❖ ورسره: دجمعې لمونځ فرض عين دی د ژباړن ليکنه

❖ بيا کتنه : مولوی محمد فاروق غلجی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکتاب نوم : اللمعه فی خصایص الجمعه
مؤلف : جلال الدين سيوطي
پښتو ژباړه : مولوی حزب الله رښتين
کمپوز : ژباړن .
مالي مرسته :

www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاين کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک


| شميره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | سريزه | ۱۱ |
| ۲ | دجمعي د ورځې خصوصيات ( ځان ګړتياوي ) | ۱۳ |
| ۳ | لومړی خصوصيت : جمعة، د دی امة اختر ده | ۱۳ |
| ۴ | دوهم خصوصيت : يواځې د جمعې په ورځ روژه نيول مکروه دی | ۱۴ |
| ۵ | څلورم: خصوصيت : د سورة الم تنزيلُ ، هلْ أتی علی | ۱۶ |
| ۶ | پنځم خصوصيت :دجمعې دورځی د سحر لمونځ د الله تعال په نزد تر ټولو غوره لمونځ دی | ۱۸ |
| ۷ | شپږم خصوصيت : د جمعې لمونځ دوه رکعة دی او د نورو ورځو لمونځ څلور رکعة دی | ۱۹ |
| ۸ | اووم خصوصيت : جمعه د حج معادله ده | ۲۰ |
| ۹ | اتم خصوصيت : د جمعې لمونځ په جهر ( لوړ غږ ) او نور ورځني لمونځونه خفيه کيږي . | ۲۰ |
| ۱۰ | نهم خصوصيت سورة الجمعة اوسورة المنافقين د جمعې په لمانځه کې لوستل: | ۲۰ |
| ۱۱ | لسم ، يولسم ، دولسم او ديرلسم ،خصوصويتونه : د جمعې لمونځ خاص په جماعت سره کيږی---!! | ۲۰ |
| ۱۲ | څوارلسم خصوصيت : دهغه چاد کور د سوځولو اراده ،څوک ،چې د جمعې د لمانځه نه ځان ژوغوري: | ۲۱ |
| ۱۳ | پنځلسم خصوصيت : مُهر ګمراهي اودحق نه د اعراض ) لکيدل د هغه چا په زړه ،څوک چې د جمعې لمونځ پريږدی: | ۲۲ |
| ۱۴ | شپاړسم خصوصيت: د جمعې د لمانخه په پريښودو سره کفاره ورکول : اُولَسم خصوصيت : دجمعې خطبة: | ۲۴-۲۴ |
| ۱۵ | نولسم خصوصويت کله چې امام په منبر کينې نو هرقسمه لمونځ حرام دی: | ۲۷ |
| ۱۶ | شلم خصوصيت : دخطبې لوستلوپه وخت ( احتباء ) تکيه کول منعه دی | ۲۹ |
| ۱۷ | يوشتم خصوصيت : د جمعې په ورځ د استواء په وختکې کراهية نشته دوويشتم خصوصيت : دجمعې په ورځ جهنم نه ګرميږی د تير شوې حديث له مخې | ۳۱-۳۰ |
| ۱۸ | درويشتم خصوصيت : دجمعې لپاره غُسل مستحب دی | ۳۱ |
| ۱۹ | څلورويشتم خصوصيت : د جمعي ورځې غسل دوه اجرلر | ۳۱ |
| ۲۰ | پنځويشتم ،تر نهويشتمه پورې ، استحباب د مسواک ،خوشبويي ، تيل ،استعمالول ، د نوکانو او ويښتانوپريکول دي | ۳۳ |
| ۲۱ | ديرشم خصوصيت : د جمعې په ورځ تر ټولو غوره جامي اغوستل مستحب دی | ۳۵ |
| ۲۲ | يوديرشم خصوصيت : پاکوالی ، صفاوالی د مسجد | ۳۸ |
| ۲۳ | دوه ديرشم خصوصيت : په اول وخت کې دجمعې لمانځه ته تلل | ۳۸ |
| ۲۴ | دری ديرشم خصوصيت : په اوړې کې نورو لمنځونو لپاره د هوا يخوالې مستحب دی ، اما د جمعي لپار ه داخبره مستحب نه ده | ۴۱ |
| ۲۵ | څلور ديرشم خصوصيت: د غرمي خوب او ډوډۍ د جمعې دلمانځه نه وروسته | ۴۱ |
| ۲۶ | پنځه ديرشم خصوصيت : څوک چې د جمعې لمانځ ته ځې په هرقدم ور ته د يوکال اجرورکولی شی | ۴۳ |
| ۲۷ | شپږ ديرشم خصوصيت : د جمعې لپاره دوه اذانه دي | ۴۴ |
| ۲۸ | اوديرشم خصوصيت : په عبادت مشغوليدل تر چې خطيب راوځي | ۴۴ |
| ۲۹ | اته ديرشم خصوصيت : دجمعي په ورځ د سورت کهف لوستل : | ۴۴ |
| ۳۰ | نهديرشم خصوصيت : دجمعې په شپه دسورت کهف لوستل | ۴۵ |
| ۳۱ | څلويښتم خصوصيت : د سورت الاخلاص ( قل هوالله احد الخ ،) المنافقين د جمعې د ماخستن په لمانځه کې لوستل ، | ۴۵ |
| ۳۲ | يو څلويښتم خصوصيت : د سورت قل يا ايها الکافرين او اخلاص لوستل د جمعې د شپي د ما ښام په لمانځه کې | ۴۷ |
| ۳۳ | دوڅلويښتم خصوصيت : د سورة الجمعه او سورة المنافقين د جمعې د ماخستن په لمانځه کې لوستل ، د تير شوي حديث له مخې | ۴۷ |
| ۳۴ | درې څلويښتم خصوصيت : د جمعې لمانځه نه ړومبی حلقه جوړول منع دي. | ۴۸ |
| ۳۵ | څلورڅلويښتم خصوصيت : د جمعې په ورځ لمانځه ړومبی سفر کول -،پنځلويښتم خصوصيت | ۵۰-۴۸ |
| ۳۶ | شپږ څلويښتم خصوصيت : څوک ، چې د جمعې په ورځ يابشپه وفات شي دقبر له عذابه ، په امن وي | ۵۱ |
| ۳۷ | اووه څلويښتم خصوصيت : څوک ،چې د جمعې په ورځ ،يا شپه وفات شي ، په قبر کې ورنه سوال اوځواب نه کيږی . | ۵۱ |
| ۳۸ | اته څلويښتم خصوصيت : د جمعې په ورځ له اهل البرزخ نه ( څوک چې په خوا، وفات شوې وي ) عذاب پورته کيږي . | ۵۳ |
| ۳۹ | نهڅلويښتم خصوصيت : د جمعې په ورځ ،ارواح سره يوځای کيږي . | ۵۳ |


www.ketabton.com – د پښتو ژبی انلاین کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۴۰ | پنځوسم خصوصيت : جمعه د ورځوسرداره ده. | ۵۴ |
| ۴۱ | يوپنځوسم خصوصيت : دجمعې ورځ د زيادت ورځ ده | ۵۸ |
| ۴۲ | دوه پنځوسم خصوصيت : د جمعې د ورځې ذکر په قران کريم کې شوى د،اونې دنورو ورځو ذکر نه ديشوى. | ۶۱ |
| ۴۳ | درى پنځوسم : خصوصويت :د جمعې ورځ شاهده اومشهوده ده . | ۶۱ |
| ۴۴ | څلورپنځوسم خصوصيت : د جمعې ورځ مدخره د دى امت ده المُدّخر( ذخيره ) | ۶۲ |
| ۴۵ | پنځه پنځوسم خصوصيت : جمعه د مغغرة ورځ ده | ۶۲ |
| ۴۶ | شپږ پنځوسم خصوصيت : جمعه د اورنه دازادئ ورځ ده . | ۶۳ |
| ۴۷ | اُوپنځوسم خصوصيت : په جمعه کې داسي ساعت شته ،چې دعا په کې قبليږى | ۶۴ |
| ۴۸ | اته پنځوسم خصوصيت : په جمعه کې د خيرات ثواب ،په دوه برابره دى. | ۶۶ |
| ۴۹ | نهپنځوسم خصوصيت: د نيکى ، او بدئ بدله ،په جمعه کې دوه برابره دى | ۶۷ |
| ۵۰ | شپيتم خوصوصيت : د جمعې په ورځ اوشپه ،د سورة حم ،والدخان لوستل | ۶۸ |
| ۵۱ | يوشپتم خصوصيت : دجمعې په شپه د سورة يس لوستل- | ۶۹ |
| ۵۲ | دوشپتم خصوصيت : دسورة ال عمران لوستل | ۶۹ |
| ۵۳ | درى شپتم خصوصيت : دجمعي په ورځ د سورة هود لوستل | ۶۹ |
| ۵۴ | څلور شپتم خصوصيت : د بقرې او ال عمران دسورتونو لوستل | ۷۰ |
| ۵۵ | پنځه شپيتم خصوصيت : دجمعي د ورځي په سحر هغه ذکر ،چې د مغفرت سبب ګرځى. | ۷۰ |
| ۵۶ | شپږ شپيتم خصوصيت: د جمعې په شپه او ورځ کې په نبي صلى الله عليه وسلم زيات درود ويل | ۷۰ |
| ۵۷ | اُوشپيتم ، اته شپيتم او نهشپيتم او ،اويايم خصوصيتونه : په جمعه کې دمريض پوښتنه کول، جنازې ته حاضريدل ، د نکاح مجلس ته حاضريدل ، او غلام ازادول | ۷۴ |
| ۵۸ | يواويايم خصوصيت : ذکر ماثوره ( هغه خاص ذکر چې دنبى صلى الله عليه وسلم | ۷۵ |
| ۵۹ | دو،اويايم خصوصيت : تلل او راتلل په جمعه کې : | ۷۶ |
| ۶۰ | درې اويا يم خصوصيت : په جمعه کې د الله تعال د فضل غوښتنه | ۷۶ |
| ۶۱ | څلوراويايم خصوصيت : دجمعي په ورځ دماځيګر دلمانځه نه وروسته انتظار | ۷۷ |
| ۶۲ | پنځه اويايم خصوصيت : د حفظ القران لمونځ د جمعې په شپه | ۷۸ |
| ۶۳ | شپږاويايم خصوصيت : د جمعې په ورځ مړى د ژوندو ،په ورتګ خبريږي | ۸۲ |
| ۶۴ | اته اويا يم خصوصيت : دجمعې په ورځ د ژوندو اعمال په خپلو ( مړو) خپلوانو وړاندې کيږي | ۸۳ |
| ۶۵ | نه اويايم خصوصيت : مرغان د جمعې په ورځ وايې سلام ،سلام ښه ورځ ده ( | ۸۴ |
| ۶۶ | اتيا يم خصوصيت: دجمعې لمونځ ته تلونکي داسي دى لکه ،اويابرابره د موسى .(عليه السلام) دقوم | ۸۵ |
| ۶۷ | يواتيا وم خصوصيت : دجمعې روژه سره له نورو،ورځو سبب د مغفرة دي- | ۸۵ |
| ۶۸ | دواتيايم خصوصيت : د جمعې شپه سپينه ( غراء ) او، ورځ يي ځليدونکې ( ازهر ) دي | ۸۶ |
| ۶۹ | درى اتيايم خصوصيت : دجمعې په شپه لمونځ ،دمرګ سختئ اسانه وي | ۸۷ |
| ۷۰ | څلوراتيايم خصوصيت : د جمعي سلامتي د ټولو ورځو سلامتي ده | ۸۸ |
| ۷۱ | پنځه اتيايم خصوصيت : د جمعې په ورځ مسجد د ننوتلو دعا | ۸۹ |
| ۷۲ | شپږاتيا وم خصوصيت : د جمعې په ورځ حجامة مکروه ده | ۸۸ |
| ۷۳ | اواتيايم خصوصيت : څوک ،چې د جمعې په شپه مړشي ، شهادت ورته حاصليږى | ۸۹ |
| ۷۴ | اته اتيايم خصوصيت : دجمعي دورځې عرفات په نورو عرفو غوره دى | ۸۹ |
| ۷۵ | نه اتيايم خصوصيت : دجمعي دورځې عرفات په نورو عرفو غوره دى | ۹۰ |
| ۷۶ | نويم خصوصيت : دجمعې په ورځ د حاجت دعا | ۹۲ |
| ۷۷ | يونوى يم خصوصيت : د جهنم دروازې ، د جمعې په ورځ بندې وي | ۹۳ |
| ۷۸ | دوه نويم خصوصيت : د جمعې په شپه سفر کول مستحب دى | ۹۳ |
| ۷۹ | درى نويم خصوصيت : ليکل د ملاېکو هغه چا لره ، چې د جَمعې لمونځ د جُمعې په ورځ وکړي | ۹۴ |
| ۸۰ | څلورنوى يم خصوصيت : دنبى صلى الله عليه وسلم په خوب کې د ليدلو لمونځ | ۹۵ |
| ۸۱ | پنځه نويم خصوصيت : د جمعې په ورځ د مسلمان وروړپوښتنه کول | ۹۶ |
| ۸۲ | شپږ نوې يم خصوصيت : د جمعې په ورځ هيڅ وخت لمونځ نه ده مکروه | ۹۶ |
| ۸۳ | اونوى يم خصوصيت : د جنت د ليدلو لمونځ | ۹۶ |
| ۸۴ | اته نوې يم خصوصيت : د مجلس پريښودل د جمعي په شپه | ۹۷ |


www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاين کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۸۵ | نه نويم خصوصيت : فخركول د الله جل جلاله په ملائكو په سبب د خپلو بندگانو | ۹۷ |
| ۸۶ | پوره كونكي دسلم خصوصيت : قبوله دعا | ۹۸ |
| ۸۷ | يوباندي سلم خصوصيت – د قيامت په ورځ به جمعه لكه ناوې داسي وي - | ۹۹ |


# بسم الله الرحمن الرحيم

www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاين كتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



د محترم شيخ الحديث مولوي صاحب عبدالسميع غزنوي تقريظ

نحمده ونصلی علی رسوله الكريم امابعد :

د علامه جلال الدين سيوطي رحمه الله رساله: اللمعة فی خصائص الجمعة ، چې مولوي حز ب الله صاحب ژباړلې ، ما يو نظر پرې واچولو؛ ښه او مطابقه ژباړه ده او زيات د متونو احاديث پکې رايوځای شوي، چې زموږ د ټولني لپاره د جمعې د ځانګړتياوو يوه ښه ټولنه ده، الله تعالی دې ذريعه د هدايت او ګټې وګرځوي او مترجم ته دې اجر او لا نورهم د د دين د خدمت توفيق ور په برخه کړي .

د مسلمانوپوهانو لپاره اوسنی ډير ښه وخت دی تر څو زموږ ټولنې ته لازيات د دين چوپړ وکړي او الله جل جلاله دې زموږ د علماوو هر اړخيز خدمتونو په خپل در بار کې قبول او زموږ هر اړخيزې شخړې دې الله جل جلاله حل کړې په درنښت .

شيخ الحديث مولوي عبدالسميع غزنوي .

**د محترم شيخ الحديث والقران مولوي عبدالغني صاحب تقريظ :**

**الحمد لحضرت الجلاله والصلوة علی خاتم الرساله امابعد :**

**اللمعة فی خصائص الجمعة المرتبة من الشيخ جلال الدين السيوطي ( رحمه الله تعالی، المترجمة من الشيخ حزب الله دامة بركاته العاليه وحياه الله تعالی حياتاً طويلة .**

**ځينې پاڼې د دې رسالې مې وکتلې، چې د جمعې مبارکې په مهمو او مفيدوخصوصياتو مشتمله وه، له الله جل جلاله نه مې اميد دی، چې د طالبانو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوعلماوو او عامو مسلمانانو لپاره يې مفيده وګرځوي او د ژباړونکي لپاره دې الله تعالى د قيامت يوه لويه ذخيره جوړه کړي .**

**عبدالغني خادم العلم بدارالعلوم عبد الله بن مسعود رضى الله عنه،**

**نوشهره اضاخيل**

**د محترم مولوي صاحب فضل عمر ( دلاور) تقريظ**

**الحمد لله وكفى والصلوة و السلام على عباده الذين اصطفى امابعد.**

**د جمعې په هکله د علامه جلال الدين سيوطي رساله ، اللمعة فى خصائص الجمعه**

**خورا مهمه او د زياتې فائدې وړ رساله ده، چې په صحيحو احاديثو مشتمله ده او د جمعې مبارکې سل ځانګړتياوې په کې را نغاړل شوي د هر مسلمان لپاره اړينه ده چې ورڅخه ګټه واخلي، دا چې محترم ورور مولوي حزب الله ( رښتين ) پښتو ته وژباړله د هر مسلمان لپاره خورا زياته د جمعې مبارکې په اړه ګټوره شوه .**

**الله جل جلاله دې مترجم ته اجر او لانور د دا ډول خدمت کولو توفيق ور په برخه کړي .**

**( فضل عمر ( دلاور )**

www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاين کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د ژباړونکي لنډه پیژندنه**

مولوي حزب الله ربنتین د مولوي محمد حسین اخوندزاده زوی د غزني ولایت د اندړو د ولسوالی د هوښیار د کلي اوسیدونکی چې ابتدایي زده کړي یې د خپل ارواښاد، پلار نه کړي او په ( ۱۳۵۷ ) کال د غوایي له توري او کرغیړني کودتا وروسته پیښورته مهاجر شو، هلته یې دپاکستان په مدارسو کې له جیدو استادانو درس نظامي ( هغه نصاب چې مولنانظام الدین رح د اسلامي مدرسولپاره جوړ کړی په پاکستان کې ورته درس نظامي ویل کیږي ) په مکمله توګه ولوست د وفاق ا لمدارس درسي سلسله یي ( خاصه ، عالیه او عالمیه ) پاي ته ورسوله، او دحدیثو لویه دوره یې د شهید شیخ الحدیث محمد حسن جان المدني رحمه الله تعالی نه وکړه، چې ورسته یې دکابل پوهنتون شرعیاتو پوهنځي ولوستلو له دې نه وروسته یې په بریالۍ توګه د پیښورپه یونیورستی کې په اسلامیاتو او عربی کې دوه ماستری ترلاسه کړی

دندي: په پیښور، اسلام اباد اوکابل کې د بهریوچارو په وزارت کې فرهنګي، سیاسي او اداري دندې ترسره کړې دي، چې په ورستیوکې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي د ثقافت ا سلامي استاد او ورسره د لوړو زدکړو د وزارت دبهرنیواړیکواوفرهنګي چارو رئیس و

*لیکنې*

۱: د جمعې لمونځ فرض عین دی ۲: ښځه په اسلام کې ۳: دود، که اسلام ؟

۴: د اسلام سیاسي نظام ۵: سوله په اسلام کې.

پښتوته ژباړې ۱: کشف ا لغطآء عن تبلیغ النسآء، د مفتی سیف الله حقاني تالیف.

۲: اللمعة في خصائص الجمعة، د امام جلال الدین سیوطي تالیف .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سریزه

الحمدلله وکفی والصلوة والسلام علی رسول الله وعلی خلیفته ابوبکر ن الصدیق وامیر المؤمنین عمر بن الخطاب وامیر المؤمنین عثمان بن عفان وامیر المؤمنین علی المرتضی وعلی سبطیه الحسنین وعلی جمیع الصحابة والبدرین والتابعین والمجاهدین وأئمة الدین وعلی جمیع عبادالله الصالحین الی یوم الدین اما بعد ! امام سیوطي نوموړی مفسر او مصنف دی چی ګڼ شمیر کتابونه یې لیکلي.

اللمعه في خصائص الجمعه ،هم د امام سیوطي یوه رساله ده، چې د الله جل جلاله په فضل تقریباً،په شلوو رځو کې پښتو ته وژباړل شوه .

پښتو ژبې ته د دیني مطالبو ژباړل تر هرشي زیات اړین دي ترڅو زموږ مسلمانه ټولنه څنګه چې له اسلام سره د اخلاص او قربانۍ بیلګه ده له دیني معلوماتونه لانور هم په خپله ژبه خبر شي.

پښتو ژبې ته د تفسیر، سیرة اوفقهي او داسي نورو معلوماتو هر وخت د اړتیا او پیښو سره سم ژباړل، د ناوړه او اسلام ضد پروپیګنډو په دفع کې ګټور واقع کیږي .

اوخلک په اسانه له ډیرو اړینو مسلو نه خبریږي ، کومه ټولنه چې په خپله ژبه دیني زوره مطالعه لري ، ښه پایله ورنه تر لاسه کیږي ، څنګه چې تجربې هم ښودلې ده

له بده مرغه ځیني خلک د نورو سریالونه او ډرامې پښتوته راژباړي او ټوله هڅه او هان یي دي ته وي، چې د کفري اولا دیني نړۍ خویو نه،کړن لارې او دودونه زموږ په ټولنه کې خپاره کړي چې د اسلام له نظره ترټولولویه ګناه ده .

دوی فکر کوي، چې پرمختک د نامسلمانوخلکو په تقلید کې راځي، په دې اټکل کې خطاشوي ،که ورته ځیر شي د اسلام سمه زده کړه قراني ښوونه او روزنه د انسانانولپاره یواځنۍ د پرمختک لاره ده ځکه چې د اسلام مقدس دین خیانت ، دوکه او اخلاقي فساد، د نورو حقوقو ضایع کول منع ګرځولي چې دا د ټولوشخړو د حل لاره ده .

www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاین کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library


د اسلام مقدس دین  د بشر د فطرت سره سم هرڅه بیان کړي، چا چې ورنه سرغړونه کړي  په دنیا او اخرت کې خوار او ذلیل شوي، چې بیلګې یي پخپله قرانکریم ذکر کړې دي.

اسلام ضدکړیو زیات وسایل په کاراچولي ترڅو زموږ نسل  بې دینه کړي  .

په ټولومسلمانانولازم دي، چې د اسلام د ساتني مورچل په ځان، مال او قلم، لکه چې ساتل کیږي نور هم تود وساتي . په درنښت  مولوي حزب الله ربښتین .

بسم الله الرحمن الرحیم

دجمعې د ورځې خصوصیات ( ځان ګړتیاوې )

علامه استاذ شمس الدین ابن القیم په خپل کتاب الهدی لیوم الجمعة کې څه د پاسه شل د جمعې ځانګړتیاوې ذکرکړي او ګڼ شمیر  ورنه پاتې شوې،غواړم چې په دې رساله کې د جمعې  زیاتي ځانګړتیاوې سره له دلایلواواختصاره راټولې کړم

کله چې مایې پلټنه اوڅیړنه وکړه نو سل ځانګړتیاوې ( خصوصیات ) مې ترلاسه کړې.

لومړی خصوصیت: د جمعې ورځ  د مسلمانانو لپاره اختر دی .

په دې اړه ابن ماجه  له ابن عباس  رضی الله عنهما نه روایت  کړی )

عن ابن عباس قال، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم " إن هذا يوم عيد. جعله الله للمسلمين، فمن جاء إلى الجمعة فليغتسل، وإن كان طيب، فليمس منه، وعليكم بالسواك "

وأخرج الطبراني في الأوسط، عن أبي هريرة. أن رسول الله صلى الله عليه وسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



قال في جمعة من الجمع: " معاشر المسلمين: إن هذا يوم جعله الله لكم عيداً، فاغتسلوا، وعليكم بالسواك

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: دا ورځ ( د جمعې ) الله تعالی د مسلمانانو لپاره اختر ګرځولي، څوک چې جُمعې ( لمانځه ) ته راځي نو غسل دي کوي اوکه ورسره خوشبويې وه هغه دي استعمال کړي او مسواک وهل په تاسولازم دي.

طبراني په اوسط کې له ابو هريرة رضي الله عنه نه حدیث نقل کړی: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه جُمْعة کې د جُمْعو نه، فرمایلي: د مسلمانانو ټولګيه ! دا ورځ الله تعالی ستاسولپاره اخترګرځولې تاسوپکې غسل کوئ او په تاسو د مسواک وهل لازم دي .

دوهم خصوصیت: یواځې د جمعې په ورځ روژه نیول مکروه ده .

په دې اړه مسلم او بخاري لاندي احادیث روایت کړي :
اخرج مسلم عن أبي هريرة، أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: " لا يصومن أحدكم في يوم الجمعة،إلا أن يصوم قبله أوبعده "

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: روژه دې نه نیسي ستاسو نه کوم یو د جمعې په ورځ، مګر که مخکې یې یوه ورځ نیولي وي او یا یې وروسته ورپسې ( یوه ورځ یانورې ورځې ) نیسي .
وأخرجا، عن جابر، قال: " نهى النبي صلى الله عليه وسلم، عن صوم يوم الجمعة "

ژباړه: مسلم او بخاري له جابر نه روایت کړی: چې نبی صلی الله علیه وسلم د جمعې په ورځ له روژې نیولو منع فرمایلي ده.

وأخرج البخاري، عن جويرية ام المؤمنين رضي الله عنها: " أن النبي صلى الله عليه وسلم دخل عليها يوم الجمعة، وهي صائمة، فقال لها: أصمت أمس؟ قالت: لا. قال: أتريدين أن تصومي غداً؟ قالت: لا. قال: فأفطري "

ژباړه: امام بخاري د مسلمانو له مور جویریې رضی الله عنها نه حدیث نقل کړی : چې نبی صلی الله علیه وسلم د هغې کورته د جمعې په ورځ تشریف ور وړ، او دې روژه نیولې وه ، هغه تیرې وپوښتل : تیره ورځ دی روژه نیولې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



؟ ويلي : نه بيا يې ورته وفرمايل: سبا يې نيسې؟ هغې ورته وويل: نه بيا هغه ورته وفرمايل : روژه دي ماته کړه .

( حاکم په دې اړه له جناده نه لاندې حديث نقل کړی )
وأخرج الحاكم. عن جنادة بن أبي أمية الأزدي، قال: " دخلت على رسول الله صلى الله عليه وسلم، في نفرٍ من الأزد، يوم الجمعة، فدعانا رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى طعام بين يديه، فقلنا: إنّا صيام. فقال: أصمتم أمس؟ قلنا: لا. قال: أفتصومون غداً؟ قلنا: لا. قال: فأفطروا. ثم قال: لا تصوموا يوم الجمعة منفردا.ً

ژباړه: حاکم له جناده بن ابي اميه الازدي، نه روايت کړی وايې : زه دجمعې په د رسول الله صلى الله عليه وسلم حضورته له خپلو څوکسو قوميانو سره ورغلم رسول الله صلى الله عليه وسلم موږ، هغې ډوډۍته چې په مخکې ورته ايښې وه وروبللو،موږ ورته وويل: چې روژه يو،هغه وفرمايل: تاسو پرون روژه نيولې وه ؟ موږ وويل: نه : هغه وفرمايل: سبايې نيسې ؟ موږ وويل نه هغه وفرمايل: روژه مو ماته کړئ بيا يې وفرمايل يوازې دجمعې د ورځې روژه مه نيسئ .

وأخرج مسلم عن أبي هريرة، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: " لا تخصوا ليلة الجمعة بقيام من بين الليالي، ولا تخصوا يوم الجمعة بصيام من بين الأيام، إلا أن يكون في صومٍ يومه أحدكم "

ژباړ: نبی صلى الله عليه وسلم فرمايلي: تاسو د جمعې شپه د نورو شپو له منځه په لمونځ اوپه روژې سره مه خاصوئ مګر که مخکې مو يوه ورځ نيولې وي او يا يې وروسته ورپسې نيسئ .

امام نووي ويلي: موږ په دې فيصله کړي چې يوازې د جمعې دورځې روژه مکروه ده او لامل يې دادې چې د جُمعې په ورځ ګڼ شمير عبادتو نه روا شوي لکه ذکر، دعا او د قران کريم لوستل او په نبی صلى الله عليه وسلم درود ويل نو مستحب دادي چې روژه په کې ونه نيول شي تر څو نوموړي عبادتونه په ښه ډول ترسره شي .

ځينو علماوو ويلي چې حکمت په مکروهوالي دجمعې د ورځې په روژه کې: مخالفت دی له يهودو سره ځکه چې يهود د اخترپه ورځ روژه نيسي او د اختر ورځ هغوي د روژې لپاره خاصه کړې، نو نبي صلى الله عليه وسلم يوازې د جمعې د ورځې روژه منع کړه ترڅو ديهودو سره مشابهت رانه شي،څنګه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


د عاشورا د ورځي روژه یې په یوه ورځ مخکې یا وروسته سنت ګرځولې ، دا خبره زما ( امام سیوطي ) په نزد هم غوره ده ځکه چې رد یې په هیڅ شي نه شي کیدلی .

ځلورم: خصوصیت : د سورة الم تنزیلُ، هلْ أتی علی الإنسانِ لوستل ( مسلم او بخاري په دې اړه لاندي حدیث نقل کړی )
أخرج الشيخان، عن أبي هريرة قال: " كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يقرأ يوم الجمعة في صلاة الفجر: آلم تَنْزِيلُ السَّجْدَةُ، وهَلْ أَتَى عَلَى الإِنْسَانِ " .
وفي الباب: عن ابن عباس، وابن مسعود، وعلي، وغيرهم، ولفظ ابن مسعود عند الطبراني: " يُدِيمُ ذلكَ " .

ژباړه: نبی صلی الله علیه وسلم به د جمعې د سحر په لمانځه کې سورة آلم تَنْزِيلُ السَّجْدَةُ و هَلْ أَتَى عَلَى الإِنْسَانِ " لوستلو، په دې اړه له ابن عباس، ابن مسعود ، علي او نورو نه روایتونه شوي او د ابن مسعود لفظ په طبراني کې داسي دی : نبی صلی الله علیه وسلم به په دې کار همیشوالی کولو.

ځینو علماوو ویلي: د نوموړیو دو سورتونو په لوستلو کې حکمة دادې : چې په دې کې د ادم دپیداینبت او د قیامت د ورځې احوال ذکر شوي او دا ټول د جمعې په ورځ کیږي یاشوي، دا خبره ابن دِحْيَةَ ذکرکړې اونورو علماوو ویلي :
مقصد پکې د تلاوت زیاتي سجدې دي ( په دی سورتونو کې د تلاوت سجدې ډیرې دي ) . ابن ابی شیبه په دې اړه لاندې حدیث له ابراهیم نه روایت کړی )
وأخرج ابن أبي شيبة عن إبراهيم النَّخَعِي أنه قال: يُسْتَحبُّ أن يُقرأَ في الصبح يوم الجمعة بسورة سَجْدَةٌ.
وأخرج أيضاً عنه: أنه قرأَ سورة مريم. وأخرج عن ابن عون. قال: " كانوا يقرؤون في الصبح يوم الجمعة بسورةٍ فيها سجدة " .

ژبا ړه: ابن ابي شيبة له ابراهیم نخعي نه روایت کړی وایي: د جمعې د ورځې د سحر لمانځه کې دسجدې د سورة لوستل مستحب دي او همدا ډول یې روایت کړی،چې نبی صلی الله علیه وسلم به د جمعې د ورځې د سحر په لمانځه کې سورة مریم لوستلو او د ابن عون نه روایت دی: چې صحابوو به د جمعې ورځې د سحر لمانځه کې: هغه سورة لوستلو چې په هغه کې سجدة ( د تلاوة ) وه .
پنځم خصوصیت: د جمعې د سحر لمونځ د الله تعال په وړاندې تر ټولو غوره لمونځ دی.

www.ketabton.com – د پښتو ژبی انلاین کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



( سعید ابن منصور په دې اړه لاندې حدیث نقل کړی.
أخرج سعيد بن منصور، في سننه، عن ابن عمر: " أنه فقد حُمران في صلاة الصبح، فلما جاء قال: ما شَغَلَك عن هذه الصلاة. أما علمت أن أوجَه الصلاة عند الله تعالى، غداة يوم الجمعة، من يوم الجمعة في جماعة المسلمين " . وأخرجه البيهقي. في الشعب مصرِّحاً برفعه بلفظ: " إنّ أفضل الصلوات عند الله صلاة الصبح يوم الجمعة في جماعة " .

ژباړه: سعيد بن منصور په خپل سنن کې له ابن عمر نه روايت کړی : چې هغه نه دوه سَره اوښان د جمعې د سحر لمانځه په مهال ، وُرَ ک شوي وو،کله چې راغی هغه ورته وفرمايل: څه شي مشغول کړی وې له دې لمانځه نه ؟ ايا نه پوهيږې! چې الله تعالی ته ډيرغوره لمو نځ د جُمعې ورځې د سحر دې، چې په جَمعې سره ادا شي. او بيهقي همدا حديث په شعب الايمان کې چې په مرفوع والي د حديث يي تصريح او داسي روايت کړی : د الله په وړاندي تر ټولو غوره لمونځ د جمعې ورځې د سحر دی، چې په جَمعې سره ا داء شي .

( بزاز په دې اړه لاندې حديث روايت کړی )
وأخرج البزار. والطبراني، عن أبي عبيدة بن الجراح. قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " ما من الصلوات صلاة أفضل من صلاة الفجر يوم الجمعة في جماعة، وما أحسب من شهدها منكم إلاّ مغفوراً له " .

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: په لمونځونوکې ترټولو غوره د جمعې د سحر لمونځ دی او ګمان نه کوم چې څوک ورته حاضرشي ببنلی دې رانه شي

شپږم خصوصيت: د جمعې لمونځ دوه رکعة دی او د نورو ورځودماسپښين لمونځونه ،څلورڅلور رکعته دي .
اوم خصوصيت : جمعه له حج سره مساوي ده .

( په دې اړه حميد بن زنجويه او حارث بن ابي اسامه له عباس ( رضی الله عنهما) نه لاندي حديث نقل کړی )

أخرج حميد بن زنجَوَيه، في فضائل الأعمال. والحارث بن أبي أسامة، في مسنده، عن ابن عباس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " الجمعة حج المساكين " .

(c) ketabton.com: The Digital Library


وأخرج ابن زَنجَوَيه، عن سعيد بن المُسيَّب قال: " الجمعة أحبُّ إليّ من حجة تطوّع "

ژباړه : رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي : جُمْعَه د مسکنانو حج ده .

او ابن زنجويه له سعيد ابن المسيب نه روايت کوي وايي: جمعه ماته له نفلي حجه غوره ده .
ا

تم خصوصيت: د جمعې لمونځ په جهر( لوړ اواز) او نورورځني لمونځنه خفيه دی

نهم خصوصيت: د جمعې په لمانځه کې سورة الجمعه او المنافقون لوستل خفيه

( په دې اړه مسلم له ابو هريرة ( رضی الله عنه ) حديث نقل کړی )
أخرج مسلم، عن أبي هريرة قال: " سمعتُ النبيّ صلى الله عليه وسلم يقرأ في الجمعة: بسورة الجمعة، وإذا جاءَكَ المنافقون " .

وأخرجه الطبراني في الأوسط بلفظ: " بالجمعة يُحرِّض بها المؤمنين " وفي الثانية " بسورة المنافقين، يُفزِّع بها المنافقين " .

ژباړه: مسلم له ابو هريرة ( رضی الله عنه) نه روايت نقل کړی : چې ما له نبی صلی الله عليه وسلم نه اوريدلي چې: د جمعې په لمانځه کې به يې سورة جمعة اوسورة اذا جاءک المنافقون لوستلو .

او طبراني په اوسط کې همدا حديث په دې لفظ سره نقل کړی : په سورة جمعه باندې به يې مسلمانان هڅول اوپه دويم رکعت کې به يې د منافقينو په سورة، منافقين ويرول .
لسمه، يولسمه او دولسمه او ديرلسمه ځانګړتيا: د جمعې لمونځ يوازې په جماعت سره کيږی .
لسم ، يولسم او دولسم او ديرلسم خصوصيتونه : د جمعې لمونځ د څلويښتو نفرو په جماعت سره او په يوځای په ښآر کې او د پاچا اجازه، يا مستحب او يا شرط ده ، څنګه چې د فقهي په کتابونوکې ذکرشوي او قوي سند چې ما د څلويښتو نفرو د شرط په اړه ليدلی هغه: د دار قطني حديث دی چې له جابر رضی الله عنه نه يې نقل کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وأقوى ما رأيته للاختصاص بأربعين: ما أخرجه الدار قطني. في سننه، عن جابر بن عبد الله رضي الله عنه قال: " مضت السُّنة في كل أربعين فما فوق ذلك جمعة " .**

ژباړه: تر اوسه دا خبره را روانه ده : چې په څلويښتو اويا زياتو نفرو د جمعې لمونځ لازم دی . **( البته دا د امام سيوطي رح رايه ده )**
څوارلسم خصوصيت: دهغه چا دکور د سوځولو اراده څوک چې د جمعې له لمانځه نه ځان ژغوري :
(په دې اړه حاکم د شيخينو ( بخاري ، مسلم ) له شرط سره سم حديث نقل کړی )

(أخرج الحاكم، وقال: صحيح على شرط الشيخين، عن ابن مسعود رضي الله عنه: " أن النبي صلى الله عليه وسلم قال لقوم يتخلّفون عن الجمعة: لقد هممت أن آمر رجلاً يصلي بالناس، ثم أُحرِّق على قوم يتخلفون عن الجمعة بيوتهم " .

ژباړه: له ابن مسعود نه روايت دی چې نبی صلی الله عليه وسلم د هغه قوم په هکله چې د جمعې لمونځ نه مخالفت کوي فرمايلي : په تېنګه مې قصدکړی چې يو سړي ته امر وکړم څو خلکوته لمونځ ورکړي او بيا د هغو خلکو کورونه وسوځوم، چې دجمعې لمانځه نه مخالفت کوی ( پرېږدی يې )
پنځلسم خصوصيت: څوک چې د جمعې لمونځ پرېږدي دګمراهی مهر يې په زړه لګيږي :

( په دې اړه مسلم له ابن عمر ( رض ) اوله ابو هريرةرضی الله عنه نه حديث نقل کړي )

أخرج مسلم، عن ابن عمر، وأبي هريرة، قالا: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " لَينتهينَّ، أقوام عن ودعهم الجمعات، أو لَيَختِمنَّ الله على قلوبهم ثم لَيكونَنّ من الغافلين "

ژبا ړه : مسلم د ابن عمر او ابو هريرة نه حديث نقل کړ ی چې نبی صلی الله عليه وسلم فرمايلي : کوم قومونه چې دجمعې لمونځ نه کوي ، دا عمل دی پرېږدي اوکه نه، الله به يې په زړونو مهر ولګوي او بيا به د غافلانو له جملې وي .
وأخرج أبو داود، والترمذي، وحسنه، والحاكم وصححه، وابن ماجة، عن أبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



الجعد الضمْريّ، أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: " من ترك ثلاث جمع تهاوناً بها، طبع الله على قلبه "

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي : چا چې درى جمعې ( لمونځ ) د سستئ له كبله پريښود ، الله يې په زړه مهر ولګوي :

حاكم او ابن ماجه له جابر بن عبدالله نه په دې اړه روايت كړى )
وأخرج الحاكم، وابن ماجه، عن جابر بن عبد الله أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: " من ترك الجمعة ثلاثاً، من غير ضرورة طبع الله على قلبه " .
وأخرج سعيد بن منصور، عن أبي هريرة قال: " من ترك ثلاث جمع مِن غير علة، طبع الله على قلبه، وهو منافق "

ژباړه: جابر بن عبدالله له نبى صلى الله عليه وسلم نه روايت كړى: څوک چې درې جمعي ( لمونځ ) بى له ضرورته پريږدې، الله يي په زړه مهر وهي او دا سي شخص منافق دى.

وأخرج عن ابن عمر قال: " من ترك ثلاث جمع متعمداً من غير علة، ختم الله على قلبه بخاتم النفاق "

ژباړه: له ابن عمر رضى الله عنهما نه روايت دي: څوک چې **بي له** ضرورته در ې جمعي ( لمونځ ) قصداً پريږدي، الله يې په زړه مهر د نفاق لګوي .

( اصپهاني په ترغيب كې په دې اړه د ابوهريرة نه حديث نقل كړى )
وأخرج الأصبهاني، في الترغيب، عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " من ترك الجمعة من غير عذر، لم يكن لها كفارة دون يوم القيامة "

ژباړه: نبي صلى الله عليه فرمايلي: څوک چې جمعه ( لمونځ ) بى له عذره پريږدې د دې،كفاره يې د قيامت له ورځي بل شى نشته. ( يعني د قيامت په ورځ به سزا ورته وركولى شي )
وأخرج عن سمُرة. قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " احضروا الجمعة، وادنوامن الإمام، فإن الرجل يتخلّف عن الجمعة، فيتخلّف عن الجنة، وإنه لمن أهلها "

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: جمعي ( لمانځه ) ته حاضرشي او امام ته نږدې کينئ! ځکه چې يوسړى د جُمعي لمونځ ونکړې، له جنة وروسته کيږي او حال داچې داسړى د جنت مستحق وي .

شپاړسم خصوصيت: د جمعي د لمانځه په پريښودلو سره کفاره ورکيدل :
أخرج أحمد، وأبو داود، والنسائي، وابن ماجه، عن سمُرة بن جُندب، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: " من ترك الجمعة من غير عذر، فليتصدق بدينار، فإن لم يجد فبنصف دينار

ژباړه: احمد ، ابوداود اونسايې او ابن ماجه، د سمُرة بن جُندب نه روايت کړى،چې نبى صلى الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې د جمعې لمونځ بى له ضرورته پريږدى ، يو دينار دې صدقه کړي که ورسره نه وي نو نيم دينار دې صدقه کړي.
وأخرج أبو داود، عن قُدامة بن وبرة قال. قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " من فاتته الجمعة من غير عذر، فليتصدق بدرهم، أو نصف درهم، أو صاع حنطة، أو نصف صاع " ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلى: د چانه چې بى له عذره د جمعې لمونځ پاتي شي نو صدقه دي ورکړې يودرهم اويا نيم درهم او يا يوه پيمانه ( څه کم څلورکلو ) غنم اويا نيمه پيمانه غنم .
أُووه لَسم خصوصيت: د جمعي خطبة:
روى الشيخان، عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " إذا قلت لصاحبك: أنصت. يوم الجمعة، والإمام يخطب، فقد لغوت "

ژباړه: نبى صلى الله عليه وسلم فرمايلي: کله چې ته د جمعې په ورځ خپل ملګري ته د خطبې د ويلو په وخت کې ووايې: چپ شه نو عبث کاردې وکړ.( چې له دې سره د جمعې د لمانځه ثواب له منځه ځي )
وأخرج مسلم، عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " من توضأ يوم الجمعة، فأحسن الوضوء، ثم أتى الجمعة، فاستمع، وأنصت، غُفِر له ما بين الجمعة، والجمعة الأخرى وزيادة ثلاثة أيام، ومن مسّ الحصا، فقد لغا " .

همداډول ابوداود په دې اړه داحديث نقل کړى )
وأخرج أبو داود عن عبد الله بن عمرو، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: " من اغتسل يوم الجمعة، ومسّ من طيب امرأته، إن كان لها، ولبس من صالح ثيابه،

www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاين کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثم لم يتخطَّ رقاب الناس، ولم يلغ عند الموعظة، كانت كفارة لما بينهما، ومن لغا، وتخطّى رقاب الناس، كانت له ظُهراً "

ژباړه: نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی: څوک چې د جمعې په ورځ غسل وکړې اودخپلې ښځې خوشبويې بوی ولګوي که ورسره وه ، خپلې ښې جامې واغوندې او بيا د خلکوپه اوږو ولاړنه شي ( د صفونو په منځ کې روان نه شي چې د خلکو په او ږو ټوپونه وهي او ځآن مخې صف ته رسوي ) او د وعظ په وخت کې عبث کار نه کوي، دا عمل د دوجمعو تر منځ د ګناوو کفاره ده.او څوک چې عبث کارونه کوی ( په وخت د خطبې کې ) او دخلکو په اوږ و باندې (مخې صف ته ) ګامونه اخلي د هغه جُمعه ماسپښين ده ( ثواب يې نشته )

( په دې اړه ابن ماجه ، سعید بن منصور د أُبيّ بن كعب. نه حديث نقل کړی )

وأخرج ابن ماجه، وسعيد بن منصور، عن أُبيّ بن كعب. " أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قرأ يوم الجمعة سورة براءة، وهو قائم يُذّكّر بأيام الله. وأبو الدرداء، أو أبو ذَرّ يغمزني، فقال: متى أُنزلت هذه الصورة؟ إني لم أسمعها إلا الآن، فأشار إليه. أن أسكت. فلمّا انصرفوا، قال: سألتك متى أُنزلت هذه الصورة، فلم تخبرني. فقال أُبي: ليس لك من صلاتك اليوم إلاّ ما لغوت، فذهب إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، فذكر ذلك له، وأخبره بالذي قال أُبي، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: صدق أُبي " .

ژباړه: ابی بن کعب ویلي چې: نبی صلی الله علیه وسلم د جمعي په ورځ په ولاړه د براءة سورة لولستله، د الله تعالی د ورځو تاريخ يې بيانولو، ابودرداء او ابوذرماته پټه اشاره کوله: چې دا سورة کله نازل شوی ؟ ماتر" اوسه نه دی اوريدلې، هغه ( أُبی ) ورته اشاره وکړه چې: چپ شه،کله چې هغوی ( دلمانځه نه ) راوګرځيدلو أُبی ته يې وويل: موږ درنه پوښتنه کوله ،چې داسورة څه وخت نازل شوی تا ولي ځواب نه راکولو ؟.ُابی ورته وويل ستا د ( جمعې ) د لمانځه ثواب نشته، هَغه نبی صلی الله علیه وسلم ته ورغی او قصه يي ورته بيان کړه او هغه خبره چې أُبی ورته کړې ( چې د ستا دجمعې د لمانځه ثواب نشته) هم بيان کړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل : أُبی رښتيا وايې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



( همد دا ډول سعيد بن منصور له ابو هريرة رضى الله عنه نه حديث نقل كړى :

وأخرج سعيد بن منصور، عن أبي هريرة قال: " لا تقل سبحان الله، والإمام يخطب

ژباړه: ابو هريرة رضى الله عنه فرمايلي: كله چې امام د جمعي خطبه لولي، داسي مه وايه : سبحان الله.

( همدا ډول سعيد بن منصور له ابن عباس نه په دې اړه روايت كړى )
وأخرج عن ابن عباس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " من تكلم يوم الجمعة، والإمام يخطب، فهو كالحمار، يحمل أسفاراً. والذي يقول له: أنصت. ليس له جمعة " .

ژباړه: نبى صلى الله عليه وسلم فرمايلى: څوک چې د جمعي د خطبې د ويلو په خت كې خبرې كوي، هغه داسي دې لكه په خره چې كتابونه بار وي، او څوک چې ورته ووايي : چپ شه ! د دې سړي هم د جمعې د لمانځه ثواب نشته .

نولسم خصوصيت: كله چې امام په منبر كينې، هرقسمه لمونځ كول حرام دي

( په دې اړه سعيد بن منصور له سعيد بن ا لمسيب نه حديث نقل كړى )

أخرج سعيد بن منصور، عن سعيد بن المسيب قال: " خروج الإمام يقطع الصلاة، وكلامه يقطع الكلام "

ژباړه : سعيد بن المسيب فرمايلى : دامام راوتل هرقسمه لمونځ او خبرې قطع كوي
وأخرج عن ثعلبة بن أبي مالك قال: " كُنّا على عهد عمر بن الخطاب بيوم الجمعة نصلي، فإذا خرج عمر، تحدثنا. فإذا تكلم سكتنا " .

ژباړه: سعيد بن منصورله ثعلبة بن أبي مالك نه روايت كړي: چې موږ به د عمربن الخطاب په زمانه كې د جمعې په ورځ لمونځ كاوو، كله چې به هغه را ووتلوموږ به خبرې كولې او كله چې به هغه خبرې شروع كړې موږ به چپ شو .
قال النووي في شرح المهذب: فإذا جلس الإمام على المنبر حرم ابتداء صلاة

(c) ketabton.com: The Digital Library


النافلة، وإن كان في صلاة خففها بالإجماع. نقله الماوردي وغيره.
قال البغوي: سواء كان صلى السُّنة، أم لا. قال النووي: ويمنع بمجرد جلوس الإمام على المنبر، ولا يتوقف على الأذان. نص عليه الشافعي

ژباړه: امام نووي په شرح تهذيب کې فرمايلي: کله چې امام په منبر کيني، نفل کول حرام دي، او که يې پخوا شروع کړي وو، لنډ دې کړي، په دې اجماع شوې. داخبره الماوردي اونورو ( علماو) نقل کړي . او بغوي ويلي: که سنت لمونځ يې کړی وي اوکه نه .

نووي فرمايلي : کله چې امام په منبر کيني تر اذانه  هم داخبره ( لمونځ نه کول د خطبې په وخت کې )  نه ده. ترلې امام شافعي په هم دې استدلال نيولی .
فائدة: قال سعيد بن منصور: حدثنا هشام. أنبأني أبو معشر، عن محمد بن قيس: " أن رسول الله لما أمر سُليكا أن يصلي ركعتين، أمسك عن الخطبة، حتى فرغ منها

فايده: رسول الله صلى الله عليه وسلم سلُيک ته امر ( دجمعې دخطبې لوستلوپه منځ کې ) وکړ، چې دوه رکعته لمونځ  وکړي،اونبي صلى الله عليه وسلم په دې وخت کې خطبه بنده کړه تر څوچې سلُيک د لمانځه نه فارغ شو .
شلم خصوصيت: د خطبې لوستلوپه وخت ( احتباء )  تکيه کول منع ده

( په دې اړه سيوطي لاندي احاديث نقل کړي )

روى أبو داود، والترمذي، وحسنه، والحاكم وصححه، وابن ماجه، عن معاذ بن أنس: " أن رسول الله صلى الله عليه وسلم: نهى عن الحُبوة يوم الجمعة، والإمام يخطب " .

ژباړه: رسول الله صلى الله عيه وسلم د جمعې د خطبې د ويلو په وخت کې، له تکيې کولو نه  منع فرمايلې .

د خطبې  په وخت کې د تکې کولو په اړه دعلماوو نظرونه.
وقال أبو داود: كان ابن عمر يحتبي والإمام يخطب، وكذلك أنس. وجُلّ الصحابة، والتابعين، قالوا: لا بأس بها. ولم يبلغني أن أحداً كرِهها إلا عُبادة بن نُسَيّ.
وقال الترمذي: كره قوم الحبوة، وقت الخطبة، ورخص فيها آخرون.
وقال النووي في شرح المهذب: لا تكره عند الشافعي، ومالك، والأوزاعي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



وكرهها بعض أهل الحديث. للحديث المذكور، وقال الخطابي: والمعنى أنها تجلب النوم فيعرض طهارته للنقض، وتمنع من استماع الخطبة.

ژباړه: ابو داود فرمايلي : ابن عمر به د جمعې د خطبې د لوستلو په وخت کې تکيه كوله ، همدا ډول أنس او ګڼ شمير غټو صحابوو او تابعينو به هم تکيه كوله، او ويل به يې: د خطبې په وخت کې تکيه كول كوم باک نه لري. او ماته ( ابوداود ) دا خبره نه ده رسيدلې چې چا تکيه مکروه ګرځولې وي، مګر عُبادة بن نُسَيّ. ترمذي ويلي : يوې ډلې علماوو د جمعي دخطبې په وخت کې تکيه مكروه ګرځولې، اوبلې ډلې علماوو رواه ګرځولې. امام نووي په شرح المهذب کې فرمايلي: احتباء په نزد د امام شافعي، مالک او اوزاعي مکروه نه ده او ځينو محديثنو مكروه ګرځولې له وجې دتيرشوي حديثه، او خطابي فرمايلي : مقصد يې دادی، چې تکيه كول خوب راولي چې د اوداسه د ماتيدو ويره ورسره ده او خطبه هم نه شي اوريدلی.

يوشتم خصوصيت: د جمعې په ورځ د استواء په وخت ( د ورځي په نيمايي )کې لمونځ كول مکروه نه دی .
أخرج أبو داود، عن أبي قُتادة، عن النبي صلى الله عليه وسلم: " أنه كره الصلاة نصف النهار، إلا يوم الجمعة، وقال: إن جهنم تُسَجَّر إلا يوم الجمعة " .

ژباړه: ابو داود له أبو قُتادة نه حديث نقل کړی: چې د ورځي په نيمايي کې لمونځ مکروهه دی، مګر دجمعې په ورځ، او فرمايلي يي دي : چې جهنم هره ورځ ګرميږي ، مګر د جمعي په ورځ نه ګرميږی .

دوه ويشتم خصوصيت: دجمعې په ورځ جهنم نه ګرميږی د وجې د تير شوې حديثه

درويشتم خصوصيت: د جمعې لپاره غُسل مستحب دی

( په دې اړه شيخينو له ابن عمر نه روايت کړی )
روى الشيخان: عن ابن عمر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " من جاء منكم الجمعة، فليغتسل " .

(c) ketabton.com: The Digital Library



وأخرجا عن أبي سعيد الخُدري، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: " غُسْلُ الجمعة، واجب على كل مُحتلم " .

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې ستاسو نه جمعې ( لمانځه ) ته راځي نو غسل دي کوي .

همدا ډول، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: د جمعي غسل په هربالغ مسلمان واجب دی .

( حاکم هم په دې اړه د ابو قتادة نه حديث نقل کړی )
وأخرج الحاكم عن أبي قتادة قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: " من اغتسل يوم الجمعة كان في طهارة إلى يوم الجمعة الأخرى " .

ژباړه: حاکم له أبي قتادة نه روايت نقل کړی: چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي: څوک چې د جمعې په ورځ غسل وکړي، تر بلې جمعې به په طهارت (پاکي ) کې وي .

( طبراني په دې اړه له ابو بکر الصديق رضی الله عنه حديث نقل کړی )
أخرج الطبراني، عن أبي بكر الصديق. وعِمران بن حُصين. قالا: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " من اغتسل يوم الجمعة. كُفِّرت عنه ذنوبه وخطاياه، فإذا أخذ في المشي، كُتب له بكل خطوة عشرون حسنة، فإذا انصرف من الصلاة أُجيز بعمل مائتي سنةٍ " .

ژباړه:رسول الله صلى الله عليه سلم فرمايلي: څوک چې د جمعې په ورځ غسل وکړي، هغه ته ګناهو نه اوخطاګانې وربښل کيږي اوکله چې د جمعې لمانځه ته روان شي، په هر قدم ورته شل نيکۍ ليکلی شي، چې کله بيا راستون شي نو د دوسو کال د عبادة بدله ورکول کيږي.

وأخرج بسند رجاله ثقات،عن أبي أُمامة، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: " إن الغُسل يوم الجمعة ليستل الخطايا من أصول الشَّعْرِ استلالاً "

ژباړه: نبی صلى الله عليه وسلم فرمايلي: د جمعي په ورځ غسل کول ، ګناوي د ويښتانو د بيخونونه راوباسي .
څلورويشتم خصوصيت: د جمعي ورځې غسل دوه اجرلري :

(c) ketabton.com: The Digital Library


وأخرج سعيد بن منصور في سننه، عن مكحول: " أنه سُئل عن الرجل يغتسل من الجنابة يوم الجمعة، قال: من فعل ذلك كان له أجران "

ژباړه: سعيد بن منصور په خپل سنن کې له مکحول نه روايت کړی، چې د هغه نه د داسي سړی په هکله چې دجمعي په ورځ د جنابت نه غسل وکړی پوښتنه وشوه: هغه ورته وويل: څوک چې داسي وکړي، هغه لره دوه اجره دي
پنځويشتم ،تر نهويشتمه پورې، استحباب د مسواک اود خوشبويې او دتيلو استعمالول او د نوکانو او ويښتانوپريکول دي .
( بخاري، مسلم په دې اړه له ابو سعيد خدري نه حديث نقل کړی )
أخرج الشيخان، عن أبي سعيد الخُدري قال: أشهد على رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: " الغسل يوم الجمعة واجب على كل محتلم، وأن يستنّ، وأن يمسّ طيباً إن وجد "
وأخرج ابن أبي شيبة في المصنف، عن رجل من الصحابة، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: " ثلاث حقّ على كل مسلم: الغسل يوم الجمعة، والسواك، وأن يمس من طيب إن وجد

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: د جمعي په و رځ په هرمسلمان بالغ غسل واجب دی، د مسواک وهل او استعمال د خوشبويي که څوک يي لري، سنت دي ابن ابي شيبه په خپل کتاب المصنف کې د يو صحابي نه چې هغه له نبی صلی الله عليه وسلم نه روايت نقل کړی چې: درې شيان په هرمسلمان لازم دي، د جمعي د ورځې غسل، مسواک او استعمال د خوشبويي که يي درلودله .
وأخرج البخاري، عن سلمان قال: قال النبي صلى الله عليه وسلم: " لا يغتسل رجل يوم الجمعة، ويتطهر ما استطاع من طهر، ويدَّهن من دهنه، أو يمسّ من طيب بيته، ثم يخرج، فلا يُفرّق بين اثنين، ثم يصلي ما كُتب له، ثم يُنصت إذا تكلم الإمام إلا غفر له ما بينها، وبين الجمعة الأخرى "

ژباړه: نبی صلی الله عليه وسلم فرمايلي: کوم سړی چې دجمعې په ورځ په ښه توګه غُسل وکړي او خشبويه تيل استعمال کړي او يا د خپل کور خوشبويي استعمال کړي بيا راووځي او د دو نفرو تر منځ جداوالی (په صف کې ) رانه ولي اوبيا لمونځ وکړي څومره چې ورته مقرر وي بيا پټه خوله شي کله چې امام خبرې ( خطبه ) شروع کړي، الله تعالي ورته د دی جمعي او دراتلونکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترمنځ ګناهونه ببښي .
وأخرج الحاكم عن ابن عباس، أن النبي صلى الله عليه وسلم قال يوم الجمعة: " أيها الناس. إذا كان هذا اليوم، فاغتسلوا، وليمس أحدكم أطيب ما يجد من طيبه، أو دهنه " .
وأخرج البزار، والطبراني في الأوسط، والبيهقي في شعب الإيمان: " أن رسول الله صلى الله عليه وسلم، كان يقلم أظفاره، ويقص شاربه، يوم الجمعة، قبل أن يخرج إلى الصلاة " .
وأخرج في الأوسط، عن عائشة. قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " من قلّم أظفاره يوم الجمعة، وُقيَ من السوء إلى مثلها " . قال: " كان أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم يقولون: " من اغتسل يوم الجمعة، واستاك، وقلم أظفاره، فقد أوجب " .
وأخرج عن مكحول قال: " من قص من أظفاره، وشاربه يوم الجمعة، لم يمت من الماء الأصفر "

ژباړه: نبی صلی الله علیه د یوې جمعې په ورځ وفرمایل: ای خلکوکله چې دا ورځ شي غسل کوي او هر یوستاسو دي ترټولو ښه خوشبويي او یا تیل استعمال کړي . اوبزاز ، طبراني په اوسط کې او بیهقي په شعب الایمان کې یوحدیث نقل کړی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم به د جمعې په ورځ مخکې دلمانځه نه خپل نوکان پریکول او بریتونه به یي کمول .

اوطبراني په اوسط کې د عائشې رضی الله عنها نه حدیث نقل کړی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: څوک چې د جمعي په ورځ خپل نوکان پری کړي، تر بلې جمعې پوري به له مصیبت نه په امن کې وي .

اوطبراني ویلی چې د رسول الله صلی الله علیه اصحابو به فرمایل: څوک چې د جمعي په ورځ غسل وکړي ، مسواک ووهي او نُوکُونه پرې کړي جنت ورته واجب شو .

اوطبراني له مکحول نه روایت کړی: څوک چې دجمعې په ورځ خپل نوکان پرې او بریتونه کم کړي نوپه زیړي به نه مړ کیږي .

دیرشم خصوصیت : د جمعي په ورځ تر ټولو غوره جامي اغوستل مستحب دي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



أخرج أحمد، وأبو داود، والحاكم، عن أبي سعيد، وأبي هريرة، أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: " من اغتسل يوم الجمعة، واستن، ومس من طيب، إن كان عنده، ولبس من أحسن ثيابه ثم خرج حتى يأتي المسجد، ولم يتخطّ رقاب الناس، ثم ركع ما شاء الله أن يركع، وأنصت إذا خرج الإمام، كانت كفارة لما بينها، وبين الجمعة، التي قبلها " .

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: څوک د جمعې په ورځ غسل وکړي اومسواک ووهي اوخشوبويي استعمال کړي که يي لرله، اوترټولوغوره جامې واغوندې او له کوره راووځي، جمات ته ولاړشي او ( په جمات کې ) د خلکو په سرونه وانه وړي ، بيا ( نفلي ) لمونځ وکړي څومره چې د الله رضاء وي او چپ ناست وي ترڅو چې امام راووځي، داکارکفاره د هغوګناوو ده چې د دې جمعې اوتيرې جمعې ترمنځ ورنه شوې وي .

( په دې اړه لاندني احاديث له مختلفومحدیثينو روايت شوي )

وأخرج البيهقي عن جابر بن عبد الله قال: " كان للنبي صلى الله عليه وسلم بُرْدٌ يلبسه في العيدين والجمعة " .
وأخرج أبو داود، عن ابن سلام. أنه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: " ماعلى أحدكم إن وجد، أن يتخذّ ثوبين، ليوم الجمعة، سوى ثوبي مهنته " .
وأخرج ابن ماجه مثله، من حديث عائشة. والبيهقي في الشعب مثله من حديث أنس.
وأخرج الطبراني في الأوسط عن عائشة قالت: " كان لرسول الله صلى الله عليه وسلم ثوبان، يلبسهما في جمعته، فإذا انصرف طويناهما إلى مثله " .
وأخرج في الكبير، عن أبي الدرداء قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم " إن الله وملائكته يصلون على أصحاب العمائم يوم الجمعة "

ژباړه: بيهقي له جابر بن عبدالله نه روايت نقل کړی وايي: د رسول الله صلى الله عليه وسلم يوڅادر و، چې هغه به يې د اخترونو او جمعو په ورځو کې اغوستلو. ابوداود د ابن سلام نه روايت کړی ، وايي ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي چې ويل به يې: که ستاسي کوم يو د جمعې لپاره دوه جامې ولري، پرته دکار کولو د جامو نه، دا کومه ګناه نه لري .

اوابن ماجه هم په دی ډول له عائشې ( رضی الله تعالی عنها ) نه روايت کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیهقي په شعب الایمان کې همد اډول حدیث له انس نه روایت کړی.

اوطبراني هم په اوسط کې له عائشې نه روایت کړی: چې د رسول الله صلی الله علیه دوه جوړه جامې وې، چې هغه به یي د جمعې لپاره اغوستلې،کله به چې واپس راغی موږ به هغه سره تاوکړې .

اوطبراني په الکبیر کې له ابو درداء نه روایت کړی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي : الله اوملائکې دجمعې په ورځ د پټکوپه څښتنانوته دعاکوي.

یودیرشم خصوصیت : دجومات پاکي او صفایي :
أخرج الزبیر بن بكّار. في أخبار المدینة، من مرسل الحسن بن الحسن بن علي: " أن رسول الله صلى الله علیه وسلم: أمر بإجمار المسجد. یوم الجمعة "

ژبا ړه: رسول الله صلی الله علیه سلم: دجمعې په ورځ د مسجد د پاکولولاربښونه کړې.
وأخرج ابن ماجه من مرسل مكحول، عن، واثلة بن الأسقع. قال: قال رسول الله صلى الله علیه وسلم: "جنبوا مساجدكم صبیانكم، ومجانینكم، وشراءكم، وبیعكم، ورفع أصواتكم، وسلاحكم، وجمّروها كل جمعة " .

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: جماتونه مو له کوچنیانو ، لیونیو ، پیرودلو او پلورلو وساتئ .

دوه دیرشم خصوصیت : په اول وخت کې د جمعې لمانځه ته تلل:
( په اړه شیخینو له انس او ابوهریرة او ابن ماجه او بیهقي له ابن مسعود او سعید بن منصور له ابن مسعود ( رضی الله عنهم ) احادیث نقل کړي )
روى الشیخان عن أنس قال: " كنا نُبكر بالجمعة، ونقیل بعد الجمعة " .
وأخرج الشیخان، عن أبي هریرة، أن رسول الله صلى الله عله وسلم قال: " من اغتسل یوم الجمعة، ثم راح في الساعة الأولى، فكأنما قرّب بدنةً، ومن راح في الساعة الثانیة، فكأنما قرّب بقرة، ومن راح في الساعة الثالثة فكأنما قرّب كبشاً

(c) ketabton.com: The Digital Library



أقرن، ومن راح في الساعة الرابعة، فكأنما قرّب دجاجةً، ومن راح في الساعة الخامسة، فكأنما قرّب بيضةً، فإذا خرج الإمام حضرت الملائكة، يستمعون الذكر " .

وأخرج البخاري عن أبي هريرة، أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: " إذا كان يوم الجمعة، كان على كل باب من أبواب المسجد ملائكة يكتبون: الأول فالأول. فإذا جلس الإمام، طوَوا الصحف، وجاءوا يستمعون الذكر " .

وأخرج ابن ماجه، والبيهقي، عن ابن مسعود: " أنه أتى الجمعة، فوجد ثلاثة سبقوه. فقال: رابع أربعة، وما رابع أربعة ببعيد، إني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: " إن الناس يجلسون من الله يوم القيامة على قدر رواحهم إلى الجمعات. الأول ، والثاني والثالث " . قال البيهقي: قوله من الله. أي من عرشه، وكرامته .

ژباړه: شیخینو له انس نه روایت کړی چې : موږ به د جمعې لمونځ په اول وخت او خوب لمانځه نه وروسته کولو اوهمدا ډول شیخینو له ابوهریرة رضی الله عنه نه روایت کړی چې: رسول الله صلی ا لله علیه وسلم فرمایلي: څوک چې د جمعې په ورځ غسل وکړي بیا په اول ساعت کې مسجد ته ولاړشي، داسي مثال لري لکه یوه اوښه یې چې خیرات کړې وي او څوک چې په دویم ساعت کې مسجد ته ولاړشي لکه یوه غوا یې چې خیرات کړي وي او څوک چې په دریم ساعت کې مسجد ته ولاړشي لکه چې یو پُسه خیرات کړي او څوک چې په څلورم ساعت کې مسجد ته ولاړشي لکه یوه چرګه چې خیرات کړي او څوک چې په پنځم ساعت کې مسجد ته ولاړشي، لکه چې یوه اګې خیرات کړي. او کله چې امام راووځي ملائکې حاضرې شي ذکر ( خطبه ) اوري .

بخاري له ابو هریرة رضی الله عنه نه حدیث روایت کړی: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: کله چې د جمعې ورځ شي د جماتو په هره دروازه ملائکې ولاړې وي داسي لیکې : اول اول دی کله چې امام په منبرکینې ملائکې خپل دفتر ټول کړي ،راشي خطبه اوري. ابن ماجه، بیهقي له ابن مسعود نه روایت کړی: چې هغه مسجد ته راغی، دری کسان ترې ړومبي وو وې ویل د څلور څلورم او څلورم له څلور لري نه دی او ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي : چې خلک به د قیامت په ورځ د الله په حضور کي په اندازه د تلو جمعو ته کیني ، اول ، دویم ،دریم . " اوبیهقي ویلي: دا قول

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ابن مسعود: من الله ،مطلب يي: عرش د الله ته نزديوالي اوكرامة ( عزت ) د الله تعالى دى.

وأخرج سعيد بن منصور، عن ابن مسعود قال: " باكروا في الغداة بالدنيا إلى الجمعات، فإن الله يبرز لأهل الجنة يوم الجمعة على كَثيب من كافور أبيض، فيكون الناس عنده في الدنو كغدوهم في الدنيا إلى الجمعة. "
وأخرج حُميد بن زنجويه، في فضائل الأعمال: عن القاسم بن مُخيمرة. قال: " إذا راح الرجل إلى المسجد كانت خطاه. بخطوة درجة، وبخطوة كفارة، وكُتب له بكل إنسان جاء بعدُ. قيراطٌ، قيراطٌ. "

ژبا ړه: سعيد بن منصور له ابن مسعود نه روايت کړی چې هغه فرمايلي : په دنيا کې د جمعې لمونځونو ته په وخت ولاړشي ځکه چې الله تعالى به د قيامت په ورځ اهل جنت ته د جمعې په ورځ د کافورو په غونډې د پاسه راڅرګند شي خلک به د هغه په حضور کې د جمعې د تګ په اندازه ( په دنيا کې ) نزدې وي .

( په اړه حميد بن زنجويه په فضائل الاعمال کې د قاسم بن مخيمره حديث روايت کړی : چې کله يو سړی د جمعې لمانځه ته په وخت ولاړشی په هرقدم ورته يوه درجه ، ( د نيکۍ ) ده او په هر قدم ورته يوه ګناه ببنلې شي او هرچا ته چې له دې وروسته راشي د يو قراط ( د سرو زرو ) اجر دی .درې ديرشم خصوصيت: په اوړې کې د نورو لمنځونو لپاره د هوا يخوالې مستحب دی او د جمعې لپار ه داخبره مستحب نه ده بلکې په اول وخت کې به کولی شي.

أخرج البخاري عن أنس: " كان النبي صلى الله عليه وسلم إذا اشتد الحر، أبرد بالصلاة، بغير الجمعة "

ژباړه: رسول الله صلی الله عليه وسلم به کله چې ګرمي سخته وه لمونځ يي د هوا د يخوالی ته ناوخته کولو او د جمعې لمونځ به يي په سخته ګرمي کې هم په اول وخت کې کولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


څلور دیرشم خصوصیت: د غرمې خوب او ډوډۍ د جمعې دلمانځه نه وروسته ( په دې اړه شیخانو له سهل بن سعد او سعید بن منصور د محمد بن سیرین نه روایتونه نقل کړي :

أخرج الشيخان، عن سهل بن سعد. قال: " ما كنا نقيل، ولا نتغدى إلا بعد الجمعة " .

وأخرج البخاري عنه قال: " كنا نصلي مع النبي صلى الله عليه وسلم الجمعة، ثم تكون القائلة " وأخرج سعيد بن منصور، عن محمد بن سيرين. قال: " يُكره النوم قبل الجمعة، ويُقال فيه قولاً شديداً، وكانوا يقولون: مَثله مَثل سريّة أخفقوا .وتدري ما أخفقوا؟ لم يصيبوا شيئاً "

ژباړه: شیخینو له سهل بن سعد نه حدیث نقل کړی: چې موږ به د غرمی ډوډۍ او خوب د جمعې لمانځه نه وروسته کولو .

بخاري له سهل نه روایت کړی : چې موږ به د نبی صلی الله علیه وسلم سره لمونځ وکړو بیا به مو د غرمي خوب کولو .

سعید بن منصور له محمد ابن سیرین نه حدیث نقل کړی: وایي جمعې لمانځه نه مخکې خوب کول مکروه دی اوپه دې باره کې سختي خبرې ویل شوې ( د عذاب په هکله یې ) اوصحابوو به ویل: څوک چې مخکې د جمعې خوب کوي داسي مثال لري، لکه سریه ( چې پټه حمله) کې هیڅ شی تر لاسه نکړي.

پنځه دیرشم خصوصیت: د جمعې لمانځه ته چې څوک ځي په هرقدم ور ته د یوکال اجرورکولی شي .

أخرج أحمد، والأربعة، والحاكم، عن أوس بن أوس الثقفي. قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: " من غسل يوم الجمعة، واغتسل، ثم بكّر، وابتكر، ومشى، ولم يركب، ودنا من الإمام، واستمع، ولم يلغ، كان له بكل خطوة، عمل سنةٍ، أجر صيامها وقيامها "

ژباړه : احمد اوڅلورو نورو اوحاکم له اوس بن اوس ثقفي نه روایت نقل کړی ، چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي: څوک چې د جمعې په ورځ غسل وکړي او په بل چا هم غسل وکړي، او ( دجمعې لمانځه ته ) په وخت ولاړشي او نوروته هم د وختي تلو لارښوونه وکړي او ( مسجد ته) چې ولاړ شي ) د خلکوپه اوږو ( په مسجدکې ) وانه وانه وړي امام ته نزدې

(c) ketabton.com: The Digital Library


کښني ، خطبه واوري او عبثيات ونکړي، په هر قدم ورته د يو کال دروژو اولمنځونو د عبادت اجر دی.
وأخرج حميد بن زنجويه، في فضائل الأعمال، عن يحيى بن يحيى الغسّاني. قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " مشيك إلى المسجد، وانصرافك إلى أهلك، في الأجر سواء

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: مسجد ته ستا تګ او کورته راتلل په اجرکې سره برابر دي
شپږ ديرشم خصوصيت: د جمعې لپاره دوه اذانه دي او د نورو لمنځونو لپاره يو اذان دی، او د سحرد لمانځه په اذان کې داکلمات هم ويل کيږي: الصلوة خيرمن النوم
( په دې اړه امام بخاري له سائب بن يزيد نه حديث نقل کړی )
أخرج البخاري، عن السائب بن يزيد. قال: " كان النداء يوم الجمعة، أوَّله إذا جلس الإمام على المنبر، على عهد رسول الله، صلى الله عليه وسلم، وأبي بكر، وعمر، فلما كان عثمان. وكثر الناس، زاد النداء الثاني على الزو[1]راء. فثبت الأمر على ذلك " .

ژباړه: د رسول الله صلى الله عيه وسلم په زمانه کې به د جمعې په ورځ اذان هغه وخت کيدلو کله چې به امام د خطبې لپاره په منبر کيناستو همداسي تر زماني د عمر پورې و،کله چې د عثمان رضى الله عنه زمانه شوه، خلک زيات شول، دويم اذان زيات شو چې عدول وشونو همدا سلسله تر اوسه ثابته پاتې شوه .

اووه ديرشم خصوصيت: دجمعې په ورځ عبادت کول تر ټو چې خطيب راوزي په دې اړه مخکې اثر دثعلبه ذکر شو.

اته ديرشم خصوصيت: د جمعې په ورځ د سورت کهف لوستل :
( په دې اړه سيوطي له ابو سعيد خدري او ابن عمر او علي رضى الله تعالى عنهم نه احاديث نقل کړ ي )
أخرج الحاكم، والبيهقي، عن أبي سعيد الخدري، عن النبي صلى الله عليه وسلم

[1]: والزّوْراءُ دِجْلة بَغْداذَ. وقد ازْوَرَّ عن الشيءِ ازْوِراراً أي عدَل عنه وانْحَرَف: مختار الصحاح ،ج ۱، ص ، ۱۳۵-
للمؤلف : زين الدين الرازی-

(c) ketabton.com: The Digital Library



قال: " من قرأ سورة الكهف يوم الجمعة، أضاء له ما بين الجمعتين " .
وأخرج ابن مردويه، عن ابن عمر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " من قرأ سورة الكهف يوم الجمعة، سطع له نور من تحت قدميه إلى عنان السماء يضيء له إلى يوم القيامة، وغُفر له ما بين الجمعتين " .
وأخرج الضياء في المختارة، عن علي قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " من قرأ الكهف يوم الجمعة، فهو معصوم إلى ثمانية أيام، وإن خرج الدجال عَصِم منه " .

ژباړه: نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي : څوک چې د جمعې په ورځ دکهف سورة ووايې،الله تعالى ورته روښانه کوي  د دواړ و جمعو تر منځ . ( يعني د دی دواړو جمعو ترمنځ کوم مشکل وربآندی نه راځی والله اعلم ) ابن مردويه د ابن عمر نه حديث روايت کړی، چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې دکهف سورة د جمعې په ورځ ولولي، د هغه د پښو لاندې به رڼا ځليږې، چې د اسمان ترلمنو رسيږې او تر قيامته به ځليږی او د دی دو جمعو ترمنځ يې چې کومې ګناوې کړی وي هغه ورته ښښل کيږي.

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې د جمعې په ورځ د کهف سورة لولي، هغه به  تر اتو ورځو  په امن  وي اوکه دجال راووځي، د هغه له شره به هم غمه وي .
نهديرشم خصوصيت: دجمعې په شپه  دکهف دسورې لوستل .

أخرج الدّارمي. في مسنده، عن أبي سعيد الخدري قال: " من قرأ سورة الكهف ليلة الجمعة أضاء له من النور، فيما بينه، وبين البيت العتيق.

ژباړه: دارمي په خپل مسند کې له ابو سعيد خدري نه روايت نقل کړی: څوک چې دجمعې په شپه د کهف سورت لولي، يوډول رڼا به  ورته ځرګنده شي، چې د ده او د بيت الله ترمنځ به وي (يعنی دومره ځلا اونور به ورته الله تعالی ورکړي ، لکه د بيت العتيق  ( بيت الله ) او د ده ترمنځ  چې څومره فاصله وي .

څلويښتم خصوصيت: د اخلاص د سورې ( قل هوالله احد الخ ) او معوذتينو ( قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس )  لوستل او وروسته د فاتحې  ( الحمد لله ) لوستل .( په دې اړه ابو عبيد، ابن الضريس په فضائل القرِآن کې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسماء بنت ابي بكر نه لاندې اثر نقل كړی )
أخرج أبو عبيد، وابن الضريس، في فضائل القرآن، عن أسماء بنت أبي بكر.
قالت: " من صلى الجمعة، ثم قرأ بعدها: قل هو الله أحد، والمعوذتين، والحمد.
سبعاً، سبعاً. حُفظ من مجلسه ذلك إلى مثله "

ژباړه: اسماء رضی الله عنهاد ابوبكر رضی الله عنه لور ويلي: څوک چې د جمعې لمونځ وكړي بيا ورپسې وروسته قل هو الله احد او معوذتين او الحمد لله ۷ كرته هريو ولولي د دې مجلس نه تر بل هم داسي مجلسه ( بلې جمعې ) به په امن وي .
وأخرج سعيد بن منصور، عن مكحول. قال: " من قرأ فاتحة الكتاب، والمعوذتين، وقل هو الله أحد، سبع مرات يوم الجمعة. قبل أن يتكلم، كفر عنه ما بين الجمعتين، وكان معصوماً "
وأخرج حميد بن زنجويه. في فضائل الأعمال، عن ابن شهاب. قال: " من قرأ: قل هو الله أحد، والمعوذتين. بعد صلاة الجمعة، حين يسلّم الإمام، قبل أن يتكلم. سبعاً، سبعاً، كان مضموناً هو، وماله، وولده، من الجمعة إلى الجمعة " .

ژباړه: سعيد بن منصور له مكحول نه نقل كړي: څوک چې فاتحة الكتاب ( الحمد لله ) او معوذتين ( فلق او الناس ) قل هوالله احد، ۷ كرته د جمعې په ورځ مخكې د خبرو كولو ( سحر وختي ) ووايې، هغه ګناوي كومي چې يې د دو جمعوتر منځ كړي وي، وربښل كيږي او هغه به په امن كې وي .

وأخرج حميد بن زنجويه. في فضائل الأعمال، عن ابن شهاب. قال: " من قرأ: قل هو الله أحد، والمعوذتين. بعد صلاة الجمعة، حين يسلّم الإمام، قبل أن يتكلم. سبعاً، سبعاً، كان مضموناً هو، وماله، وولده، من الجمعة إلى الجمعة " .

ژباړ: حميد بن زنجويه په فضايل اعمال كې له ابن شهاب نه نقل كړي: چې څوک ۷كرته قل هوالله احد او معوذتين د جمعې لمانځه نه وروسته ،كله چې امام سلام وګرځوي مخكې له خبرو كولو نه ولولي، دا شخص، مال او اولاد به يي تر بلې جمعې پورې په ضمانت ( ساتنې د الله ) كې وي .
يوڅلويښتم خصوصيت: د قل يا ايهاالكافرون او د اخلاص دسورې د جمعې د شپې د ما ښام په لمانځه كې لوستل -

(c) ketabton.com: The Digital Library



( په دې اړه بيهقي په خپل سنن کې له جابر بن سمرة نه حديث نقل کړی )
أخرج البيهقي في سننه، عن جابر بن سمرة. قال: " كان النبي صلى الله عليه وسلم يقرأ في صلاة المغرب ليلة الجمعة: قل يا أيها الكافرون، وقل هو الله أحد، وكان يقرأ في صلاة العشاء الآخرة ليلة الجمعة: سورة الجمعة والمنافقين "

ژباړه: نبی صلی الله عليه وسلم به د جمعې د شپې د ماښام په لمانځه کې قل يا الكافرون او قل هو الله احد او د جمعې د ماخستن په لمانځه کې به يې د جمعې سورة او د المنافقون سورة لوستلې.

دوڅلويښتم خصوصيت : د جمعې او د المنافقون سورة د جُمعې د ماخستن په لمانځه کې لوستل د تېر شوي حديث په اساس .

درې څلويښتم خصوصيت: د جمعې لمانځه نه ړومبی جومات کې دخلکو حلقه جوړيدل منع دی.
( په دې اړه ابو داود له عمروبن شعيب نه حديث نقل کړی )
أخرج أبو داود من طريق عمرو بن شعيب، عن أبيه، عن جده: " أن النبي صلى الله عليه وسلم نهى عن التحلق قبل الصلاة يوم الجمعة " ..

ژباړه: نبی صلی الله عليه وسلم د جمعې په ورځ په جومات کې لمانځه نه مخکې د حلقې له جوړولو منع فرمايلې.

قال البيهقي: يكره التحلق في المسجد إذا كانت الجماعة كثيرة، والمسجد صغيراً، وكان فيه منع المصلين من الصلاة

ژباړه: بيهقي ويلي: په مسجد کې حلقه جوړول هغه وخت مکروه دي ، چې کله خلک ډير وي او مسجد وړوکې وي او په حلقه جوړلو کې خلق لمانځه کولو ايساريږي

څلورڅلويښتم خصوصيت: د جمعې لمانځه نه مخکې سفر کول حرام دی
( په دې اړه ابن ابي شيبه له حسان بن عطية نه روايت کړی )

أخرج ابن أبي شيبة، عن حسان بن عطية. قال: " إذا سافر يوم الجمعة، دُعي عليه، أن لا يُصاحب، ولا يُعان على سفره "

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: کله چې د جمعي په ورځ یوڅوک سفر وکړ ي دا سې ښيرا ورته شوې : چې نه دې ملګرې ورپيداشي او نه دې په سفر کې کومک ورسره وشي .

وأخرج الدينوري. في المجالسة، عن سعيد بن المسيب: " أن رجلاً أتاه يوم الجمعة، يودعه لسفر، فقاله: لا تُعجل حتى تصلي، فقال: أخاف أن تفوتني أصحابي، ثم عجل، فكان سعيد، يسأل عنه، حتى قدم قوم، فأخبروه: أن رجله انكسرت، فقال سعيد: إني كنت أظن، أن سيصيبه ذلك " .

ژباړه: دينوري په مجالسة (كتاب) كې له سعيد بن المسيب نه روايت کړی چې: يوسړی هغه ته دجمعې په ورځ راغی، چې رخصت ترې واخلي، هغه ورته وويل: بيړه مکوه! څو د جمعي لمونځ وکړې، سړي ورته وويل : ويريږم چې ملګري رانه ولاړ نه شي. بيا يې بيړه وکړه ( په سفر روان شو ) نو سعيد به د هغه سړي پو ښتنه کوله تر څو چې هغه ( سړی ) يو قوم ته ورسيدو هغو سعيد ته خبر ورکړ چې : د دې سړي پښه ماته شوه ، سعيد وويل : ما هم دا ګمان کولو چې دا به ورته رسيږي.

وأخرج عن الأوزاعي، قال: " كان عندنا صياد، فكان يخرج في الجمعة، لايمعنه أداء الجمعة من الخروج، فخُسف به، وببغلته، فخرج الناس، وقد ذهبت بغلته في الأرض، فلم يبقى منها، إلا أذناها، وذنبها. " "

ژباړه: دينوري د اوزاعي نه نقل کړي دي: چې زموږ په خوا کې يو ښکاري و، چې د جمعې په ورځ به ښکار ته وتلو او د جمعي لمونځ به دهغه ښکارته مانع نه و ( او هغه به نه کولو ) په هغه او د هغه په کچره ځمکه وغورځيدله، چې کله خلک ورته راووتل، دکچرې يې يوازې غوږونه او لکۍ پاتي وو.
وأخرج ابن أبي شيبه، عن مجاهد: " أن قوماً، خرجوا في سفر، حين حضرت الجمعة، فاضطرم[2]عليهم خباؤهم، ناراً، من غير نار يرونها " .

ژباړه: ابن ابي شيبه له مجاهد نه روايت کړی چې: يو قوم د جمعې د لمانځه په وخت کې په سفر روان شول ( لمونځ يې ونکړ ) نو اُور وربانديې بل شو دوی په اور کې پټ شول په داسي شکل سره، چې دوی اور نه ليدلو ) ( والله اعلم )

---

[2] اضطمرت، ای : التهبت. مختارالصحاح ، ج، ١، ص-١٨١، في : ض، ر، م ، -المكتبة الشاملة ، الاصدار الثاني

www.ketabton.com – د پښتو ژبی انلاین کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library


پنځه ځلوينتم خصوصيت: په جمعه کې ګناهونه ښنل کيږي .
(په دې اړه ابن ماجه له ابوهريرة او سلمان نه احاديث نقل کړي )
أخرج ابن ماجه، عن أبي هريرة. قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " الجمعة إلى الجمعة، كفارة لما بينهما، ما لم تغش الكبائر " .
وأخرج عن سلمان قال: " قال لي رسول الله صلى الله عليه وسلم: أتدري ما يوم الجمعة؟ قال: الله ورسوله أعلم. قال: هو اليوم الذي جمع الله فيه بين أبويكم. لا يتوضأ عبد فيحسن الوضوء، ثم يأتي المسجد لجمعة إلا كانت كفارة لما بينها وبين الجمعة الأخرى ما اجتنبت الكبائر "

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلى: يوه جمعه تر بلې د منځنيو ورځو دګناهونو کفاره ده خو چې دغټو ( کبيره) ګناوو نه ځان وساتلى شي او د سلمان حديث يې هم نقل کړی، سلمان ويلي چې ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ته پوهيږې ! چې د جمعې ورځ څه شي ده ؟ سلمان ور ته وويل : الله او دهغه رسول تر هرچا ښه پوهه دي، هغه وفرمايل : څوک چې د جمعې په ورځ په ښه طريقه سره اودس وکړي بيا مسجد ته د جمعې د لمانځه لپاره ولاړشي دا سبب د ښنلو د هغه د ګناوو ګرځي کوم چې د دواړو جمعو تر منځ يې کړې وي خو چې د کبيره ( غټو) ګناوو نه ځان وساتي.

شپږځلوينتم خصوصيت: څوک چې د جمعې په ورځ، شپه وفات شي، د قبر له عذابه په امن وي .
( په دې اړه ابويعلى د انس حديث نقل کړی )
أخرج أبو يعلى، عن أنس قال: قال رسو الله صلى الله عليه وسلم: " من مات يوم الجمعة، وُقي عذاب القبر "

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلې: څوک چې د جمعې په ورځ وفات شي دقبر له عذابه په امن کړی شي .
وأخرج البيهقي في كتاب القبر، عن عكرمة بن خالد المخزومي. قال: " من مات. يوم الجمعة، أو ليلة الجمعة، خُتم له بخاتم الإيمان، ووقي عذاب القبر " .

ژباړه: بيهقي په کتاب القبر کې له عکرمه بن خالد مخزومي نه روايت نقل کړی چې: څوک د جمعې په ورځ يا شپه وفات شي خاتمه به يې ايمان سره وي او د قبر له عذابه نه به خوندي وي .
أُووه ځلوينتم خصوصيت : څوک چې د جمعې په ورځ يا شپه وفات شي په

(c) ketabton.com: The Digital Library


قبر کې ورنه سوال اوځواب نه کيږي .
( په دې اړه امام ترمذي ، بيهقي ، ابن أبي الدنيا.اونورو له عمرو نه روايت نقل کړى )
أخرج الترمذي، وحسنه. والبيهقي، وابن أبي الدنيا. وغيرهم، عن ابن عمرو، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " ما من مسلم يموت ليلة الجمعة، أو يوم الجمعة إلا وقاه الله فتنة القبر " وفي لفظ: " إلا برئ من فتنة القبر " وفي لفظ: " إلا وقي الفتّان " . وقال الحكيم الترمذي: وحكمته أنه انكشف الغطاء عمّا له عند الله، لأن جهنم لا تسجر في هذا اليوم، وتغلق فيه أبوابها، ولا يعمل فيه شيطانها. ما يعمل في سائر الأيام، فإذا قبض الله فيه عبداً، كان دليلاً لسعادته، وحسن مآبه، وأنه لم يقبض في هذا اليوم العظيم، إلا من كتب له السعادة عنده، فلذلك يقيه فتنة القبر، لأن سببها إنما هو ، تمييز المنافق من المؤمن .

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: کوم مسلمان چې د جمعي په شپه او يا ورځ وفات شي، الله تعالى يې د قبره له عذابه خوندي ساتې او په يو لفظ دحديث کې راغلي چې وبه ساتل شي د فتنې دقبره او په بل لفظ د حديث کې راغلي چې وبه ساتل شي د الفتيان ( فتنې ) د قبر نه .

حکيم ترمذي فرمايلي: د دې خبرې حکمت دادې: چې پرده به پورته شي له هغه څه نه چې الله سره دي ، ځکه چې په دى ورځ جنهم نه ګرميږ ي او دروازي يې په دى ورځ بندې وي اوشيطان په دې ورځ کې کار نه شي کولي څومره چې په نورو ورځو کې يې کوي، څوک چې په دى ورځ کې وفات شي، داورځ د دې سړي لپاره د نيکمرغې او ښه راتلونکې دليل جوړيږي او په دى لويه ورځ کې چې څوک وفات شي، دالله په نزد نيکمرغه ليکل شوى وي، له همدې امله د قبر له فتنې خوندي پاتي کيږي او سبب يې امتياز د مؤمن له منافق نه دى

اته څلويښتم خصوصيت: د جمعې په ورځ د اهل البرزخ ( څوک چې په خوا وفات شوي وي ) عذاب پورته کيږي .
قال اليافعي. في روض الرياحين: بلغنا أن الموتى لم يعذبوا ليلة الجمعة، تشريفاً لهذا الوقت. قال: ويحتمل اختصاص ذلك بعصاة المؤمنين دون الكفار.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: یافعي په روض الرياحين کې فرمايلي: موږ ته داسي رسيدلي، چې مړو ته د جمعې په ورځ عذاب نه ور کول کيږي د دې ورځې د شرافت له امله او احتمال لري چې مراد ورنه ګناهګاران مسلمانان وي نه کافران .

نهځلويښتم خصوصيت: د جمعې په ورځ ارواح سره يوځای کيږي .
( په دې اړه ابن أبي الدنيا او بيهقي په الشعب کې روايتونه نقل کړي )
أخرج ابن أبي الدنيا، والبيهقي في الشعب، عن رجل من آل عاصم الجحدري، أنه رأى عاصماً الجحدري في النوم، فقال: " أنا في روضة من رياض الجنة، ونفر من أصحابي، نجتمع كل ليلة جمعة، وصبيحتها إلى بكر بن عبد الله المزني، فنتلاقى أخباركم. قلت: هل تعلمون بزيارتنا؟ قال: نعلم بها عشية الجمعة، ويوم الجمعة كله، ويوم السبت إلى طلوع الشمس. قلت: وكيف ذلك دون الأيام كلها؟ قال: لفضل يوم الجمعة وعظمته " .

ژباړه: ابن أبي الدنيا او بيهقي په الشعب کې د يوسړي له ال عاصم جحدري نه نقل کړي چې هغه، عاصم الجحدري په خوب وليد، ور ته يي وويل: زه په يوه باغيچه د جنت کې يم او ځيني ملګرې د هرې جمعې په شپه او سحر بکر بن عبدالله المزني ته ورځوستاسو اخبار ( احوال ) موږته راځي ما و رته وويل تاسو زموږ په زيارت کولو خبريږي ؟ هغه راته وويل: هوموږ خبريږو، د جمعې په ماښام او په ټوله ورځ د جمعې اوپه ټوله شپه د هفتې تر لمر ختو پورې، ما ورته وويل دا ولي په نورو ورځو کې نه کيږی ؟ هغه وويل : د جمعې د ورځې دفضيلت او عظمت له کبله .

پنځوسم خصوصيت: جمعه د ورځوسرداره ده .
( په دې اړه مسلم له ابو هريرة رضی الله عنه نه حديث نقل کړی )
روى مسلم عن أبي هريرة، أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: " خير يوم طلعت عليه الشمس يوم الجمعة، فيه خلق آدم، وفيه أُدخل الجنة، وفيه أخرج منها، ولا تقوم الساعة إلا في يوم الجمعة " . أخرجه الحاكم بلفظ: " سيد الأيام يوم الجمعة...إلى آخره " .
ولأبي داود نحوه، وزاد: " وفيه تيبَ عليه، وفيه مات، وما من دابة إلا وهي مُصيخةٌ يوم الجمعة، من حين تُصبح، حتى تطلع الشمس، شفقاً من الساعة إلا الجنّ والإنس " .
وأخرج ابن أبي شيبة، وابن ماجه، والبيهقي في الشعب، عن أبي لُبابة بن عبد

(c) ketabton.com: The Digital Library



المنذرقال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " إن يوم الجمعة سيد الأيام، وأعظمها عند الله، وهو أعظم عند الله من يوم الأضحى، ويوم الفطر، فيه خمس خلال: فيه خلق آدم، وفيه أُهبط، وفيه مات، وفيه ساعة لا يسأل الله العبد فيها شيئاً إلا أعطاه، ما لم يسأل حراماً، وفيه تقوم الساعة. ما من ملك مقرب، ولا سماء، ولا أرض، ولا رياح، ولا جبال، ولا بحر إلا وهنّ يُشفقن من يوم الجمعة " .
وأخرج سعيد بن منصور، في سننه، عن مجاهد قال: " إذا كان يوم الجمعة، فزع البر، والبحر، وما خلق الله من شيء إلا الإنسان " .
وأخرج عبد الله بن أحمد، في زوائد الزهد، عن أبي عمران الجوني. قال: " بلغنا أنه لم تأت ليلة الجمعة قط إلا أحدثت لأهل السماء فزعة " .
فائدة: في بعض كتب الحنابلة: اختلف أصحابنا. هل ليلة الجمعة أفضل؟ أو ليلة القدر؟، فاختار ابن بطة، وجماعة: أن ليلة الجمعة أفضل. وقال به أبو الحسن التميمي. فيما عدا الليلة التي أنزل فيها القرآن، وأكثر العلماء، على أن ليلة القدر أفضل، واستدل الأولون بحديث الليلة الفراء. والفرة من الشيء خياره، وبأنه جاء في فضل يومها ما لم يجيء ليوم ليلة القدر. وأجابوا عن قوله تعالى: (لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ). فإن التقدير خير من ألف شهر ليس فيها ليلة الجمعة، كما أن تقديرها عند الأكثرين: خير من ألف شهر، ليس فيها ليلة القدر. وأيضاً، فإن ليلة الجمعة باقية في الجنة، لأن في يومها تقع الزيارة إلى الله تعالى، وهي معلومة في الدنيا بعينها على القطع، وليلة القدر مظنون عينها. انتهى ملخصاً.

ژباړه: نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلي: تر ټولو غوره ورځ چې په هغې لمر راخیژي د جمعې ورځ ده په دې کې آدم (علیه السلام ) پیداشوی او په دې کې هغه جنت ته بُوَل شوی او په دې کې هغه له جنته راوېستل شوی اوقیامت به د جمعې په ورځ وي او پورتنی حدیث حاکم په لفظ د (سید الأیام یوم الجمعة...إلی آخره ")

ژباړه: جمعه د ورځو سرداره ده نور، هغه پورتني حدیث تر پایه )

ابوداود هم د حاکم په څیر، لفظ د: سید الایام ذکر کړی او لاندنې الفاظ یې هم روایت کړي: په جمعه کې د ادم ( علیه السلام ) توبه قبوله شوې او وفات شوی او هر ژوندی چې د ځمکې په مخ ګرځي د جمعې په ورځ سحر د لمر ختوپه وخت کې چیغې وهي ویرېږي چې قیامت نشي، مګر انسانان ، پیریان ( چې دوی چیغې نه وهي )

(c) ketabton.com: The Digital Library


ابن ابي شيبه، ابن ماجه او بيهقي په شعب كې له أبي لُبابة بن عبد المنذرنه روايت كړى: چې رسول الله صلى الله عل وسلم فرمايلي : د جمعې ورځ د نورو ورځو سرداره ده او د الله تعالى په وړاندې د لوى اختر او كوچني اخترتر ورځو ډيره غوره ده او په دې كې پنځه شيان واقع شوي.

١: ادم ( عليه السلام ) پكې پيدا شوى ٢: د اسمان نه ځمكې ته راكوز شوى ٣: په دې كې وفات شوى ۴: اوپه دې كې داسې يوساعت ( وخت ) شته چې څوک د الله تعالى نه د څه شي غوښتنه وكړي، الله تعالى يي وركوي خو چې حرام شى نوي. ۵: په دې كې قيامت راځي.

مقربې ملاېكې اسمانونه، ځمكې، بادونه ، غرونه او دريابونه د جمعې له ورځې نه، ويريږي ( د قيامت د راتلوله وېرې )

عبد الله بن أحمد په زوائد الزهد كې له أبو عمران الجوني نه نقل كړى چې: داسمان د اوسيدونكو لپاره د جمعې راتګ لويه ويره ( فزعة ) راپيدا كوي .

فايده: د حنابلو ( د احمد بن حنبل رح د مذهب ) په كتابو كې ذكر شوي دي :چې د جمعې شپه غوره ده اوكه د ليلة القدر، ابن بطة او ورسره يوې ډلي علماوو ويلي: د جمعې شپه په ليلة القدر غوره ده . ابوالحسن التميمي فرمايلي : هغه ليلة القدر چې په هغې كې قرانكريم نازل شوى، هغه د جمعې په شپه غوره ده او دقدر د نورو شپونه د جمعې شپه غوره ده .

زيات شمير علماء په دې اند دي، چې د قد ر شپه غوره ده. اوچا چې د جمعې دشپې په غوروالى قول كړى : د ليل يې هغه حديث نيولى په كوم كې چې جمعې ته غوره ويل شوي (جمعه غوره شپه ده) او بل داچې د جمعې د غوروالې په هكله داسي حديث راغلي كوم چې د قدر د شپې په هكله نه دى راغلى .

خوهغو علماوته چې دقدر د شپې غوروالي يې په دى ايات شريف دليل نيولى : ليلة القدر خير من الف شهر ) ژباړه : د قدر شپه تر زرو مياشتو غوره ده ) داسي ځواب وركړى : چې مراد د زرو شپو نه هغه شپې دي چې د جمعې شپې په كې نه وي او بل دا چې د جمعې شپه به جنت كې هم وي، ځكه چې د جمعې په ورځ به د جنتيانو ليد نه، الله تعالى سره كيږي . او بل داچې دجمعې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه په دنیا کې یقیناً معلومه ده او د قدر شپه مورږ ته په یقني توګه نه ده معلومه نوځکه د جمعې شپه د قدر په شپه غوره ده .

یوپنځوسم خصوصیت: دجمعې ورځ د زیادت ورځ ده .

( په دې اړه امام شافعي په خپل کتاب (اُم )کې له انس (رضی الله عنه ) نه حدیث روایت کړی )

أخرج الشافعي في الأم، عن أنس قال: " أتى جبريل بمرآة بيضاء فيها نكتة إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم . فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ما هذه؟ قال: هذه الجمعة. فُضّلت بها أنت، وأمتك، فإن الناس لكم فيها تبعٌ. اليهود، والنصارى. ولكم فيها خير، وفيها ساعة لا يوافقها مؤمن يدعو الله بخير، إلا استُجيب له، وهو عندنا يوم المزيد. قال النبي صلى الله عليه وسلم: يا جبريل، وما يوم المزيد؟ قال: إن ربك اتخذ في الفردوس وادياً أفيَح. فيه كثب مسك، فإذا كان يوم الجمعة، أنزل الله فيه ناساً من الملائكة، وحوله منابر من نور، عليها مقاعد النبيين، وحُفت تلك المنابر، بكراسي من ذهب، مُكللة بالياقوت، والزبرجد. عليها الشهداء، والصديقون، ثم جاء أهل الجنة، فجلسوا من ورائهم على تلك الكثب. فيقول الله: أنا ربكم، قد صدقتكم وعدي، فسلوني أُعطكم، فيقولون: ربنا نسألك رضوانك، فيقول: قد رضيت عنكم، ولكم علي ما تمنيتم، ولدي مزيد. فهم يحبون يوم الجمعة، لما يعطيهم فيه ربهم من الخير " . وله طرق عن أنس، وفي بعضها: " إنهم يمكثون في جلوسهم هذا إلى مقدار منصرف الناس من الجمعة، ثم يرجعون إلى غرفهم " .
ژباړه: انس (رضی الله عنه ) روایت کړی : وایي جبریل علیه السلام، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یوه سپینه ائینه راوړه، چې په هغې کې یوه توره نکته ( ټکی ) وه رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته فرمایل : دا څه شی ده ؟ هغه ورته وویل: داجمعه ده، تاسو او ستاسو امة ته په دې سره غوره والی درکړ شوی اوخلک ( یهود اونصارا) د دې په واسطه ستاسوتابع دي ( ځکه چې هفته د یهودو او یکشنبه د نصاراو ورځ ده او دواړه د جمعې نه وروستـه دي ) په جمعه کې ستاسو لپاره خیر ده او په دې کې یو ساعت ( وخت ) دی چې د مؤمنانو هره د خیرغوښتنه، الله تعالی قبلوي اودا ورځ زموږ لپاره د زیادت ده. نبی صلی الله علیه ورته وفرمایل: جبریله ! د زیادت د ورځې څه مانا ؟ هغه ورته وویل : ستارب په فردوس ( جنت ) کې یوه دَره غوره کړي، چې د مشکو تختونه یې پکې ایښي دي، کله چې د جمعې ورځ شي، الله تعالی د اسمانه ملائکې را واستوي او شا اوخوا یې د نُور منبرونه دي، چې ځای ناستې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



انبياوو وي او تر دی منبرو شا اوخوا دسروزرو کرسۍ ( چوکۍ ) تاوشوې دي چې ښائسته شوې وي په ياقوتو آو زبرجدو په دې به شهيدان صديقين ناست وي او بيابه د جنت خلګ راشي او په دې تختونو به دوی نه وروسته کيني نو الله تعالی به ورته ووايي: زه ستاسو رب يم، ما رښتيا کړه ستاسو سره خپله وعده، زما نه د حاجتونوغوښتنه وکړئ چې زه يې درپوره کړم. دوی به ورته وايي : زموږ ربه! موږ ستارضاء غواړو، الله تعالی به ورته وفرمايي: زه له تاسي راضي يم او ستاسو لپاره پوره کوم هغه شی چې تاسو يي غواړئ او ما سره نورهم ډيرڅه دي

اهل جنت د جمعې ورځ غوره ګڼي، ځکه الله تعالی دوی ته د جمعې په ورځ خير ورکوي دا حديث له انس نه په نورو لارو هم روايت شوی او ځينو روايتونوکې داسي راغلي: د اخلک به هلته (د الله په حضور ) دومره وخت ناست وي څومره به چې ( په دنيا کې ) خلک د جمعې لمانځه نه راستنيدل نوبيا به دوی ( اهل جنت ) خپلومانيو ته راستانه شي .
وأخرج الآجري في كتاب الرؤية، عن أبي هريرة. أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: " إن أهل الجنة إذا دخلوها، نزلوا بفضل أعمالهم، فيؤذن لهم في مقدار يوم الجمعة، من أيام الدنيا، فيزورون، فيبرز الله لهم عرشه، ويبتدئ لهم في روضة من رياض الجنة، وتوضع لهم منابر من نور، ومنابر من لؤلؤ، ومنابر من ياقوت، ومنابر من ذهب، ومنابر من فضة، ويجلس أدناهم، وما فيهم أدنى، على كثبان المسك والكافور، وما يرون أصحاب الكراسي بأفضل منهم مجلساً " الحديث وفيه: الرؤية، وسماع الكلام، وذكر سوق الجنة

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: کله چې جنتيان جنت ته داخل شی، د خپلو کړنو سره سم ورته درجات ورکول کيږي، دوی ته په اندازه د ورځي د جمعې د ورځو د دنيا اجازه ورکول کيږي ،ترڅو دوی زيارت وکړي. الله جل جلاله خپل عرش ورته ښکاره کړي او دا زيارت ( ديدار د الله جل وعلا ) په يوه باغيچه د باغيچو د جنت کې شروع کيږ ي ، د نور او ملغلرو او ياقوتواو سرو او سپينو زرو منبرونه ايښودل شوي وي او ادنی جنتي کوم چې تر ټولو ټيټ رتبه وي د مشکواوکافورو په په غونډيو ناست وي او کوم چې په کرسيو ناست وي هغوی به ترټولو ښائسته ښکاري نور مخکنې حديث دی او همدا ډول ، په دی حديث کې ديدار د الله جل جلاله او او ريدل دکلام ( خبرو ) د الله تعالی جل شانه او ذکر د بازار د جنت هم شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library


دوه ينځوسم خصوصيت: د جمعې د ورځې ياداشت قران کريم کې شوی خو دُ اونۍ نورېې ورځې نه دې يادې شوې. قال تعالى: (إِذَا نُودِيَ لِلصَّلاَةِ مِنْ يَوْمِ الجُمُعَةِ).

ژباړه: کله چې د جمعې د لمانځه لپآره اذان وشی )
درى پنځوسم خصوصويت: د جمعې ورځ شاهده ، مشهوده ده .

( په دې اړه ابن جريرله على بن ابي طالب رضى الله عنه نه حديث روايت کړی )
أخرج ابن جرير، عن علي بن أبي طالب في قوله تعالى: (وَشَاهِدٍ، وَمَشْهُودٍ) . قال: " الشاهد يوم الجمعة، والمشهود يوم عرفة " وأخرج حميد بن زنجويه، في فضائل الأعمال، عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " اليوم الموعود يوم القيامة، والمشهود يوم عرفة، والشاهد يوم الجمعة، ما طلعت شمس، ولا غربت على يوم أفضل من يوم الجمعة "

ژباړه: ابن جرير له على کرم الله وجهه نه په باره د دې قول دالله تعالى کې: وَشَاهِدٍ، وَمَشْهُودٍ) نقل کړي چې: شاهد د جمعې او مشهود د عرفې ورځې دي. حميد بن زنجويه په فضائل اعمال کې د ابو هريرة روايت نقل کړی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي : اليوم الموعود، دقيامت ورځ المشهود د عرفې ورځ اوالشاهد د جمعې ورځ ده .

لمر نه دې راختلى او نه دې لويدلى په غوره ورځ تر جمعې. ( د جمعې ورځ تر ټولو ورځو غوره ده )

وأخرج ابن جرير، "عن أبي الدرداء قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " أكثروا عليّ من الصلاة يوم الجمعة، فإنه يوم مشهود، تشهده الملائكة " .

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: د جمعې په ورځ په ما زيات درود واياست، ځکه چې مشهود ه ورځ ده (ملائکې ورته حاضرېږي )
څلورپنځوسم خصوصيت: د جمعې ورځ ذخيره د دې امت ده

( په دې اړه شيخينو له ابوهريرة رضى الله عنه نه روايت کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



روى الشيخان، عن أبي هريرة، أنه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: " نحن الآخرون، السابقون يوم القيامة، بيد أنهم أوتوا الكتاب من قبلنا، ثم هذا يومهم الذي فرض الله عليهم، فاختلفوا فيه، فهدانا الله له، فالناس لنا فيه تبعٌ. اليهود غداً، والنصارى بعد غدٍ ولمسلم عن أبي هريرة، وحذيفة، قالا: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " أضلّ الله عن الجمعة، مَن كان قبلنا، فكان لليهود يوم السبت، وكان للنصارى يوم الأحد، فجاء الله بنا، فهدانا ليوم الجمعة

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم به فرمايل : موږ اخيرني يو خو د قيامت په ورځ به ترټولو مخکني يو، خو دومره خبره ده چې نورو قومونوته زموږ نه مخکې کتاب ورکړشوی بیا دا ورځ ، الله په دوی فرض کړه دوی په کې اختلاف وکړ اوموږ ته الله تعالی دغه ورځ راکړه خلک په دې ورځ کې زموږ تابع دي د يهودو دهفتې او د نصاراوو ديکشنبې ورځ دی .

مسلم له ابو هريرة او حذيفة رضی الله عنهما نه روايت کړی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: الله (جل جلا له ) مخکنې خلک د جمعې نه ګمراه کړل ديهودو لپاره د هفتې ورځ شوه اود نصاراوو لپاره د يکشنبې ورځ شوه او الله تعالی چې موږ پيدا کړو د جمعې ورځ يي راکړه .

ولمسلم عن أبي هريرة، وحذيفة، قالا: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " أضلّ الله عن د الجمعة، مَن كان قبلنا، فكان لليهود يوم السبت، وكان للنصارى يوم الأحد، فجاء الله بنا، فهدانا ليوم الجمعة

پنځه پنځوسم خصوصيت : جمعه د مغفرة ورځ ده
( په دې اړه ابن عدي، طبراني په الاوسط کې په جيد سند له انس نه روايت کړی )

أخرج ابن عديّ، والطبراني في الأوسط بسند جيد، عن أنس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " إن الله تبارك، وتعالى، ليس بتارك أحداً من المسلمين يوم الجمعة إلا غفر له

ژباړه : رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: الله تبارک وتعالی د جمعې په ورځ هيڅ يو مسلمان بې له مغفرته (ببښنې ) نه پريږدي .

شپږ پنځوسم خصوصيت: جمعه د اورنه دازادۍ ورځ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library


( په دې اړه امام بخاري په خپل تاريخ کې او ابو يعلى د انس نه روايت کړی )
أخرج البخاري في تاريخه، وأبو يعلى، عن أنس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " إن يوم الجمعة، وليلة الجمعة، أربع وعشرون ساعة، ليس فيها ساعة إلا ولله فيها ستمائة عتيق من النار، كلهم قد استوجبوا النار " .
وأخرجه ابن عدي، والبيهقي في الشعب بلفظ: " إن لله في كل جمعة ستمائة ألف عتيق " .

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: د جمعې ورځ او شپه څلورويشت ساعته ده، په هر ساعت کې شپږ سوه کسان چې د اور مستحق وي،الله يي د اورنه ازاده وي او ابن عدي او بيهقي په الشعب کې په داسي لفظ سره روايت کړی : الله لره په هره جمعه کې شپږ سوه زره د اور نه ازاد موجود دي .

أُووپنځوسم خصوصيت: په جمعه کې داسي ساعت شته چې دعا په کې قبلیږي.

(په دې اړه شيخينو له ابو هريرة رضى الله عنه نه روايت کړی )
روى الشيخان، عن أبي هريرة: " أن رسول الله صلى الله عليه وسلم ذكر يوم الجمعة فقال: فيها ساعة لا يوافقها عبد مسلم، وهو قائم يصلي، يسأل الله شيئاً إلا أعطاه إياه، وأشار بيده يقللها " ولمسلم عنه: " إن في الجمعة لساعة، لا يوافقها مسلم يسأل الله فيها خيراً إلا أعطاه إياه. هي ساعة خفية " .
ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: په جمعه کې يو داسي ساعت دی چې د هغه سره سم يومسلمان په لمانځه ودريږي او د الله نه په دې کې خير وغواړي، ورکوي يي او په لاس يي اشاره کوله چې ډير کم وخت دی .

اومسلم له ابو هريرة نه داسي روايت کړی : په جمعه کې داسي يو ساعت دی که څوک په هغه ساعت کې الله نه خير ( دعا ) وغواړي، الله يي ورکوي، او دا پټ ساعت دی .

( د جمعې په هغه ساعت کې چې دعا په کې قبليږي د صحابو اوتابعينو او ورستنيو علماو په منځ کې تحقيقي اختلاف دی او زيات تر ديرشو قولونو

www.ketabton.com – د پښتو ژبی انلاين کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې يي ذکرکړي . هغه مي ونه ژباړل ځکه چې ذکر يي اوږد والی نه خالي نه دې اوبل داچې ګڼ شمير يي له تيرو احاديثو نه اخستل شوي [3])

د جمعې دهغه ساعت په هکله،چې دعا په کې قبليږی د ځينو صحابونظرونه:

وقال ابن سعد في طبقاته: أخبرنا عفان بن مسلم، حدثنا حماد بن سلمة، أخبرنا علي بن زيد بن جُدعان. أن عبيد الله بن نوفل، وسعيد بن نوفل، والمغيرة بن نوفل، كانوا من قراء قريش، وكانوا يبكون إلى الجمعة، إذا طلعت الشمس، يريدون بذلك الساعة التي تُرجى، فنام عبيد الله بن نوفل، فدُح على ظهره دحةً، فقيل: هذه الساعة التي تريد، فرفع رأسه، فإذا مثل غمامة، تصعد إلى السماء، وذلك حين زالت الشمس

ژباړه: عبيد الله بن نوفل ، سعيد بن نوفل او المغيرة بن نوفل د قريشو د قاريان وو کله چې به د جمعې د ورځې لمر راوختلو نوژړل به يي، مقصد يي په دې سره د جمعې هغه ساعت وو په کوم کې چې د د عا د قبليدلو **اميد** و، په دی وخت کې عبيد الله بن نوفل ويده شو، يو چا په شا وچيخولواو ورته ويې ويل: دا هغه ساعت دی کوم چې ته يي په لټه کې يې. هغه سر راپورته کړ چې ګوري لکه يوه توره وريځ غوندې شی اسمان ته په ختو کې و او دا واقعه د لمر له زوال وروسته شوې وه .

فائدة: احتج من قال بتفضيل الليل على النهار: بأن في كل ساعة إجابة، كما ثبت في الأحاديث الصحيحة، وليس ذلك في النهار، سوى في يوم الجمعة.

فائده: څوک چې دجمعې شپه په ورځ غوره ګڼي،دليل يي دا نيولی: ځکه چې د شپې په هرساعت کې دعا قبليږی، څنګه چې په صحيحو احاديثو کې راغلي اوپه ورځ کې داسي احاديث نه دي راغلي يوازې دجمعې د ورځې په هکله راغلي .

اته پنځوسم خصوصيت : په جمعه کې د صدقې ثواب په دوه برابره ده اوپه نورو ورځو کې په يو برابر دی

[3] ژباړن

(c) ketabton.com: The Digital Library


( په اړه ابن ابي شيبه په خپل مصنف کې له کعب نه روايت کړی )
أخرج ابن أبي شيبة في المصنف، عن كعب، قال: " الصدقة تضاعف يوم الجمعة "

ژباړه : کعب فرمايلي : صدقه ( خيرات ) په جمعه کې دوه برابره ثواب لري .
نهپنځوسم خصوصيت: د نيکۍ او بدۍ بدله په جمعه کې دوه برابره ده .
( په اړه ابن ابي شيبة له کعب نه روايت کړی اوطبراني په اوسط کې له ابوهريرة رضی الله عنه او د مسيب بن رافع نه نقل کړي )
أخرج ابن أبي شيبة، عن كعب، قال: يوم الجمعة تضاعف فيه الحسنة والسيئة.
وأخرج الطبراني في الأوسط، من حديث أبي هريرة مرفوعاً: " تضاعف الحسنات يوم الجمعة " وأخرج حميد بن زنجويه، في فضائل الأعمال، من طريق الهيثم بن حميد. قال: أخبرني أبو سعيد، قال: بلغني أن الحسنة تضاعف يوم الجمعة، والسيئة تضاعف يوم الجمعة. وأخرج عن المسيب بن رافع قال: من عمل خيراً في يوم الجمعة، ضُعّف بعشرة أضعافه في سائر الأيام، ومن عمل شراً فمثل ذلك.

ژباړه: د جمعې په ورځ کې دنيکۍ او بدۍ بدله دوه برابره ده.

او ابن ابي شيبة له کعب نه نقل کړي : د جمعې په ورځ کې دنيکۍ اوبدۍ بدله دوه برابره ورکول کيږي .

طبراني په اوسط کې له ابو هريرة نه مرفوع حديث روايت کړی: چې د نيکۍ بدله د جمعې په ورځ دوه برابره ورکول کيږي .

اوحميد بن زنجويه په فضائل اعمال کې د الهيثم بن حميد له لارې روايت کړی،چې ماته خبر راکړی ابوسعيد چې ويلي يې دي: ماته رسيدلي: چې دجمعې په ورځ د نيکۍ او بدۍ دوه برابره بدله ورکولی شي .

ابن زنجويه له مسيب بن رافع نه روايت کړی چې ويلي يې دي : څوک چې د جمعي په ورځ دخير عمل وکړي لس برابره بدله د نورو ورځوپه پرتله ورکول کيږي او څوک چې د شر عمل وکړي يو برابر بدله ورکولی شي .
شپيتم خصوصيت : دجمعې په ورځې او شپه د سورة : حم الدخان لوستل
( په اړه ترمذي له ابو هريرة او طبراني او اصفهاني له ابو امامه او

(c) ketabton.com: The Digital Library


دارمي د ابو رافع نه روايتونه نقل کړي )
أخرج الترمذي، عن أبي هريرة. قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " من قرأ حم الدخان في ليلة الجمعة غُفر له " .
وأخرج الطبراني، والأصبهاني، عن أبي أمامة. قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " من قرأ حم الدخان في ليلة الجمعة، أو يوم الجمعة، بنى الله له بيتاً في الجنة " .
وأخرج الدارمي عن أبي رافع قال: " من قرأ الدخان في ليلة الجمعة، أصبح مغفوراً له، وزُوج من الحور العين " .

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې د جمعې په شپه سورت حم الدخان ولولي ببنښه به ورته وشي .

اوطبراني او اصفهاني د ابي امامه نه روايت کړی: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي : څوک چې د جمعې په شپه اويا ورځ سورة حم الدخان ولولي الله به ورته په جنت کې يو کور جوړکړي .

او الدارمي له ابو رافع نه روايت کړی هغه ويلي : څوک چې د جمعې په شپه حم الدخان ولولي سحر به داسي حال کې راپاڅيږي چې ګناوي به ورته ببښل شوې وي او ورته په نکاح شوي به وي حور عين ( غټ سترګې حورې )
يوشپېتم خصوصيت : دجمعې په شپه د سورة يس لوستل :
( په اړه بيهقي په الشعب کې له ابوهريرةرضى الله عنه نه روايت کړی )
أخرج البيهقي في الشعب، عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " من قرأ ليلة الجمعة حم الدخان، ويس، أصبح مغفوراً له " وأخرجه الأصفهاني بلفظ: " من قرأ يس في ليلة الجمعة غُفر له

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې د جمعې په شپه حم الدخان او يس ولولي، سحر به داسي راپورته کيږي چې ګناوې به ورته ببښل شوې وي

دوشپېتم خصوصيت: دسورة ال عمران لوستل په جمعه کې
( په دې اړ ه طبراني له ابن عباس نه حديث روايت کړی )
أخرج الطبراني بسند ضعيف، عن ابن عباس قال: قال رسول الله صلى الله عليه

(c) ketabton.com: The Digital Library


وسلم: " من قرأ السورة التي يُذكر فيها آل عمران، يوم الجمعة، صلى الله عليه وملائكته حتى تغيب الشمس.

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې هغه سورة چې ال عمران په هغه کې ذکر شوى، د جمعې په ورځ ولولي، ترڅوچې لمر ولوېږي الله او ملائکې به په هغه درود وايې.

درى شپږم خصوصيت: دجمعي په ورځ د هود دسورې لوستل
( په دې اړه دارمي په خپل مسند کې او بيهقى په الشعب او ابو شيخ او ابن مردويه په خپلو تفسيرونوکې له کعب نه روايتونه کړي )
أخرج الدارمي في مسنده، والبيهقي في الشعب، وأبو الشيخ، وابن مردوَيه، في تفسيرهما، عن كعب، أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: " اقرؤوا سورة هود يوم الجمعة "

ژباړ ه : نبى صلى الله عليه وسلم فرمايلى: د جمعې په ورځ د هود سورة واياست
څلورشپږم خصوصيت : دجمعې په شپه د بقرې او ال عمران د سورتونو لوستل
( اصفهاني په ترغيب کې په خپل سند سره د عبدالواحد بن ايمن تابعي نه اوهمدا ډول حميد بن زنجويه له وهب بن منبّه نه روايتونه کړي)
أخرج الأصفهاني في الترغيب بسنده، عن عبد الواحد بن أيمن، تابعي قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " من قرأ سورة البقرة، وآل عمران، في ليلة الجمعة، كان له من الأجر، ما بين لُبيداء ، وعَروباء "
ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې د بقرې سورة او د ال عمران سورة د جمعي په شپه ولولي، له عرشه نېولي تر لاندې ځمکو پورې په اندازه ورته اجر دى .
پنځه شپږم خصوصيت: د جمعي د ورځې په سحر هغه ذکر چې سبب د مغفرت گرځې
( په دې اړه طبراني په اوسط کې او ابن سدني له انس نه روايتو نه کړي )
أخرج الطبراني في الأوسط، وابن السُّني، عن أنس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " من قال قبل صلاة الغداة، يوم الجمعة، ثلاث مراتٍ: استغفر الله العظيم الذي لا إله إلا هو الحيُّ القيوم، وأتوب إليه، غُفرت ذنوبه، وإن كانت أكثر من زَبَد البحر " .

www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاين کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلی : څوک چې د جمعې په سحر لمانځه ړومبی دري کرته: استغفر الله العظيم الذي لا إله إلا هو الحيُّ القيوم، وأتوب إليه،) ولولې ګناوي به ورته وبښلی شي که څه هم د سين د اوبو له ځګ نه زياتې وي

شپږ شپيتم خصوصيت: د جمعې په شپه او ورځ کې په نبي صلى الله عليه وسلم زيات درود ويل .
( په دې اړه ابوداود،حاکم ( چې صحيح يې هم ګرځولي ) او ا بن ماجه د اَوْس بن اَوْس نه روايت کړی )

أخرج أبو داود، والحاكم وصححه، وابن ماجه، عن أوس بن أوس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " إن من أفضل أيامكم، يوم الجمعة، فيه خُلق آدم، وفيه قُبض، وفيه النفخة. وفيه الصعقة، فأكثروا من الصلاة عليّ فيه، فإن صلاتكم معروضة عليّ "

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: ستاسو د ورځو ترټولو غوره ورځ د جمعې ده په دېکې ادم ( عليه السلام ) پيدا شوی او په کې وفات شوی اوپه ديکې شپيلې ( النفخة ) وهل کيږي او په دې کې بله شپيلې ( الصعقة ) وهل کيږي اوپه دې کې په ما ( محمدبن عبدالله صلى الله عليه وسلم ) زيات **دَرُود** واياست ځکه چې ستاسو **دَرٌود** ماته راسيږي .

( په دې اړه طبراني په اوسط کې له ابو هريرة رضی الله عنه نه او بيهقي په شعب کې له ابو امامه نه روايتونه نقل کړي )

وأخرج الطبراني في الأوسط، عن أبي هريرة. قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " أكثروا من الصلاة، عليّ، في الليلة الزهراء،[4] واليوم الأزهر. فإن صلاتكم تعرض عليّ "

[4] : وزَهْرةُ النَّبْت أيضاً نَوْرُه وكذلك الزَّهَرة بفتحتين. والزُّهَرة بفتح الهاء نَجْمٌ. وزَهَرتِ النارُ أضاءت وبابه خَضَع وازْهَرَها غيرُها. والأزْهَر النَّيِّر ويُسمَّى القَمَرُ الأزْهَرَ. والأَزْهَرَان الشَّمسُ والقَمَر. ورجُلٌ أزْهَر أي أبْيَضُ مُشْرِقُ الوجه والمرأةُ زَهْراء. وأزْهَرَ النَّبْتُ ظَهَر) مختار الصحاح ، زين الدين الرازي ، ج ، ١، ص ، ١٣٤– المكتبة الشاملة الاصدارالثاني . ( را، اخستونکی : رښتين )

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: په ځلیدونکې ( دجمعې په ) شپه او ځلیدونکې ( دجمعې په ) ورځ کې په مازیات درود وایاست، ځکه چې ستاسو درود ماته ماته وړاندې کیږي .

وأخرج البيهقي في الشعب، عن أبي أمامة. قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " أكثروا من الصلاة عليّ في كل يوم جمعة، فمن كان أكثرهم عليّ صلاة، كان أقربهم مني

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: دجمعي په ورځ به ما زیات درود وایاست، څوک چې په ما زیات درود وایې هغه به ماته تر ټولو زیات نزدې وي . (همدا ډول بیهقي له انس رضی الله عنه نه لاندي دوه حدیثه چې یو یي مرفوع دی دریم حدیث یي له علي رضي الله عنه نه نقل کړي )

وأخرج عن أنس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " أكثروا من الصلاة عليّ في يوم الجمعة، وليلة الجمعة، فمن فعل ذلك كنت شهيداً، أو شافعاً له يوم القيامة " .

وأخرج عن أنس مرفوعاً: " من صلى علي في يوم الجمعة، وليلة الجمعة، قضى الله له مائة حاجة: سبعين من حوائج الآخرة، وثلاثين من حوائج الدنيا " .

وأخرج عن علي قال: " من صلى على النبي صلى الله عليه وسلم يوم الجمعة، مائة مرة، جاء يوم القيامة، وعلى وجهه نور " .

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: د جمعي په ورځ او شپه په ما زیات درود وایاست څوک چې دا عمل کوې، زه دهغه لپاره په ورځ د قیامت کې شاهد ( ګواه ) او یا شفاعت کوونکی یم .

وأخرج عن أنس مرفوعاً: " من صلى علي في يوم الجمعة، وليلة الجمعة، قضى الله له مائة حاجة: سبعين من حوائج الآخرة، وثلاثين من حوائج الدنيا

له انس رضی لله عنه نه مرفوع ( نبی صلی الله علیه وسلم ته رسیدلی ) حدیث دې: څوک چې د جمعې په ورځ او شپه کې په ما درود ووایې، الله تعالی به یي سل حاجتونه پوره کړي: اویا (۷۰ ) د قیامت او دیرش یې د دنیا .

(c) ketabton.com: The Digital Library



( په دې اړه اصفهاني په خپل (کتاب) ترغيب کې د انس رضی الله عنه نه او ابونعيم په حلية کې د زيد بن وهب رضی الله عنه نه احاديث نقل کړي )

وأخرج الأصبهاني في ترغيبه، عن أنس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " من صلى علي في يوم الجمعة ألف مرة، لم يمت حتى يرى مقعده من الجنة "

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې په ما باندي د جمعي په ورځ يوزرځله (۱۰۰۰) درود ووايې، تر هغه وخته به مړ نه شي ترڅوچې خپل ځای په جنت کې و نه وېني .

وأخرج أبو نعيم في الحلية، عن زيد بن وهب. قال: " قال لي ابن مسعود: لا تدع إذا كان يوم الجمعة أن تصلي على النبي صلى الله عليه وسلم ألف مرة.

ژباړه: زيد بن وهب رضی الله عنه ويلي، چې "ماته ابن مسعود رضی الله عنه وفرمايل : د جمعې په ورځ په نبی صلى الله عليه وسلم ، زر ( ۱۰۰۰ ) کرته درود ويل مه پريږده .

أُوه شپيتم ، اته شپيتم ، نه شپيتم او اويايم خصوصيتونه: په جمعه کې دمريض پوښتنه کول ،جنازې ته حاضريدل ،د نکاح مجلس ته حاضريدل او غلام ازادول .

( په دې اړه طبراني له ابو امامة او ابويعلی له ابو سعيد نه روايتونه نقل کړي )

أخرج الطبراني، عن أبي أمامة، أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: " من صلى الجمعة، وصام يومه، وعاد مريضاً، وشهد جنازة، وشهد نكاحاً، وجبت له الجنة " .
وأخرجه أبو يعلى، من حديث أبي سعيد، وزاد: " وتصدق وأعتق " ولم يذكر ، شهود النكاح .

ژباړه: نبی صلى الله عليه سلم فرمايلي: څوک چې د جمعي لمونځ وکړي ، روژه ونيسي ، د مريض پوښتنه وکړي اوجنازې ته حاضرشي او نکاح ته حاضر شي، جنت ورته واجبيږي او ابو يعلی له ابي سعيد نه هم دا حديث

(c) ketabton.com: The Digital Library


روایت کړی  او زیات کړي دي چې صدقه ورکړي اوغلام ازاد کړي خو د نکاح حضور یې نه دی ذکر کړی .

یواویایم خصوصیت:  د جمعې په شپه هغه خاصي دعاوې کول  چې نبی صلی الله علیه وسلم نه روایت شوې  .
أخرج البيهقي في الشعب، عن أنس. قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " من قال هذه الكلمات سبع مرات في ليلة الجمعة، فمات في تلك الليلة، دخل الجنة.ومن قالها يوم الجمعة، فمات في ذلك اليوم، دخل الجنة.؛ من قال: اللهم أنت ربي لا إله إلا أنت، خلقتني، وأنا عبدك، وابن عبدك، وابن أمتك، وفي قبضتك وناصيتي بيدك، أمسيت على عهدك، ووعدك ما استطعت،أعوذ بك من شر ما صنعت، أبوء بنعمتك، وأبوء بذنبي، فاغفر لي، فإنه لا يغفر الذنوب إلا أنت "

ژباړه: نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلي : څوک چې داکلمات اُو ( ۷ )  کرته دجمعې په شپه ولولي اوبیا په هغه شپه مړ شي جنت ته داخلیږي اوڅوک یې چې د جمعې په ورځ  ولولي او په دی ورځ  مړشي جنت ته داخیلږي اوڅوک چې ووایې: یا الله ته زما رب یي نشته  په حقه معبود ( چاته چې عبادت کیږي ) بل څوک بې له تا نه، ته زما پیدا کوونکی یې او زه ستا بنده  او ستا د بنده زوی یم ستا د مینځې زوی یم او زما اختیار تاسره دی  او زما بدن ستا په لاس کې دی . بیګا کړې مې ده تاسره په تعهد او وعدې، څومره چې مې په وس کې وي اوتاپورې پناغواړم له  شره د خپل بد عمله او ستا د نعمت دشکرتلوسه لرم  کوم او اقرارکوم په خپله ګناه، ماته ببنښه وکړې ځکه چې ګناه،له تا پرته بل څوک نه شي ببنلی .

دوه اویایم خصوصیت :  تلل او راتلل په جمعه  کې :
په اړه بیهقي له عائشې رضی الله عنها نه روایت نقل کړی )
وأخرج أيضاً، عن عائشة. قالت: " كان رسول الله صلى الله عليه وسلم، إذا ظهر في الصيف، استحب أن يظهر ليلة الجمعة، وإذا دخل البيت في الشتاء استحب أن يدخل ليلة الجمعة " . وأخرج مثله عن ابن عباس.

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم به کله چې په اوړې کې دشپې له خوا راوتلو دابه یې غوره ګڼله، چې د جمعې په شپه راووځي اوچې کله به کورته په ژمې کې داخلیدلو نوغوره به یې ګڼله  چې د جمعې په شپه داخل شي. اوبیهقي همدا ډول روایت د ابن عباس نه هم کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library


دری اویا یم خصوصیت : په جمعه کې د الله تعال د فضل غوښتنه
( په دې اړه طبراني له عبدالله بن بُسرصاحب رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت کړی )
أخرج الطبراني، عن عبد الله بن بُسر، صاحب رسول الله صلى الله عليه وسلم: " أنه كان إذا صلى الجمعة، خرج فدار في السوق ساعةً، ثم رجع إلى المسجد، فقيل له: لِمَ تفعل هذا؟ فقال: رأيت سيد المرسلين يفعله " .
قلت: كأن حكمته امتثال قوله تعالى: (فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلاَةُ فَانْتَشِرُوا فِي الأَرْضِ، وابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللهِ) .

ژباړه: طبراني له عبدالله بن بُسر د رسول صلی الله علیه وسلم له ملګري نه روایت کړی، وایي کله چې به هغه د جمعې لمونځ وکړ نو راوبه وتلو او په بازارکې به وګرځیدلو بیا به مسجد ته ولاړ چاورنه پوښتنه وکړه: چې داسي ولي کوي ؟ هغه ورته وفرمایل : ما سردار د رسولانو ( محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ) لیدلی و چې هم داسي به یې کولو"زه طبراني وایم چې حکمت په دې کې ( چې بازارته به رسول الله صلی الله علیه وسلم د جمعې د لمانځه نه وروسته تللو ) د الله تعال په دې قول عمل کول و: ژباړه : کله چې د جمعې لمونځ وکړئ نو تاسو په ځمکه کې خواره شئ او د الله تعالی د فضل ( رزق ) په لټه کې شي.
څلوراویایم خصوصیت: د جمعي له لمانځه نه وروسته انتظار کول د ماځیګر تر لمانځه پورې، د عمرې د ثواب معادل دی .
(په اړه بیهقيې په شعب کې له سهل بن الساعدي روایت نقل کړی )
أخرج البيهقي في الشعب، عن سهل بن سعد الساعدي. قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " إن لكم في كل جمعة حجةً، وعمرةً، فالحجة: الهجيرةُ إلى الجمعة، والعمرة: انتظار العصر بعد الجمعة "

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: ستاسولپاره په هره جمعه کې یوحج او یوه عمره ده (ثواب دی ) حج د جمعي لمانځه ته تګ او عمره د جمعې له لمانځه نه وروسته انتظار کول دې د مازدیګر تر لمانځه پوري .

پنځه اویایم خصوصیت: د حفظ القران لمونځ د جمعې په شپه .
( په دې اړه امام ترمذي غریب حدیث روایت کړی اوحاکم په دعوات کې له ابن عباس نه هم نقل کړی )

(c) ketabton.com: The Digital Library


أخرج الترمذي، وقال: حسن غريب. والحاكم، والبيهقي في الدعوات، عن ابن عباس: " أن علياً قال لرسول الله صلى الله عليه وسلم: تفلّت هذا القرآن من صدري، فما أجدني أقدر عليه، فقال: ألا أُعلمك كلمات ينفعك الله بهنّ، وتنفع بهن من علمته، ويثبت ما تعلمت في صدرك؟ إذا كان ليلة الجمعة، فإن استطعت أن تقوم في ثلث الليل الآخر، فإنها ساعة مشهودة، والدعاء فيها مستجاب - وقد قال أخي يعقوب لبنيه: سوف أستغفر لكم ربي. يقول: حتى تأتي ليلة الجمعة - فإن لم تستطع، فقم في وسطها، فإن لم تستطع، فقم في أولها. فصلِّ أربع ركعات، تقرأ في الركعة الأولى بفاتحة الكتاب، وسورة: يس. وفي الركعة الثانية: بفاتحة الكتاب، وحم الدخان. وفي الركعة الثالثة: بفاتحة الكتاب، والم تنزيل السجدة. وفي الركعة الرابعة بفاتحة الكتاب، وتبارك المفصل.

فإذا فرغت من التشهد، فاحمد الله، وأحسن الثناء على الله، وصلِّ علي، وعلى سائر النبيين، واستغفر للمؤمنين والمؤمنات، ولإخوانك الذين سبقوك بالإيمان، وقل في آخر ذلك: اللهم ارحمني بترك المعاصي أبداً ما أبقيتني، وارحمني أن أتكلف ما لا يعنيني، وارزقني حسن النظر فيما يرضيك عني، اللهم بديع السماوات، والأرض، ذا الجلال، والإكرام، والعزة التي لا ترام: أسألك يا الله. يا رحمن، بجلالك، ونور وجهك، أن تُلزم قلبي حفظ كتابك، كما علمتني، وارزقني أن أتلوه على النحو الذي يرضيك عني.اللهم بديع السماوات، والأرض، ذا الجلال والإكرام، والعزة التي لاترام. أسألك يا الله، يا رحمن، بجلالك، ونور وجهك، أن تنور بكتابك بصري، وأن تطلق به لساني، وأن تفرج به عن قلبي، وتشرح به صدري، وأن تعمل به بدني، فإنه لا يعينني على إلا أنت، ولا حول ولا قوة إلا بالله العلي العظيم. تفعل ذلك ثلاث جمع، أو خمساً، أو سبعاً بإذن الله تعالى، والذي بعثني بالحق، ما أخطأ مؤمناً قط.

قال ابن عباس: فوالله ما لبث علي إلى خمساً أو سبعاً، حتى جاء رسول الله صلى الله عليه وسلم في مثل ذلك المجلس، فقال: يا رسول الله أني كنت فيما خلا لا آخذ إلا أربع آياتٍ، ونحوهن، فإذا قرأتهن على نفسي تفلتن، وأنا أتعلم اليوم أربعين آيةً ونحوها، فإذا قرأتها على نفسي، فكأنما كتاب الله بين عيني، ولقد كنت أسمع الحديث، فإذا رددته تفلت، وأنا اليوم أسمع الأحاديث، فإذا تحدثت بها لم أخرم منها حرفاً. فقال له رسول الله صلى الله عليه وسلم عند ذلك: مؤمن ورب الكعبة " .

ژباړه: على كرم الله وجهه رسول الله صلى الله ته وويل: چې يارسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) دا قران زما له سينې وځي، زه نشم كولى چې وې ساتم، هغه ورته وفرمايل : ايا تا ته ځوتكي در زده كړم ؟ چې تاته الله په هغو سره نفع

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورسوي او ته په هغوسره بل چاته ګټه ورسوې ( چې ور زده یې کړې ) اوکوم شی چې ته زده کوې په سبب د دې کلماتو به ستاپه سینه کې ثابت پاتې کیږی : کله چې د جمعې شپه شي که ستاپه وس کې وي نو په دریمه حصه د شپې کې پورته شه دا هغه ساعت دی چې ګواهي پری ورکړشوی ده ( مشهودة ) دعا په کې قبلیږی اوزما ورور یعقوب ( علیه السلام ) زامنو ته وفرمایل: زر دی چې زه د الله تعالی نه تاسوته د ښښنې غوښتنه وکړم ) ( نبی صلی الله علیه وسلم علی ته ) وویل چې کله د جمعې شپه راورسیږي، که ستا په وس کې وي نو د شپې په نیمایې حصه کې که دادې په هم په وس کې نوي نوپه اوله حصه د شپې کې پورته شه: ځلور رکعته لمونځ وکړه، په اول رکعت کې فاتحه د قرانکریم او (سورة ) یس ولوله! او په دویم رکعت کې فاتحه د قرانکریم او ( سورة ) حم الدخان ولوله! او په دریم رکعة کې فاتحه د قرانکریم او ( سورة) الم تنزیل سجده ولوله! اوپه ځلورم رکعة کې فاتحه د قرانکریم او تبارک المفصل ولوله! چې کله تشهد ( التحیات ) خلاص کړې، الله ته حمد اوثنا ووایه! او ښه ثنا د الله ووایه! اوپه ما او نورو انبیاوو درود ووایه! او ښښنه وغواړه مؤمنانو اومؤمناتو ته او تیرو مؤمنانو ورونړوته او په اخر کې ووایه یاالله په مارحم وکړې په سبب دپریښودلو دګناوو د همیش لپاره ترڅو چې ژوندی یم اوپه مارحم وکړې چې هغه کار ونکړم چې ماسره مرسته نه کوي اومقصد مې نه وي اوماته رانصیب کړې ښه نظر په هغه شی کې چې زما نه ته راضي کیږې یا الله ته پیدا کوونکې د اسمانونو اوځمکو یې، څښتن د لویې او د همیشنې عزت یې. یاالله ! ای عام رحم کوونکېه! په سبب ستا دلویي او ستاد مخ دنور له تانه غوښتنه کوم: چې زما زړه ستا دکتاب سره وتړئ، څنګه چې تا ماته د هغه پوهه راکړې اوز ما نصیب کړئ، داسې تلاوت چې ته پرې رضاء کیږې! یاالله ته پیداکوونکې د اسمانونو او ځمکو یې، دلویې اوعزت څښتن یې دهمیشه عزت څښتن یی یاالله یارحمن ! غوښتنه کوم په لویې اونور ستاد مخ : چې روښانه کړه زما نظر ستا په کتاب اوخلاصه کړه په هغه زما ژبه او ورته خلاص کړه زما زړه اوخلاصه کړه په هغه زما سینه .

او زما بدن د هغه لپاره د عمل مستعدکړه! ځکه چې کومک ماته په دې سره غیر ستا نه بل څوک نه شي راکولی.

نشته خلاصی اوقوة مګرپه الله تعالی چې د لویې څښتن د ی داعمل ( لمونځ ) درې جمعې یا پنځه جمعې او یا اُو ( ٧ ) جمعې وکړه، قسم په هغه ذات چې زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې په حق را استولی یم چې خطاء به نه شي ( په قرانکریم کي ) مؤمن هیڅ کله
.

ابن عباس  فرمایلي دي: قسم په الله چې تیرې شوې نه وې په ما پنځه او ( ۷)
جمعې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په هم دې قسمه مجلس کې بیا راغی
ابن عباس ورته وویل یا د الله رسوله ! ( صلی الله علیه وسلم ) : پخوا داسي وم
چې څلور ایاتونه یا څه کم زیات به مي وویل ( د استاذه )  کله چې به مې له
ځان سره لوستل یکې به خطاء کیدلم اوس زه څلویشت ایاتونه ووایم چې کله یې
له ځان سره لولم داسي راته ښکاري  لکه چې د الله کتاب ( قرانکریم  ) مي زما
مخې ته ایښی وي مخکې به ما حدیث اوریدل  بیا به مي کله چې  پخپله له ځان
سره تکرارول ، یکې  خطاء کیدلم به  او اوس چې حدیث واورم او کله چې یې
پخپله تکراروم یوحرف نه خطاء کوم اونه رانه پاتي کیږي ،رسول الله صلی الله
علیه وسلم وفرمایل : په دی وخت ( اوس ) مؤمن یې قسم په رب دکعبې .

شپږاویاییم خصوصیت: د جمعې په ورځ مړي د ژوندو په  ورتګ خبریږي :

( په دې اړه ابن ابي دنیا اوبیهقي په شعب الایمان کي له  محمد بن واسع نه
روایت کړي )
أخرج ابن أبي الدنيا، والبيهقي في شعب الإيمان، عن محمد بن واسع. قال: "
بلغني أن الموتى، يعلمون بزوارهم يوم الجمعة، ويوماً قبله، ويوماً بعده " .
وأخرجا عن الضحاك. قال: " من زار قبراً يوم السبت، قبل طلوع
الشمس،علم الميت بزيارته. قيل: وكيف ذلك؟ قال: لمكان يوم الجمعة " .

ژباړه: محمدبن واسع ویلي ماته رسیدلي چې: موړي په خپلوزیارت کوونکو  د
جمعې په ورځ او یوورځ مخکي اوورسته خبریږي .

او ابن ابي الدنیا اوبیهقي د ضحاک نه روایت کړی: څوک چې د هفتې په شبه
مخکې له  لمرختو دکوم قبر زیارت وکړي، مړی پرې پوهیږي ، چاویلي  د
جمعې د ورځې له امله ٌ

اُووه اویایم خصوصیت: د جمعې په ورځ موړي په خپلو زیارتکونکو پوهیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



( په اړه ابن ابي الدنيا ، بيهقي په شعب الايمان کې له  محمد بن واسع نه روايت کړی

أخرج ابن أبي الدنيا، والبيهقي في شعب الإيمان، عن محمد بن واسع. قال: " بلغني أن الموتى، يعلمون بزوارهم يوم الجمعة، ويوماً قبله، ويوماً بعده. "
وأخرجا عن الضحاك. قال: " من زار قبراً يوم السبت، قبل طلوع الشمس،علم الميت بزيارته. قيل: وكيف ذلك؟ قال: لمكان يوم الجمعة"

ژباړه: هغه ويلي : ماته رسيدلي ،چې مړي ، په خپلو زيارت کوونکو د جمعي په ورځ او يوه ورځ مخکې او يو ه ورځ د  جمعي نه ورسته خبرېږي

هدا ډول دوی دواړو ( ابي الدنيا ، بيهقي ) له  ضحاک نه روايت کړی ، چې څوک د هفتي په شپه د لمرختو نه مخکې ديو قبر زيا رت وکړي، مړی  په ورتګ کونکې خبرېږي  چا ورته وويل دا څنګه  ځواب يي ورکړ د جمعي د ورځې درتبې له کبله

اته اويا يم خصوصيت : دجمعې په ورځ  د ژوندو اعمال په خپلو  ( مړو) خپلوانو وړاندې کيږي ( په اړه ترمذي الحکيم حديث روايت کړی )
أخرج الترمذي الحكيم في نوادر الأصول، من حديث عبد الغفور بن عبد العزيز، عن أبيه، عن جده. قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " تُعرض الأعمال يوم الاثنين، ويوم الخميس على الله، وتعرض على الأنبياء، وعلى الآباء، والأمهات يوم الجمعة، فيفرحون بحسناتهم، وتزداد وجوههم بياضاً، وإشراقاً " .

ژباړه: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: د ژوندو اعمال د دوشنبې او پنجشنبې په ورځو، الله تعالی ته وړاندي کيږي او د جمعې په ورځ  انبياو، پلرونو  او ميندو ته ، چې دوی يې په ښو اعمالو خوشحاليږي او په مخونو کې يي سپينوالی اوځلا زياتيږي .
وأخرج أحمد بسند جيد، عن أبي هريرة قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: " إن أعمال بني آدم تعرض كل خميس، ليلة الجمعة، فلا يقبل عمل قاطع رحم "

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: احمد په جيد سند سره له ابو هريرة رضى الله عنه نه روايت کړى: وايې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي: د ادم داولاد اعمال وړاندې کولی شي هره پنجشنبه د جمعې په شپه خو د خپلوئ شکونکي عمل نه قبلیږي

نه اويايم خصوصيت: مرغان د جمعې په ورځ وايي: سلام ،سلام ښه ورځ ده ( په دې اړه ابن ابي الدنيا او بيهقي له مطِرف نه روايت کړى )
وأخرج الدينوري في المجالسة، عن بكر بن عبد الله المزنيّ، قال: " إن الطير لتلقي الطير بعضها بعضاً ليلة الجمعة، فتقول لها: أشعرت أن الجمعة غداً " .

ژباړه: دينوري په المجالسة کې د بکر بن عبدالله المزني نه روايت کړى: کله چې مرغان يود بل سره د جمعې په شپه مخامخ شي، يوبل ته وايي: پوهيږې! سبا جمعه ده .

اتيا يم خصوصيت: دجمعې لمونځ ته تلونکي، داسي دي لکه اويابرابره د موسى (عليه السلام ) د قوم

أخرج الطبراني في الأوسط، عن أنس. قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " إذا راح منا سبعون رجلاً إلى الجمعة، كانوا كسبعين موسى: الذين وفدوا إلى ربهم أو أفضل

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: زموږ نه اويا کسه د جمعې لمانځه ته تلونکي، داسي دي لکه هغه اويا کسه د موسى عليه السلام، کوم چې په دليئز ه توګه خپل رب ته تللي وو اويا د هغوى نه هم غوره دي .

يواتيا وم خصوصيت: د جمعې د ورځې روژه، سره له نورو ورځو، د مغفرة سبب ده
( په دې اړه طبراني، بيهقي او اصپهاني په ترغيب کې له ابن عمر رضى الله عنهما نه روايت کړى .

(c) ketabton.com: The Digital Library


اخرج البيهقي، والأصبهاني في الترغيب، عن ابن عمر قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: " من صام يوم الأربعاء، والخميس، والجمعة ثم تصدق يوم الجمعة، بما قلّ من ماله، أو كثر، غُفر له ذنب عمله، حتى يصير كيوم ولدته أمه " .
وأخرج البيهقي في الشعب، عن ابن عباس: " أنه كان يُستحب أن يصوم الأربعاء،

والخميس، والجمعة، ويُخبر أن النبي صلى الله عليه وسلم، كان يأمر بصومهن، وأن يتصدق بما قلّ أو كثُر، فإن فيه الفضل الكثير.

ژباړه: ابن عمر رضی الله عنهما ويلي چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي: څوک چې د چهارشنبې،پنجشنبې اوجمعې په ورځوکې روژه ونيسي اوبيا د جمعې په ورځ صدقه له خپل مال نه لږ يا ډيره ورکړي، د خپل عمل ګناوې ور ببښل کيږي، او داسي به شي لکه چې له موره نوی پيدا شوی وي.

بيهقي په شعب الايمان کې له عباس نه نقل کړي چې: هغه به غوره ګڼله چې پنجشنبه او جمعه روژه ونيسي او داسي به يې خبر ورکولو: چې نبی صلی الله عليه وسلم به په دې ورځو کې په روژه نيولو او د خپل توان سره سم په صدقې ورکولو، لاربښونه کوله ځکه چې په دې کې زيات ثواب دی .

دوه اتيايم خصوصيت: د جمعې شپه سپينه ( غراء ) او ورځ يې ځليدونکې ( ازهر ) ده
(په دې اړه بزاز روايت کړی )
أخرج البزار، أن رسول الله صلى الله عليه وسلم: " كان إذا دخل رجب. قال: اللهم بارك لنا في رجب، وشعبان، وبلِّغنا رمضان، وإذا كان ليلة الجمعة. قال: هذه ليلة غراء، ويوم أزهر

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم به،کله چې د رجب مياشت داخله شوه، داسې به يې فرمايل: ای الله ! موږ لره په رجب او شعبان کې برکت واچوې او ومو رسوې د رمضان مياشتې ته.اوکله چې به د جمعې شپه شوه، ويل به يې: دا سپينه شپه او تازه ورځ ده.
درې اتيايم خصوصيت: دجمعې په شپه لمونځ، د مرګ سختۍ اسانه وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library


أخرج الأصبهاني، عن ابن عباس. قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " من صلى بعد المغرب ركعتين، في ليلة الجمعة، يقرأ في كل واحدة منها بفاتحة الكتاب مرة، وإذا زُلزلت خمس عشرة مرة، هوَّن الله عليه سكرات الموت، وأعاذه من عذاب القبر، ويسَّر له الجواز على الصراط يوم القيامة " .ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې د جمعې په شپه د مآښام لمانځه نه وروسته دوه ركعته لمونځ وكړې ( په داسي شكل سره ) چې په هر ركعت كې الحمد لله نه وروسته پنځلس ځله د اذا زلرلت سورة ولولي، الله تعالى به ورته دمرګ سختۍ اسانه او د قبرله عذابه به خلاصون وركړي او د قيامت په ورځ به په صراط آسانه تيرشي .

څلوراتيايم خصوصيت : د جمعې سلامتي د ټولو ورځو سلامتې ده
( په دې اړه أبو نعيم په حلية كې له عائشې ( رضى الله عنها ) نه روايت كړی
أخرج أبو نعيم في الحلية، عن عائشة قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " إذا سلمت الجمعة، سلمت الأيام " .

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: كله چې د جمعې ورځ سالمه شي نورې ورځي هم سالمې وي .

پنځه اتيايم خصوصيت : د جمعې په ورځ جومات ته د ننوتلو دعا .
( په اړه ابن سني په عمل اليوم والليلة كې له ابو هريرة رضى الله عنه نه روايت كړی )
أخرج ابن السني في عمل اليوم والليلة. عن أبي هريرة، قال: " كان رسول الله صلى الله عليه وسلم، إذا دخل المسجد يوم الجمعة، أخذ بعضادتي الباب، ثم قال: اللهم اجعلني أوجَه مَن توجّه إليك. وأقرب من تقرّب إليك، وأفضل من سألك، ورغِب إليك " . قال النووي في الأذكار: يستحب لنا نحن أن نقول: مِن أوجَه، ومن أقرب، ومن أفضل. بزيادة من.

ژباړه :رسول الله صلى الله عليه وسلم به كله چې د جمعې په ورځ مسجد ته ننوتلو، د دروازې دواړه څنګلي به يي ونيولې، بيا به يې داسي و فرمايل: يا الله ما د هغوخلكو په منځ كې چې تا ورته توجو كړې غوره وګرځوې او د هغوپه جمله كې، چې تا ته نزدې دې، ما غوره وګرځوه او هغه خلک چې ستا نه غوښتنه كوي او تاته يي رغبت دې په هغوكي مي غوره وګرځوه ..

(c) ketabton.com: The Digital Library


شپږاتیا یم خصوصیت: د جمعي په ورځ حجامة مکروه ده .
(په اړه ابویعلی  د حسین بن علي رضی الله عنهما نه روایت نقل کړی )
أخرج أبو يعلى، عن الحسين بن علي. قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " إن في يوم الجمعة لساعة لا يحتجم فيها أحد إلا مات " .
ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: دجمعي په ورځ کې یوساعت دی، څوک چې په هغه کې حجامة ( رګ نه وینه ایستل  ) وکړی نومړ  به شي .

أووه اتیایم خصوصیت : څوک چې د جمعې په شپه مړشي د شهادت اجر ورته ورکول کیږي په دې اړه حمید بن زنجویه له ایاس بن بکیر نه مرسل حدیث نقل کړی)
أخرج حميد بن زنجويه، من مرسل إياس بن بكير. أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: " من مات يوم الجمعة كتب الله له أجر شهيد، ووُقي فتنة القبر

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:  څوک چې د جمعې په ورځ مړ شي  د الله ( جل جلاله ) له خوا دغه سړی ته د شهید اجر لیکل کیږي، او د قبر له عذابه  خوندني کیږي  .

اته اتیایم خصوصیت: په جمعه کې د شر او ویرې نه  د ساتنې لمونځ

( په دې اړه اصفهاني له  ابن عباس نه روایت نقل کړی )

أخرج الأصبهاني، عن ابن عباس. قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " من صلى الضحى أربع ركعات في يوم الجمعة، في دهره، مرة واحدة، يقرأ بفاتحة الكتاب عشر مرات - وقل أعوذ برب الفلق عشر مرات، وقل أعوذ برب الناس، عشر مرات - وقل هو الله أحد عشر مرات، وقل يا أيها الكافرون، عشر مرات. وآية الكرسي، عشر مرات، في كل ركعة. فإذا تشهد، وسلّم، وسلّم. واستغفر سبعين مرة. وسبح، سبعين مرة. قائلاً: سبحان الله والحمد لله. ولا إله إلا الله، والله أكبر، ولا حول، ولا قوة إلا بالله العليّ العظيم. دفع الله عنه شرّ أهل السماوات، وأهل الأرض، وشرّ الإنس، والجن " .

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: څوک چې د څاښت څلور رکعته لمونځ  د جمعې په ورځ  په عمر کې یوځل وکړي ( په داسي شکل سره ) چې لس ځله الحمد لله او لس ځله قل اعوذ برب الفلق لس ځله قل اعوذ برب الناس او

(c) ketabton.com: The Digital Library


لس ځله قل هوالله احد  او لس  کرتې قل يا أيها الکافرون  او لس کرتې آية کرسي په هر رکعت کې ولولي او د تشهد او له سلام اړولونه  وروسته، داسي ووايي : سبحان الله والحمد لله. ولا إله إلا الله والله أکبر ولا حول ولا قوة إلا بالله العليّ العظيم. الله به يې د اسمانو اوځمکې د اوسيدونکو ، انسانانو او پيريانو له شره وساتي .

نه اتيايم خصوصيت: د جمعي د ورځې عرفات په نورو عرفو غوره دی .

وقفة الجمعة، تفضل غيرها من خمسة أوجه. فيما ذكر القاضي بدر الدين ابن جماعة.
أحدها: موافقة النبي صلى الله عليه وسلم، فإن وقفته كانت يوم الجمعة، وإنما يُختار له الأفضل

الثاني: إن فيها ساعة الإجابة.
الثالث: أن الأعمال تَشرُف بشرف الأزمنة، كما تشرف بشرف الأمكنة.
ويوم الجمعة، أفضل أيام الأسبوع، فوجب أن يكون العمل فيه أفضل.
الرابع: أن في الحديث - عن طلحة بي عبيد الله بي كَريز. " أفضل الأيام يوم عرفة إذا وافق يوم الجمعة، وهو أفضل من سبعين حَجَّة في غير يوم الجمعة " أخرجه رَزِين في تجريد الصحاح.
الخامس: إن في الحديث: " إذا كان يوم عرفة جمعة غفر الله لجميع أهل الموقف " قيل له: قد جاء إن الله يغفر لجميع أهل الموقف مطلقاً.
فما وجه تخصيص ذلك بيوم الجمعة في هذا الحديث؟ فأجاب: بأنه يحتمل أن يغفر لهم فيه بغير واسطة، وفي غيره، يَهبُ قوماً لقوم.
ژباړه: قاضي بدرالدين ابن جماعة د جمعې د ورځي دعرفات د فضيلت لپاره پنځه وجوهات ذکرکړي -

۱: په دې کې موافقت د نبی صلی الله عليه وسلم د عرفات له  دريدلو سره دی ځکه چې هغه د جمعي په ورځ په عرفات دريدلی و، د ا وجه ترټولوغوره ده .

۲: په جمعه کې د دعا د قبليدولو  هغه ساعت دی  ۳: عملونه مشرف کيږی په شرافت  د وخت سره ځنګه،چې مشرف کيږی په شرافت د ځايونوسره ۴: د جمعي ورځ  د نورو  ورځود نه غوره ده  نولازمه ده چې عمل هم په دې ورځ کې تر نورو ورځو غوره وي .

www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاين کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴: په حدیث د طلحة ابن عبیدالله ابي کریز کي ذکر شوې: په ټولوورځو کې غوره د عرفات ورځ ده کله چې د جمعي په ورځ وي او دا ( دجمعي دورځې عرفات ) غوره ده تر اویا حجونو پرته د جمعې د ورځې .

روایت د دي حدیث َرزین په تجرید الصحاح کې کړی.

۵: په حدیث شریف کې ذکر شوي: کله چې دجمعې په ورځ عرفات وي، الله تعالی ښنه کوي ټول هغو خلکو ته چې د عرفات په میدا ن ولاړ وي . چا ابن جماعة ته وویل چې په حدیث کې داسي راغلي: چې الله تعالی ټولو دعرفات دریدونکوته ښنه کوي ، نو د جمعي د ورځې تخصیص د څه وجې شوی؟ هغه ځواب ورکړ: احتمال لري چې په عرفات د جمعې کې بې واسطې ښنه ورته کیږي او غیر د عرفات د جمعې یو قوم یې بل قوم ته ښني .

نویم خصوصیت: د جمعې په ورځ د حاجت دعا .
( په دې اړه اصفهاني په ترغیب کې له عبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه حدیث نقل کړی .
أخرج الأصبهاني في الترغيب، عن عبد الله بن عمر، رضي الله عنهما قال: " من كانت له حاجة إلى الله، فليصم الأربعاء، والخميس، والجمعة، فإذا كان يوم الجمعة، تطهّر، وراح إلى الجمعة، فتصدق بصدقة قلّت ، أو كثُرت، فإذا صلّى الجمعة قال: اللهم إني أسألك باسمك. بسم الله الرحمن الرحيم - الذي لا إله إلا هو عالم الغيب، والشهادة، الرحمن الرحيم، وأسألك باسمك - بسم الله الرحمن الرحيم - الذي لا إله إلا هو الحي القيوم، الذي لا تأخذه سِنة ولا نوم، الذي ملأت عظمته السماوات، والأرض، الذي عنت له الوجوه، وخشعت له الأصوات، ووجِلت القلوب من خشيته. أن تصلّي على محمد - صلى الله عليه وسلم - وأن تُعطيني حاجتي، وهي كذا، وكذا، فإنه يُستجاب له " .

ژباړه: عبد الله بن عمر ( رضی الله عنهما ) فرمايلي : دچا چې الله تعالی ته کوم حاجت وي نود چهارشنبې اوپنجشنبې اوجمعې په ورځو کې دي روژه ونيسی کله چې د جمعې ورځ شي پاکې دي وکړي او د جمعې لمونځ ته دي ولاړ شي اوصدقه دي دخپل وس مطابق ورکړې، کله چې د جمعې لمونځ وکړ ې داسي دي ووايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


یا الله! تا نه غوښتنه کوم ستا په نوم بسم الله الرحمن الرحیم – هغه چې نشته په حقه معبود پرته د هغه، په پټ، څرګندو پوهه دی عام مهربان دی اوخاص په مسلمانانو مهربان دی ( په ورځ داخرت ) زه غوښتنه کوم په نوم ستا – بسم الله الرحمن الرحیم – چې نشته په حقه معبود ( چاته چې عبادت کیږي ) مګرهغه دی ژوندی دی او چاته اړ تیا نه لري، هغه ذات چې پرکالي اوخوب نه پرې راځي، هغه ذات چې دهغه لويې اسمانونه اوځمکې ډکې کړې دي، هغه ذات چې مخونه اوغړونه هغه ته تابع دي او زړونه د هغه نه په ویره کې دي ته ( الله جل جلاله ) درود نازل که په محمد صلی الله علیه وسلم او زما حاجت چې هغه پلاني ،پلانی حاجت دی ، پوره کړه نوحاجت به یې پوره شي .

یونوی یم خصوصیت : د جهنم د روازې د جمعې په ورځ بندیږي.
وهذه غير الخصلة السابقة: أنها لا تسجر فيه أخرج أبو نعيم، عن ابن عمرو، أن النبي صلى الله عليه وسلم. قال: " إن جهنم تُسعر كل يوم، وتُفتح أبوابها، إلا يوم الجمعة، فإنها لا تُفتح أبوابها، ولا تُسعر "

ژباړه: دا خصوصیت د تیر شوې خصوصیت : چې د جعې په ورځ جهنم نه ګرمیږي توپیرلري ) ابو نعیم د ابن عمرو نه روایت کړی، چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي: جهنم هره ورځ ګرمیږې او دروازې یې خلاصیږې مګر، د جمعې په ورځ

دونویم خصوصیت: د جمعې په شپه سفر کول مستحب دی .
( په دې اړه طبراني له ام سلمه نه ،کعب بن سعید او بریدې نه په اوسط کې احادیث نقل کړي )
او أخرج الطبراني عن أم سلمة، قالت: " كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يُحب أن يسافر يوم الخميس " .
وأخرج في الأوسط، عن كعب بن سعد. قال: " ما كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يخرج إلى سفرٍ، ويبعث بعثاً إلا يوم الخميس " وأصله في الصحيح.
ومن الأوسط أيضاً، عن بُريدة: " كان رسول الله صلى الله عليه وسلم، إذا أراد السفر، خرج يوم الخميس " .

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم به دا غوره ګڼله ،چې د پنجشنبې په ورځ سفر وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسول الله صلی الله علیه وسلم به خپله هم دېنجشنبې په ورځ سفرته وتلواونور به يې هم په همدې ورځ لېږلو .

درى نويم خصوصيت: د ملايکو ليکل هغه چا لره، چې د جَمعې لمونځ د جُمعې په ورځ وکړي

( په دې اړه عبدالله بن احمد په زوائد زهد کې له ثابت بناني نه روايت کړی )
أخرج عبد الله بن أحمد، في زوائد الزهد، عن ثابت البناني. قال: " بلغنا أن لله ملائكة معهم ألواح من فضة، وأقلام من ذهب، يطوفون، ويكتبون من صلّى ليلة الجمعة، ويوم الجمعة في جماعة " .

ژباړه: ثابت بناني ويلي: موږ ته رسيدلي چې الله ( جل جلاله يوشمير داسې ملايکان دي چې د هغو سره د سپينوزرو تختې اود سرزرو قلمونه وي، هغوی ګرځي او څوک چې د جُمعې په شپه او د جمعې په ورځ لمونځ په جماعت سره کوي، نومونه يې ليکي.

څلورنوی يم خصوصيت: د نبی صلی الله عليه وسلم په خوب کې د ليدلو لمونځ

( په دې اړه ابن عساکر په خپل تاريخ کې له محمد بن عکاشه له لارې له محمود بن معاويه بن حماد الکرماني نه او هغه له زهري نه روايت کړی )

أخرج ابن عساكر في تاريخه، من طريق محمد بن عكاشة، عن محمود بن معاوية بن حماد الكرماني، عن الزهري، قال: " من اغتسل ليلة الجمعة، وصلّى ركعتين، يقرأ فيهما قل هو الله أحد ألف مرة، رأى النبي صلّى الله عليه وسلّم في منامه " .

ژباړه: زهري ويلي: څوک چې د جمعې په شپه غسل وکړې او دوه رکعته لمونځ وکړي اوپکې قل هوالله احد زر کرتې ولولي نبي صلی الله عليه وسلم به په خوب ويني .

پنځه نويم خصوصيت: د جمعې په ورځ د مسلمان وروروپوښتنه کول
(په دې اړه جرير د انس رضی الله عنه نه روايت کړی )

(c) ketabton.com: The Digital Library


أخرج ابن جرير، عن أنس رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم في قوله تعالى: (فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلاَةُ، فَانْتَشِرُوا في الأَرْضِ) الآية. قال: " ليس لطلب دنيا، ولكن لعيادة مريض، وحضور جنازة، وزيارة أخ في الله "

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم د الله تعالى په دی قول کې:کله چې تاسود جمعې لمونځ اداکړي! نو په ځمکه کې خواره واره شي! فرمايلي دا ( خوريدل په ځمکه کې ) د دنيا د طلب لپاره نه دي، بلکې د مريض د پوښتنې اود جنازې ( دورتګ ) او د مسلمان ورور د پوښتني لپاره دي .
.شپږ. نوې يم خصوصيت: د جمعې په ورځ هيڅ وخت لمونځ مکروه نه ده .
لا تكره الصلاة فيه
بعد الصبح، ولا بعد العصر عند طائفةٍ أخرج ابن أبي شيبة في المصنف، عن طاوس. قال: " يوم الجمعة صلاة كله " .
وإن صحّ ذلك، كان فيه تأييد لكون ساعة الإجابة قبل الغروب، ولا يُردّ أنها ليست بساعة صلاة.

ژباړه: د جمعې په ورځ لمونځ نه دی مکروه په نزد د يوې ډلي علماو، ابن ابي شيبه په خپل (کتاب ) المصنف کې له طاوس نه روايت کړی: د جمعې ورځ ټوله لمونځ دی .

اونوی يم خصوصيت: د جنت د ليدلو لمونځ .
( په دې اړه دارقطني په الغرائب ،الخطيب په يو روايت کې له مالک نه چې هغه له ابن عمر نه روايت کړی )

خرجه الدارقطني في الغرائب، والخطيب، في رواية مالك، عن ابن عمر. قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " من دخل يوم الجمعة المسجد، فصلّى أربع ركعات، يقرأ في كل ركعة بفاتحة الكتاب، وقل هو الله أحد خمسين مرة، فذلك مائتا مرة، في أربع ركعات، لم يمت حتى يرى منزله في الجنة، أو يُرى له " .

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلی : څوک چې دجمعې په ورځ جومات ته داخل شي ، څلور رکعته لمونځ وکړي په هر رکعة کې فاتحة الکتاب ( الحمد لله ) ولولي او قل هوالله احد،پنځوس کرته ولولي چې دا دوه سوه کرته په څلورو رکعتونو کې شونو ( ويونکی ) به مړ نه شي څوچې خپل ځای په جنت کې اُونه ويني اويا ور ته اُوښودلی نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اته نوې یم خصوصیت: د مجلس پرېښودل د جمعي په شپه .
( په دې اړه الدیلمي له عائشې رضی الله عنها نه حدیث نقل کړی )
أخرج الديلميّ، عن عائشة مرفوعاً: " لا يفقه الرجل كل الفقه، حتى يترك مجلس قومه عَشيَّة الجمعة " .

ژباړه: دعائشة رضی الله عنه نه مرفوع حدیث دي: پوهه سړی هغه دی، چې د خلکو مجلس دجمعې په ماشام پرېږدي .
نه نویم خصوصیت: د الله جل جلاله فخرکول په ملائکو، په سبب د خپلو بندګانو.
( په دې اړه ابن سعد په طبقات د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لمسې حسن بن علی نه روایت کړی -

أخرج ابن سعد في طبقاته، عن الحسن بن علي. رضي الله عنهما، سِبط رسول الله صلى الله عليه وسلم. قال: " إن الله تعالى يُباهي ملائكته بعباده، يوم عرفة يقول: عبادي جاءوني شُعثاً، يتعرضون لرحمتي، فأُشهدكم أني غفرت لمحسنهم، وشفّعت محسنهم في مسيئهم، وإذا كان يوم الجمعة فمثل ذلك

ژباړه: الله تعالی په ورځ د عرفات دملائکو په وړاندې فخرکوي په سبب د خپلوبندګانو سره (الله جل جلاله ) فرمایي: زمابندګان ماته ببر سر شندلي ویښتان راغلي، زما د رحمة په لټه کې دي، تاسودې شاهدان یاست ، چې ما د دوی نیکانو( ښو) ته ښښنه وکړه او د نیکانو سپارښتنه مې دبدانوپه اړوند قبوله کړه. چې کله د جمعې ورځ وي نودا (عمل ) دوه برابره شي .

پوره کونکې دسلم خصوصیت: قبوله دعا.
په دې اړه خطیب په خپل تاریخ کې لاندې حدیث په اوږده سند له جابر رضی الله تعالی عنه نه حدیث نقل کړی )
قال الخطيب في تاريخه: أخبرني محمد بن أحمد بن يعقوب، أخبرني محمد بن نعيم الضبّي، حدثني أبو علي الحسين بن علي الحافظ، حدثنا أبو جعفر أحمد بن حمدان العابد. حدثنا إسحاق بن إبراهيم القفصي، حدثنا خالد بن يزيد العمري أبو الوليد، حدثنا ابن أبي ذئب، حدثنا محمد ابن المنكدر، قال: سمعت جابر بن عبد الله يقول: " عُرض هذا الدعاء على رسول الله صلى الله عليه وسلم. قال: لو دُعي به على شيءٍ من المشرق إلى المغرب في ساعة من يوم الجمعة، لاستجيب لصاحبه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا إله إلا أنت يا حنان، يا منان، يا بديع السماوات، والأرض، يا ذا الجلال والإكرام " .

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دا دعا وړاندي کړی شوه هغه وفرمایل: که په دې دعا د جمعې په هغه ساعت کې دیوشی غوښتنه و شي، له ختیځ نه تر لویدځه، خامخا به له ویونکی نه قبوله شي ( هغه دعا داده ) نشته په حقه معبود پرته له تا ،ای مهربانه! ای احسان کونکېه! ای د اسمانونواوځمکو پیداکوونکېه ای د لويې اوعزته څښتنه! . ( پورته دعابه په عربي لوستل کيږي چې په حدیث کې ذکرشوي مايي ترجمه د پوهاوې لپاره وکړه)[5]

یوسل اویوخصوصیت: د جمعې ورځ به د قیامت په ورځ، د ناوې په شکل وي په دې اړه حاکم او ابن خزیمةاو بیهقي له ابو موسی الاشعري رضی الله عنه نه روایت کړی)

أخرج الحاكم، وابن خُزيمة، والبيهقي، عن أبي موسى الأشعري. قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " إن الله يبعث الأيام يوم القيامة على هيئتها، ويبعث الجمعة زهرة منيرة أهلها يحفون بها كالعروس تُهدى إلى كريمها، تُضيءُ لهم، يمشون في ضوئها، ألوانهم كالثلج بياضاً، وريحهم يسطع كالمسك، يخوضون في جبال الكافور، ينظر إليهم الثقلان، لا يطرقون تعجباً حتى يدخلوا الجنة، لا يُخالطهم أحد إلا المؤذنون المحتسبون "
تم بحمد الله وعونه ژباړه: رسول الله صلی الله علیه علیه وسلم فرمایلي: الله تعالی به په ورځ د قیامت د دنیا ورځې په خپل شکل سره راپورته کړ ي او دجمعې ورځ به تازه،روښانه راپورته کړي د جمعې اهل به هغه په پښو بیایي، لکه ناوې هغه چاته به ورکولی شي،چې ترټول غوره وي او دوی ته به رڼا کوي، دوی به د هغې په رڼاکې ځي او رنګونه به ئیې داسي وي، لکه واوره په سپینوالي کې اوبوی به یي داسي څرګندیږی لکه مشک دوی به دکافورو په غرونوکې اوړي را اوړي، انسانان اوپیریان به ورته ګوري له حیرانی به سترګې نه ترې اړوي ، ترڅو چې دوی جنت ته داخل شي، بل څوک به ورسره نه یوځای کیږي مګر هغه څوک،چې د الله ج درضاء لپار ه اذان کوي .

[5] ژباړن ، رښتین :

(c) ketabton.com: The Digital Library



پای د الله په مرسته او ثناء سره .

د ژباړې شروع په ( ۷) د جنوري ۲۰۱۴میلادی او پای ۲۸ جنوري ۲۰۱۴ پیښور ګل اباد نمبردو، وخت یوه بجه او لس دقیقې الحمد لله ( مولوي حزب الله رښتین

فاضل وفاق المدارس العربیه ، لیسانسه شرعیات پوهنتون کابل افغانستان

ماستر اسلامیات و عربی پیښور یونیورسټۍ

یادونه ! د جمعې مبارکې خصوصیا ت د علامه جلال الدین السیوطي رحمه الله کتاب ( اللمعة في خصائص الجمعة ) په پښتوژبه د الله جل جلاله په فضل وژباړل شو په راتلونکوڅو پاڼو کې د جمعې د لمانځه په هکله ما ( رښتین ) د احنافو له معتمدوکتابو تحقیقي مسلې را ټولې کړې، که په غور وکتل شي، ان شاالله تعالی فایده به ترې واخیستل شي .

# د جمعې لمونځ فرض عین دی

**ترتیب کوونکی:** مولوی حزب الله رښتین

فاضل وفاق المدارس العربیة ملتان

ماستر اسلامیات و عربی پیښور یونیورسټۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library


الثناء والاستجابة من ملک السموات والارض الذی لایأخذه سنة ولانوم .

الحمدلله و کفی والصلوة والسلام علی عباده الذین اصطفی وعلی اله واصحابه الذین هم نجوم الهدی وعلی  من اتبع  هدایتهم الی یوم النداء وعلی من یحمی الاسلام  بدمائهم الغالیه ویکون نصرالاسلام من اسمی آمانیهم الذین هم فی میادین الابتلاء الصعبة اسئل الله تعالی ان یحفظهم من شرالعدوالمتجاوز، وان ینصرهم فی الازمنة القریبة الاتیة وان یحفظهم و یظهر اسم الله عز وجل فی کل مکان ، من ارض الله القریبة الملقبة بالقلب فی کرة الارض الشهیرة  فی العالم کله،َوأَلهَم الحریةَ فی العالم کله،   وتقبل الله منا ومنهم  والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته .

www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاین کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library


بسم الله الرحمن الرحيم

www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاین کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډالۍ**

**د علم اوپوهې څښتنانوته يي ډالۍکوم**

## شيخ القران والحديث مولوي سيدرسول حليم حفظه الله  تقريظ

***نحمده و نصلی علی رسوله الکريم ونشهد ان لا اله الا الله ونشهدان محمداً عبده ورسوله امابعد: دا رساله مو مطالعه کړه په ډيره مهمه موضوع ليکل شوې او ماشاء الله تعالی په دقيق ډول او اخلاص ليکل شوې او په هره مسئله يې دليل وړاندې شوی دی  له دې سره د اسلامي نړی د شيوخ القران، د شيوخ الاحاديث او مفتيانو عمل سره موافقه هم ده، الله تعالی مؤلف مولانا حزب الله ته عظيم اجر ورکړي او الله  تعالی دې ذريعه د هدايت وګرځوي والسلام سيدرسول الحليم ----------------------۱۸ ربيع الثانی ۱۴۳۲ هجري ، مطابق ۲۳-۳-۲۰۱۱-م-۱۳۹۰***

www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاين کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



| مخ | عنوان | شمیره |
|---|---|---|
| ۱۰۷ | **د مؤلف لنډه پېژندنه** | ۱ |
| ۱۰۸ | سریزه | ۲ |
| ۱۱۱ | لومړی فصل: دجمعې تعریف | ۳ |
| ۱۱۱ | لمړی مبحث : دجُمْعِې د لفظ استعمال | ۴ |
| ۱۱۴ | **دویم مبحث: د جمعې د لمانځه شرعي حکم** | ۵ |
| ۱۲۱ | **دریم مبحث : د جمعې دلمانځه شرطونه** | ۶ |
| ۱۲۱ | **الف: دجمعې د لمانځه دوجوب شرطونه** | ۷ |
| ۱۲۴ | **ب : د جمعې د لمانځه د اداء شرطونه** | ۸ |
| ۱۳۰ | **څلورم مبحث: د جمعي دلمانځه سنت** | ۹ |
| ۱۳۸ | **پنځم مبحث : اوله جمعه په اسلام کې** | ۱۰ |
| ۱۳۸ | **دویم فصل : دجمعې د لمانځه فضیلت .** | ۱۱ |
| ۱۳۸ | **لمړی مبحث : په اول وخت کې دجمعې لمانځه ته تلل** | ۱۲ |
| ۱۴۰ | **دویم مبحث: په اسلام کې دجمعې لمړی انعام** | ۱۳ |
| ۱۴۲ | **دریم مبحث: د جمعې د لمانځه په نه کولو وعید** | ۱۴ |
| ۱۴۳ | **مبحث: د جمعې لمانځه ته په څومراندازه مسافه کې تلل لازمی دي** | ۱۵ |
| ۱۴۵ | **دریم فصل: داخترونو لمونځ** | ۱۶ |
| ۱۴۵ | **لمړی مبحث: د اختر د لمنځ حکم .** | ۱۷ |
| ۱۴۵ | **دویم مبحث: د اخترد لمنځونو شرطونه** | ۱۸ |
| ۱۴۷ | **دریم مبحث: د اخترنو فضیلت** | ۱۹ |


**لړلیک**

www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاین کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مؤلف لنډه پېژندنه**

مولوي حزب الله رښتين د مولوي محمد حسين اخوندزاده زوى د غزني ولايت د اندړو د ولسوالۍ د هوښيار د کلي اوسيدونکى چې ابتدايي زده کړي يې د خپل اروابښاد، پلار نه کړې او په ( ۱۳۵۷ ) کال د غوايي له تورې او کرغيړني کودتا وروسته پېښورته مهاجر شو، هلته يې دپاکستان په مدارسو کې له جيدو استادانو درس نظامي ( هغه نصاب چې مولنانظام الدين رح د اسلامي مدرسولپاره جوړ کړى په پاکستان کې ورته درس نظامي ويل کيږي ) په مکمله توګه ولوست د وفاق ا لمدارس درسي سلسله يې ( خاصه ، عاليه او عالميه ) پاي ته ورسوله، او دحديثو لويه دوره يې د شهيد شيخ الحديث محمد حسن جان المدني رحمه الله تعالى نه وکړه، چې ورسته يې دکابل پوهنتون شرعياتو پوهنځي ولوستلو له دې نه وروسته يې په برياليۍ توګه د پېښورپه يونيورستۍ کې په اسلامياتو او عربى کې دوه ماسټرۍ ترلاسه کړې

دندې: په پېښور، اسلام اباد اوکابل کې د بهريوچارو په وزارت کې فرهنګي، سياسي او اداري دندې ترسره کړې دي، چې په ورستيوکې د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي د ثقافت ا سلامي استاد او ورسره د لوړو زدکړو د وزارت دبهرنيواړيکواوفرهنګي چارو رئيس

*ليکنې*

۱: د جمعي لمونځ فرض عين دى ۲: ښځه په اسلام کې ۳: دود، که اسلام ؟

۴: د اسلام سياسي نظام ۵: سوله په اسلام کې.

پښتوته ژباړې ۱: کشف ا لغطآء عن تبليغ النسآء، د مفتى سيف الله حقاني تاليف.

۲: اللمعة في خصائص الجمعة، د امام جلال الدين سيوطي تاليف .

سريزه

په ګران افغانستان کې د سياسي کړکيچونو له امله علمي بهيرمتاثره شو ى دى، د مقدس جهاد په دوران کې چې افغانانو خپل ټاټوبى ديرغلګرو له پنجو د الله سبحانه وتعالى په فضل او په خپله نه هيريدونکي قربانۍ اوکړاونو او هجرتونو سره ازادکړ، د هجرت په دوران کې د علم اوپوهي سلسله ښه روانه

www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاين کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library


وه، هرچا د خپل توان مطابق کاروکړ. په ورستيو دوو لسيزو،کې چې سياسي استقرار پکې وجود نه لري ، نوره هم زموږ په علمی بهيرناوړه اغيزه وکړه. د هرپوه مسلمان افغان دا ايماني فريضه ده، چې دخپل علمي استعداد نه خپلې ټولنې ته څه وړاندې کړي اوپه خاصه توګه په پښتو خوږه ژبه زياتې ژباړې وشي، ترڅو زموږ مجاهد غيرتي ولس په اسانیسره ترې فائده واخلي. زموږ دټولنې اسلامي اقتصادي ، ټولنيز او ادبي بلکې هراړخيز پرمختګ، يوازې او يوازې په پوهه پورې تړلی دی .

که موټولنه د زدکړي له نعمت نه په زياته پيمانه برخمنه شي، يوخو به ټولنه کې د اسلام ضد دودونه بندشي اوپه هغو لارو به روانه شي، کوم چې د نبی صلی الله عليه وسلم نه په صحيح سند ثابتې شوې وي.اوعلمې څيړنې به رامنځته شي، د صحيح او ضعيف حديث ترمنځ به توپير وشي، د بدعتونو د ترويج لړۍ به پای ته ورسيږي.

که موږ يوه څيړونکې ټولنه ولرو نو هېڅ کله به خپل منځی اختلاف کې ښکيل نه شو، د خپل ملت په اړه به د چا نه منو، خپلې ځاني ګټې به دټولنې په ګټو نه مخکې کوو، ولې چې دا به مو کلکه عقيده وی چې خپل خالق ته به د هرڅه په هکله ځواب ورکوو، ژوند به پای ته ورسيږی، خو کړنه به مولکه دنورو دتاريخ قلم ته وسپارله شي. همدا پوهنه ده، چې موږ ته د خپل واکۍ الهام راکوي .که موږ ټول په شريکه مسلمانان ورونه سره واوسو، نوبيابه اوسني او اينده نسل ته د پرمختګ يوه ښه لاره په لاس ورکړو،کيدی شي داسيازړه داسي سمسورشي، څنګه يې چې غيرتي افغانان په خپلو خيالونوکې انځوروې ان شا ء الله .

په راتولونکو څو پاڼو کې غواړم په يوه مهمه ديني مسئله چې هغه د جُمُعِې اواختر لمونځ دي بحث وکړم، دا ځکه چې په ډيرو ځايونو کې خلک د اختر او جمعي لمونځونه نه کوي ، څوک وايي چې په اوس وخت کې يې شرايط برابر نه دي، څوک وايي چې وطن مو اشغال دی، په ځينو جنوبي ولايتونو کې اکثره خلک ډيره علاقه ورسره نه لري او د دې خبرې علت دادی، چې د فقهې په کتابونو کې د جمعې د لمانځه لپاره د وجوب په شرطونو کې يوشرط د ښار ذکرشوی دی او دښار په تعريف کې يې ويلي: چې هغه ځای ته ويلی شي، چې امير او قاضي ولري او شرعی حدود په کې نافذ وی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اوسني وخت کي دا شرطو په ټول عالم اسلام کې پوره نه لیدل کیږي نوبیاخو غوښتنه داسې ده، چې په هیڅ ځای کې د جمعې لمونځ نه شي روا خو داسي نه ده

د ښار دا تعریف په یو موقوف قول ( علی کرم الله وجهه ته منسوب ) شوی او علماوو دښار نور تعریفونه هم کړي، ردالمحتار او تبیین الحقائق شرح کنز الدقائق له امام ابویوسف ( رح ) نه نور روایتونه هم دښار په تعریف کې نقل کړی.

۱: ښار هغه ځای ته ویل کیږي چې د هغه ځای خلک که سره راټول شي، ترټولو په غټ مسجدکې به ځاي نه شي . ۲: ښار هغه ځای ته ویلی شي، چې په هغه ځای کې د خلکو لومړنې اړتیاوې پوره کیږي اود لومړنیواړتیاوو کسب ګر په کې موجود وي .

دا چې د جمعې لمونځ د قرانکریم په آیت ثابت شوی او فرض عین دی او فقهاوو یوازې یوتعریف دښار نه دی کړی، چې که هغه تعریف موجود نوي نو موږ به د جمعې لمونځ پریږدو بلکې نور تعریفونه یې هم دښار کړي دي،څنګه چې پورته مې دوه نورتعریفونه د امام یوسف رحمه الله نه ذکر کړل، کله چې دا تعریفونه موجود شي، د جمعې لمونځ په هغه ځای کې بیا فرض عین ګرزي .د جمعې د لمانځه په مسئله به ان شاالله تعالی په راتلونکو پا ڼو کې بحث وکړم . د یادونې وړده، چې زه به راتلونکې رساله کې د خپل حنفي مذهب د علماوو اقوال له معتمدو او مشهوروکتابو اخلم اوکوښښ به کوم ، چې ټول تحقیق د خپل مذهب دکتابونو په رڼاکې وکړم .

حنفي فقه د قرانکریم او د نبی صلی الله علیه وسلم له سنتو مستنبطه او دعلماوو کرامو په نه هیریدونکو کوښښونو او اجتهادونو ولاړه ده، چې احوطه ، موثقه او ترټولو زیات پیروان لري . په راتولونکې رساله کې درې فصله دي، چې ګڼ شمیر بحثونه لري اوبله خاتمه ده چې دکتاب خلاصه پکې رانغاړل شوې، الله (ج) نه توفیق غواړم چې د خپل توان مطابق یې ترتیب کړی شم او داستفادی وړیې و ګرځوي .

لومړی فصل : د جمعې تعریف :

لومړی مبحث : دجمعة د لفظ استعمال:

www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاین کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



جَمَعْتُ الشيءَ المتفرقَ فاجْتَمَعَ وجُمَّاعُ الناس بالضم: أَخْلاطُهُمْ، وهم الشابة من قبائلَ شتَّى. والجَمْعُ: مصدر قولك جَمَعْتُ الشيء. وقد يكون اسماً لجماعة الناس ويُجْمَعُ على جُموعٍ، [6]

الْجُمُعَةِ ) بِضَمِّ الْمِيمِ وَإِسْكَانِهَا وَفَتْحِهَا وَحُكِيَ كَسْرُهَا قَالَ الْمَاوَرْدِيُّ كَانَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ يُسَمَّى فِي الْجَاهِلِيَّةِ عَرُوبَةَ قَالَ الشَّاعِرُ : نَفْسِي الْفِدَاءُ لِأَقْوَامٍ هُمُو خَلَطُوا يَوْمَ الْعَرُوبَةِ أَوْرَادًا بِأَوْرَادِ وَكَانُوا يُسَمُّونَالْأَحَدَ أَوَّلَ ، وَالِاثْنَيْنَ أَهْوَنَ ، وَالثُّلَاثَاءَ جُبَارًا ، وَالْأَرْبِعَاءَ دُبَارًا ، وَالْخَمِيسَ مُؤْنِسًا ، وَالسَّبْتَ شِيَارًا قَالَ الشَّاعِرُ أُؤَمِّلُ أَنْ أَعِيشَ وَإِنَّ يَوْمِي بِأَوَّلَ أَوْ بِأَهْوَنَ أَوْ جُبَارِ أَوْ التَّالِي دُبَارِ فَإِنْ أَفُتْهُ فَمُؤْنِسٍ أَوْ عَرُوبَةَ أَوْ شِيَارِ [7] .

ژباړه: ګڼ شیان مې سره یوځای کړل، هغه سره یوځای شول او جماع الناس بالضم ، مختُلف ځوانان د بیلا بیلو قبیلو سره یوځای کیدل او جَمْعً مصدردجَمَعْتُ الشيء دی معنی یي: یوشی رایوځای کول اوکله دخلکو د ډلې لپاره نوم وي او جَمْعَه یې جُمُوع دی او جُمَاع په پیښ سره مخلوط ځوانان د مختلفو قبائلو نه .

جمعه د میم په پیښ، سکون او زور سره تلفظ کیږی او په زیرسره هم لوستلې شي او ماوردي ويلي: د جمعې ورځ د جاهلیت په زمانه کې د عروبې په ورځ نومول شوې وه

لکه چې شاعر ويلي: له هغو قومو ځار شم،چې دوی به د عروبې په ورځ ، ډلې ډلې سره سره یوځای شول عربو یکشنبې ته اول، دوشنبې ته اهون ، سه شنبې ته ُجباراً ، چارشنبې ته دُباراً ، پنجشنبې ته مؤنساً اوشنبې ته شیاراً ويل.

یوشاعر په خپل شعرکې ټولې ورځې داسې یادې د ي

( زه په امیدسره خپل ژوندتیر وم او زماورځ ( د مرګ ) به یا اول اویا اهون اویا ، جُباراً اویا ورپسي به دُباراً وي اوکه د دې نه هم پاتې شوم نوبیابه

[6] : الجوهری نصر بن عاصم الیثی ، الصحاح في اللغة ، ج، ١، دارالکتب العلمیه ، الطبع الثالثه ، ١٤١٤هجری بیروت لبنان - ص ، ١٠٠- -

٣:ابو یحی ذکری ، شرح البهجة الوردي ج ، ٤، دارالکتب العلمیه الطبعه الرابعه ، ١٤١٣هجری ، بیروت لبنان ، ص ، ٤٩٠-

www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاین کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مؤنسِ اویا عروبةِ او یا به شِیَاِر وي ) نود جمعې دورځې معنا: د خلکو یوځای کیدل، په دی ورځ هم خلک د لمانځه لپاره سره رایوځای کیږي .**

**د جمعې اصطلاحي تعریف :**

**الْجُمُعَةِ بِتَثْلِيثِ الْمِيمِ ، حَكَاهُ ابْنُ سِيدَهْ ، وَالْأَصْلُ الضَّمُّ .[8]**

**وَاشْتِقَاقُهَا : مِنْ اجْتِمَاعِ النَّاسِ لِلصَّلَاةِ ، وَقِيلَ : لِجَمْعِهَا الْجَمَاعَاتِ ، وَقِيلَ : لِجَمْعِ طِينِ آدَمَ فِيهَا .**

**وَقِيلَ : " لِأَنَّ آدَمَ جُمِعَ فِيهَا خَلْقُهُ " رَوَاهُ أَحْمَدُ مِنْ حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ .وَقِيلَ لِأَنَّهُ جُمِعَ مَعَ حَوَّاءَ فِي الْأَرْضِ فِيهَا ، وَفِيهِ خَبَرٌ مَرْفُوعٌ ، وَقِيل: لِمَا جُمِعَ فِيهَا مِنْ الْخَيْر**

**أَوَّلُ مَنْ سَمَّاهُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ كَعْبُ بْنُ لُؤَيٍّ ، وَاسْمُهُ الْقَدِيمُ : يَوْمُ الْعُرُوبَةِ ، وَهُوَ أَفْضَلُ أَيَّامِ الْأُسْبُوعِ . وَهِيَ ( أَفْضَلُ مِنْ الظُّهْرِ ) ، أَيْ : مِنْ ظُهْرِ يَوْمِهَا مِمَّنْ تَجِبُ عَلَيْهِ بِلَا نِزَاعٍ ،.**

**ژباړه: د جُمُعِې لفظ د میم په در ي ګونې حرکت سره لوستلی شي، داخبره ابن اسیده کړي ده، په اصل کې د میم پیښ دی ، او جمعه د اجتماع د خلکو لپاره**

[8] : الداغستانی محمدامین بن ملا احمد، مطالب أولي النهى في شرح غاية المنتهى ج، ٤، مطبعه داغستان خوارزم ، ١٣٨٥، هجری ، الطبعه الخامسه ، ص ، ١٢٧- ، المکتبه الشامله،الاصدارالثانی ، أي مقترحات أو ملاحظات ترسل إلى nafeemail@yahoo.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لمانځه نه مشتقه ( اخستل ) شوې او ځکه ورته جمعه وايې چې تُولَئْ تُولُئْ خلک په دې ورځ سره یوځا ی کيږي او د ادم علیه السلام خټهَ په دي ورځ سره رایوځای کړ شوې وه ځکه ورته جمعه وايي او ویل شوی چې ادم علیه السلام په دی ورځ حوا بې بې سره په ځمکه یوځای شوی و،چې په دې مورد کې یو مرفوع حدیث هم شته او ځکه ورته جُمْعَه وايي: چې هرقسمه خیر پکې جَمْعه دی دا ورځ لومړی ځل په دې نوم ( جمعی ) سره کعب بن لؤي اونوموله، او پخوانی نوم یې عروبه ( د ښکلا ورځ) و .دا د هفتې تر ټولو ورځو غوره ده او په اتفاق دعلماوو، د جمعې لمونځ د ماسپښین لمانځه نه غوره ده .**

**دويم مبحث : د جمعې د لمانځه شرعي حکم:**

امام محمد بن اسماعيل البخارې رحمه لله تعالی په خپل مشهور کتاب صحيح البخاري کې یو مستقل باب په دې خبره قائم کړی دی، چې د جمعې لمونځ فرض دی.

**بَاب فَرْضِ الْجُمُعَةِ لِقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى[9]**

**{ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ }**

ژباړه: باب دی په فرض د جمعې کې، د الله تعالی په دې وینا:

کله چې اواز وشي لپاره د لمانځه د ورځې دجمعې، نو د الله تعالی ذکر ( لمونځ او خطبه) ته ولاړ شئ او خرڅول پريږدئ او دا ستاسو لپاره غوره عمل دی،که پوهيږئ ) په مطالب اولی النهی چې شرح د غاية المنتهی دی د جمعې د لمانځه د لمړي ځل د فرضيت واقعه په لاندې عنوان سره ذکرکړي ده.

**( وَفُرِضَتْ بِمَكَّةَ قَبْلَ الْهِجْرَةِ ) ، لِمَا رَوَى الدَّارَقُطْنِيّ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ[10] ، قَالَ { : أُذِنَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجُمُعَةِ قَبْلَ أَنْ يُهَاجِرَ ، فَلَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يَجْمَعَ**

[9] : بخاری محمد بن اسماعیل صحیح البخاری ، ج ،۳،دریم چاپ ،۱۳۸۱هجری مطبعه : ،ایچ ، ایم سعید کمپنی ،کراچی پاکستان ،ص ۳۸۷–

۱۱: الداغستانی محمدامین بن ملا احمد، مطالب أولي النهی في شرح غاية المنتهی ج، ٤، مطبعه داغستان خوارزم ، ۱۳۸۵، هجری ، الطبعه الخامسه ، ص ، ۱۲۷– ، المکتبه الشامله،الاصدارالثانی ، أي مقترحات أو ملاحظات ترسل إلى nafeemail@yahoo.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بِمَكَّةَ ، فَكَتَبَ إِلَى مُصْعَبِ بْنِ عُمَيْرٍ : أَمَّا بَعْدُ ، فَانْظُرْ إِلَى الْيَوْمِ الَّذِي تَجْهَرُ فِيهِ الْيَهُودُ بِالزَّبُورِ لِسَبْتِهِمْ ، فَاجْمَعُوا نِسَاءَكُمْ وَأَبْنَاءَكُمْ ، فَإِذَا مَالَ النَّهَارُ عَنْ شَطْرِهِ عِنْدَ الزَّوَالِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ ، فَتَقَرَّبُوا إِلَى اللَّهِ بِرَكْعَتَيْنِ } .فَأَوَّلُ مَنْ جَمَعَ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ حَتَّى قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ ، فَجَمَعَ عِنْدَ الزَّوَالِ مِنْ الظُّهْرِ وَالْجَمْعُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ قَوْلِ مَنْ قَالَ : أَوَّلُ مَنْ جَمَعَ أَسْعَدُ بْنُ زُرَارَةَ ، وَهُوَ : أَنَّ أَسْعَدَ جَمَعَ النَّاسَ ، فَإِنَّ مُصْعَبًا كَانَ نَزِيلَهُمْ ، وَكَانَ يُصَلِّي بِهِمْ وَيُقَرِّبُهُمْ وَيُعَلِّمُهُمْ الْإِسْلَامَ ، وَكَانَ يُسَمَّى الْمُقْرِيَ .فَأَسْعَدُ دَعَاهُمْ ، وَمُصْعَبُ صَلَّى بِهِمْ .وَفِي الْبُخَارِيِّ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ : " إنَّ أَوَّلَ جُمُعَةٍجُمِعَتْ بَعْدَ جُمُعَةٍ فِي مَسْجِدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فی مسجد عبدالقيس بجواثی من البحرين[11]**

ژباړه: د جمعې لمونځ په مکه مکرمه کې د هجرت نه مخکې فرض کړی شوی و دارقطني له ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روايت کړی، چې نبی صلی الله عليه وسلم ته د هجرت نه مخکې په مکه مکرمه کې د جمعې د لمانځه اجازت ( د الله جل جلا له له خوا ) شوی و، خو هغه په مکه مکرمه کې و نکړی شو نومصعب بن عمير ته يې خط ورواستولو، امابعد : وګوره هغې ورځې ته چې يهود د هفتې لپاره په لوړاواز تورات وايي، په دې ورځ ( جمعه ) خپلې ښځې او زامن را يوځای کړئ اوچې کله ورځ له نيمايي حصې نه واوړي ، ( لمر زوال وکړي ) نو الله تعالی دوه رکعته لمونځ وکړئ

اول کس ، چې د جمعې لمونځ يې کړی ، مصعب بن عمير و، بياچې کله رسول الله صلی الله عليه وسلم مدينې منورې ته هجرت وکړ نود ماسپښين په وخت کې د لمرله زوال سره يې د جمعې لمونځ وکړ .

دا چې ځينې وايي اول د جمعې لمونځ اسعد بن زرارة کړی، تطبيق يې دادې چې اسعد خلک رايوځای کړل او مصعب بن عمير د دوی ميلمه و خلکوته يې د جمعې لمونځ ورکړ اوخلک يې عباداتو ته دعوت کړل او داسلام تعليم يې ورته وکړ نو ځکه مصعب بن عميرته د مقری ( لوستونکی ) نوم ورکړشوی .
سعد خلک رادعوت کړل او مصعب بن عمير د جمعې لمونځ ورکړ .

له ابن عباس نه روايت دی ( چې اول د جمعې لمونځ، له نبي صلی الله عليه سلم د مسجد نه وروسته په جواثاکې شوی، چې دبحرين له کليو نه يوکلی و

[11] البخاري –ج ١- ص ١٢٢-

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، دجمعې د لمانځه دفرضيت په هکله ذکرکړي دي : **الْجُمُعَةُ فَرْضٌ لَا يَسَعُ تَرْكُهَا وَيُكَفَّرُ جَاحِدُهَا وَالدَّلِيلُ عَلَى فَرْضِيَّةِ الْجُمُعَةِ**

**الْكِتَابُ وَالسُّنَّةُ وَإِجْمَاعُ الْأُمَّةِ ، أَمَّا الْكِتَابُ فَقَوْلُهُ تَعَالَى { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إلَى ذِكْرِ اللَّهِ } وَأَمَّا السُّنَّةُ فَالْحَدِيثُ الْمَشْهُورُ وَهُوَ مَا رُوِيَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ { إنَّ اللَّهَ تَعَالَى فَرَضَ عَلَيْكُمْ الْجُمُعَةَ فِي مَقَامِي هَذَا ، فِي يَوْمِي هَذَا ، فِي شَهْرِي هَذَا ، فِي سَنَتِي هَذِهِ فَمَنْ تَرَكَهَا فِي حَيَاتِي أَوْ بَعْدَ مَمَاتِي اسْتِخْفَافًا بِهَا وَجُحُودًا عَلَيْهَا وَتَهَاوُنًا بِحَقِّهَا وَلَهُ إمَامٌ عَادِلٌ أَوْ جَائِرٌ فَلَا جَمَعَ اللَّهُ شَمْلَهُ وَلَا بَارَكَ لَهُ فِي أَمْرِهِ ، أَلَا لَا صَلَاةَ لَهُ ، أَلَا لَا زَكَاةَ لَهُ ، أَلَا لَا حَجَّ لَهُ ، أَلَا لَا صَوْمَ لَهُ إلَّا أَنْ يَتُوبَ فَمَنْ تَابَ تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِ } .**

**وَرُوِيَ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ { مَنْ تَرَكَ ثَلَاثَ جُمَعٍ تَهَاوُنًا طَبَعَ اللَّهُ عَلَى قَلْبِهِ، ـ وذكر ابو داؤد ايضاً هذا الحديث**

**أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ تَرَكَ ثَلَاثَ جُمَعٍ تَهَاوُنًا بِهَا طَبَعَ اللَّهُ عَلَى قَلْبِهِ [12]) وَمِثْلُ هَذَا الْوَعِيدِ لَا يَلْحَقُ إلَّا بِتَرْكِ الْفَرْضِ وَعَلَيْهِ إجْمَاعُ الْأُمَّةِ[13]**

ژباړه: د جمعې لمونځ فرض قطعي دی پريښودل يې روانه دي، منکر يې کافردی د فرضيت دليل يې د الله جل جلاله کتاب قرانکريم او د نبی صلی الله عليه وسلم سنت اواجماع ( اتفاق ) د ټول امت دی .

الله جل جلاله د جمعې په سورة کې فرمايلي: کله چې د جمعې دلمانځه لپاره اذان وشي، نو تاسي د الله تعالی ذکر( لمانځه او خطبې ) ته ځانونه رسوئ )

او سنت ( حديث ) دليل يې دغه مشهور حديث د نبی صلی الله عليه وسلم دی : الله تعالی په تاسو د جمعې لمونځ په دې ځای او په دې ورځ او په دې مياشت اوپه دې کال کې فرض کړی دی

چا چې زما په ژوند اويا زماله وفات وروسته د سپکاوي له کبله اوياد انکار له امله اوياد سستی له وجې، پريښود او د ده لپاره عادل پاچا او يا ظالم پاچا وي، الله تعالی دې د هغه مختلف کارونه يوځای نه کړي اوا لله تعالی د ي د هغه په

[12]: ابوداؤد سليمان بن اشعث ، سنن ابې داؤد ، ج، ٣- ،دريم چاپ ، ١٣٨٥هجری مطبعه: ايچ ،ايم سعيد کمپنی ، کراچې پاکستان . ص،٣٤٧-

[13]: بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج ، ٣ ،ص ، ٧-

www.ketabton.com – د پښتو ژبی انلاين کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار کې برکت وا نه چوي، خبراوسئ چې د ده نه لمونځ، نه زکاة، نه حج اونه روژه قبلیږي، ترڅو چې توبه ونه باسي،الله سبحانه وتعالی یې توبه قبلو وي

او له ابن عمر رضی ا لله عنهما نه روایت دی ، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : څوک چې درې ځله د جمعې لمونځ د سستۍ له کبله ونکړي ،الله تعالی یې په زړه مهر لګوي

ابوداود هم دغه حدیث ذکرکړی دی، چې عربي متن یې مکمل پورته لیکل شوی او حواله هم پرې ورکړشوې ده )

اودا ډول وعید ( په عذاب سره ویره ) غیرد فرضو له پریښود لوپه بل شي نوي .

د جمعې د لمانځه په فرضیت د ټول اسلامي امت اجماع ( اتفاق ) دی .

ردالمحتار لاندي عبارت د جمعې د لمانځه د فرضیت په هکله ذکرکړی دی .

**الْجُمُعَةِ بِتَثْلِيثِ الْمِيمِ وَسُكُونِهَا ( هِيَ فَرْضُ ) عَيْنٍ ( يَكْفُرُ جَاحِدُهَا ) لِثُبُوتِهَا بِالدَّلِيلِ الْقَطْعِيِّ كَمَا حَقَّقَهُ الْكَمَالُ وَهِيَ فَرْضٌ مُسْتَقِلٌّ آكَدُ مِنْ الظُّهْرِ وَلَيْسَتْ بَدَلًا عَنْهُ كَمَا حَرَّرَهُ الْبَاقَانِيُّ مَعْزِيًّا لِسَرِيِّ الدِّينِ بْنِ الشِّحْنَةِ وَفِي الْبَحْرِ : وَقَدْ أَفْتَيْت مِرَارًا بِعَدَمِ صَلَاةِ الْأَرْبَعِ بَعْدَهَا بِنِيَّةِ آخِرِ ظُهْرٍ خَوْفَ اعْتِقَادِ عَدَمِ فَرْضِيَّةِ الْجُمُعَةِكَمَا حَقَّقَهُ الْكَمَالُ ) وَقَالَ بَعْدَ ذَلِكَ وَإِنَّمَا أَكْثَرْنَا فِيهِ نَوْعًا مِنْ الْإِكْثَارِ لِمَا نَسْمَعُ عَنْ بَعْضِ الْجَهَلَةِ أَنَّهُمْ يَنْسُبُونَ إلَى مَذْهَبِ الْحَنَفِيَّةِ عَدَمَ افْتِرَاضِهَا ، وَمَنْشَأُ غَلَطِهِمْ قَوْلُ الْقُدُورِيِّ وَمَنْ صَلَّى الظُّهْرَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فِي مَنْزِلِهِ وَلَا عُذْرَ لَهُ كُرِهَ وَجَازَتْ صَلَاتُهُ ( قَوْلُهُ آكَدُ مِنْ الظُّهْرِ ) أَيْ لِأَنَّهُ وَرَدَ فِيهَا مِنْ التَّهْدِيدِ مَا لَمْ يَرِدْ فِي الظُّهْرِ ، مِنْ ذَلِكَ قَوْلُهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " { مَنْ تَرَكَ الْجُمُعَةَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ مِنْ غَيْرِ ضَرُورَةٍ طَبَعَ اللَّهُ عَلَى قَلْبِهِ } " رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالْحَاكِمُ وَصَحَّحَهُ ، فَيُعَاقَبُ**

**عَلَى تَرْكِهَا أَشَدَّ مِنْ الظُّهْرِ وَيُثَابُ عَلَيْهَا أَكْثَرَ وَلِأَنَّ لَهَا شُرُوطًا لَيْسَتْ لِلظُّهْرِ تَأَمَّلْ ( قَوْلُهُ : وَلَيْسَتْ بَدَلًا عَنْهُ إلَخْ ) تَصْرِيحٌ بِمَفْهُومِ قَوْلِهِ : وَهِيَ فَرْضٌ مُسْتَقِلٌ**[14]

---

[14]: محمد علاء الدين ابن الشیخ علی الحصني الحنفي ، رد المحتار،ج ٦. ص ، ٣٨–

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژباړه: جمعه د میم په حرکت اویاسکون سره لیکل کیږي، د دې ورځې لمونځ فرض عین د ی ( او منکر یې کافردی ) ځکه چې په یقینی دلائلوسره ثابت دی، ځنګه چې کمال د دې خبرې تثبیت کړی دی او دا یو مستقل فرض دی، د ماسپښین لمانځه نه زیات پکې تاکید شوی او د ماسپښین د لمانځه بدل نه دی، ځنګه په الباقاني کې سری الدین ابن شحنه ته منسوب دي .

په بحرا لرائق کې لیکلي : ماځو کرته په دې فتوا ورکړې ده، چې ځلور رکعته لمونځ د جمعې لمانځه نه وروسته د ماسپښین د لمانځه په نیت مه کوئ، ترڅو خلک دا ګمان ونه کړي چې د جُمْعِې لمونځ فرض نه دی اودا خبر کمال هم ثابته کړې ده ) له دې نه وروسته یې ویلي دي: موږ په دې اړه یوډول زیاته څېرنه کړې،ځکه چې له ځینو جاهلانو اورو، وایي: د جمعې لمونځ د احنافو په نزد فرض نه دی ) او د دوی د غلطی منشاء،د قدوري داعبارت دی: څوک چې د جمعې په ورځ د ماسپښین لمونځ بې له عذره په خپل کور کې وکړي نو دا روا دی، سره له مکروه والي )

دکنز د مصنف دا خبره چې د جمعې لمونځ د ماسپښین لمانځه نه هم زیات مؤکد( قوي ) دی، ځکه چې د دی لمانځه پرېښودلوکې دومره تهدید راغلی کوم چې د ماسپښین د لمانځه په پرېښودلو کې نه دې راغلی .

د دې جملې نه دا قول د نبی صلی الله علیه وسلم دی: څوک چې د جمعې لمونځ درې کرته په قصدسره ( بې له ضرورته ) پرېږدي، الله تعالی به یې په زړه باندې مهر ولګوي .

د دې حدیث روایت احمد او حاکم کړی او صحیح یې هم ګرزولی.

د جمعې د لمانځه په پرېښودلو دومره زیات عذاب او ګناه ده څومره چې د ماسپښین د لمانځه په پرېښودلو نشته، او ثواب یې هم د ماسپښین له لمانځه نه زیات دی، ځکه چې د دې لمانځه لپاره خاص شرطونه دي، چې هغه د ماسپښین د لمانځه لپاره نشته .

دا قول د ماتن چې: د جمعې لمونځ د ماسپښین له لمانځه بدل نه دی ) تصریح په دې خبرې ده، چې دا یو مستقل فرض دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجمع الانهرشرح ملتقى الابصار، د جمعې د لمانځه د فرضيت په هکله داسې ليکلي :

**وَهِيَ فَرِيضَةٌ مُحْكَمَةٌ لَا يَسَعُ تَرْكُهَا وَيَكْفُرُ جَاحِدُهَا وَهِيَ فَرْضُ عَيْنٍ** [15]

ژباړه: د جمعې لمونځ محکم فرض دی، پريښودل يې نه دی روا ځوک چې ترې انکارکوي هغه ته نسبت د کفرکولې شي .

دريم مبحث : د جمعې د لمانځه شرطونه :

الف: د وجوب شرطونه : **د وجوب د شرطونو مطلب دادې چې په چاکې دا شرطونه موجود شي نو په دغه خلکو د جمعې لمونځ فرض دی.**

**امام سرخسي رحمه ا لله تعالی په مبسوط کې د دې شرطونو په هکله ليکلي دي -**

**الشرايط فِي الْمُصَلِّي لِوُجُوبِ الْجُمُعَةِ: فَالْإِقَامَةُ وَالْحُرِّيَّةُ وَالذُّكُورَةُ وَالصِّحَّةُ لِحَدِيثِ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ { : مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاَللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَعَلَيْهِ الْجُمُعَةُ إلَّا مُسَافِرٌ وَمَمْلُوكٌ وَصَبِيٌّ وَامْرَأَةٌ وَمَرِيضٌ } الْمُسَافِرَ وَالْمَمْلُوكَ وَالْمَرْأَةَ وَالْمَرِيضَ إذَا شَهِدُوا الْجُمُعَةَ فَأَدَّوْهَا جَازَتْ لِحَدِيثِ الْحَسَنِ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ { كُنَّ النِّسَاءُ يُجْمَعْنَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيُقَالُ لَهُنَّ لَا تَخْرُجْنَ إلَّا تَفِلَاتٍ أَيْ غَيْرَ مُتَطَيِّبَاتٍ } وَلِأَنَّ سُقُوطَ فَرْضِ السَّعْيِ عَنْهُمْ لَا لِمَعْنَى فِي الصَّلَاةِ بَلْ لِلْحَرَجِ وَالضَّرَرِ فَإِذَا تَحَمَّلُوا الْتَحَقُوا فِي الْأَدَاءِ بِغَيْرِهِم**[16]

**ژباړه: کوم د وجوب شرطونه چې د جمعې د لمونځ کوونکو لپاره اړين دي هغه**

[15]:شيخ زاده عبدالرحمن بن الشيخ محمد بن سليمان ، مجمع الأنهر في شرح الأبحر ملتقى، المطبعه العلميه ، القديمه ، ١٣٢٨هجري، بيروت لبنان ج٢، ص -٣١

[16] : سرخسى شمس الدين محمد بن احمد بن سهل ، المبسوط ج ، ٢، ً مطبعة السعادة، 1324هـ) بعناية الشيخ محمد راضي الحنفي.

(القاهرة: مصر العربى ، وأعيد نشر هذه الطبعة في بيروت (1986 ص ، ٣٨٠ - ٣٩٠.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ : اقامة دی، یعني مسافر به نوي ، ۲ : ازاد به وي په غلام نشته ۳ : او نر به وي په ښځو لازم نه دی ٤ : روغ به وي ، په مریض نشته ٥ : بالغ به وي په نابالغ فرض نه دی ٦ : عاقل به وي په لیوني فرض نه دی )

دا دوه اخرني شرطونه ځینو خلکو نه دي ذکر کړي ، ځکه چې لیوني او نابالغ په یو شي مکلف نه دي: مسافر، غلام ، ښځه او مریض که دجمعې لمانځه ته حاضر شول نو دا رو ادي څنګه چې په حدیث د حسن رضی الله تعالی عنه کې ذکرشوي : ښځو به د جمعې لمونځ له نبی صلی الله علیه وسلم سره کولو، ورته ویل کیدل به: له کوره چې راوځئ ، خوشبویې مه استعمالوئ.

او بل دا چې د جمعې لمونځ فرض دی د دوی نه دا فرض د تکلیف او ضرر په وجه ساقط دي، نه له دې وجې چې دوی د لمانځه اهل نه دي . کله چې دوی دا حرج او ضرر برد اشت کړ نو د نورو خلکو سره په اداء د جمعې کې برابر دي . له دوی نه ځکه فرضیت ساقط دی ، چې دا ډول خلک په خپل اختیار کې نه دي، د دې لپاره چې په یو چا تکلیف بما لایطاق ( تروسې پورته ) رانه شي ځکه ورباندې د جمعې لمونځ لازم نه شواو کول یې ورته صحیح دي.

ب : د جمعې د لمانځه داداء شرطونه:

د اداء د شرطونو مطلب دادې چې لاندني شرایط چې هرچرته موجود شي د جمعې لمونځ هلته فرض عین دی

۱ : ښار ، ۲ : پادشاه ، ۳ : وخت ، ٤ : خطبه ، ٥ : اذن (اجازت ،) ٦ : جماعت .

ښارهغه ځای ته ویلی شي چې د هغه ځای ټول لمونځ کونکي سره رایوځای شي نود دوی ترټولوپه غټ مسجدکې به ځای نه شي او په دی خبره زیاتوفقهاوو فتوا ورکړې ده ځکه چې زیات خلک دشریعت د احکاموپه کولو کې سست شوي دي او دا تعریف په ډیروغټو کلیوهم صادقیږي.

که د مسلمانانو مشر ( حاکم ) مړ شو او یا د فتنې له کبله د جمعې لمانځه ته نه شوی حاضریدلی اوبل داسي څوک نه و چې د جمعې د لمونځ د اقامت حق یې درلود، عام خلک به د جمعې د لمانځ لپاره خطیب ټاکي، ځکه چې دا یوه اړتیاده سره له دې چې په دې وخت اوځای کې بالکل نه امام ( د علاقې حاکم ) او نه قاضي شته .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوپه دې خبرسره جهالت دهغه چا څرګند شو ، چې وايي د فتنې په دوران کې د جمعې لمونځ صحيح نه دی او حال دادې چې په کوم وطن باندې کافران غالبه شي ( قبضه يې کړي ) هلته هم د جمعې لمونځ صحيح دی [17] که حاکمان کافران وو مسلمانانو ته د جمعې لمونځ کول روادي او قاضي به د مسمانانو په رضايت سره مقرريدی شي**

**خوپه مسلمانانو واجب دي چې د کافرانو نه دي د مسلمان والی غوښتنه وکړي [18]**

**يادونه !! هغه غټ کلی چې پورتنی تعريف ورباندې تطبيقيږي په هغوکې د جمعې لمونځ فرض عين دی د مثال په توګه: د اندړو په ولسوالۍ کې: د ميري بازاردی چې په دې کې دښار ټول شرايط برابر دي، د جمعې لمونځ پکې فرض عين دی په هم دې ډول په غټوکلو کې هم فرض عين دی، چې دښار پورتنی تعريف ( کوم چې ردالمختارکړی ) پری صادق وې لکه چارديوال ، مهمان او حبيب ګوډلی او نانی او زرين او مونګر.د ده يک په ولسولی کې لکه : تاسن، رامک اوکندراو رباط او داسي نور کلې اوهغه بازارونه چې پکې خلک دسودا لپا ره راځي او د خلکو د ضرورت توکي پکې ترلاسه کيږي په دې ټولوکې د جمعې لمونځ فرض عين دی ( البته که علماووکرام کومه استثنايي فيصله په يوځای کې ديوخاصو شرايطو له امله وکړه هغه بيله خبره ده، زما دا تحقيق په نورمالو او استقراري حالاتو پورې تړلی دی، چې کله اسلامي دارالافتاء يوه ځانګړې فتوا ورکړي، چې هغه د علماوو په لزوم ديداو مصلحت پوري تړلې وي تعميل يې د ټولو مسلمانان يوه دينی دنده ده .**

**په قرانکريم کې امرشوی چې تاسې د جمعې لمانځه ته لا ړ شئ اوعلماوو ورڅه شرايط ورته ايښي دي ، د ردالمحتار شرايط خو پورته ذکرشول او دامام ابويوسف رحمة الله تعالی عليه نه د ښآرپه مورد کې مختلف روايتونه راغلي دي ، يوازې دا روايت نه دی چې ښار هغه ځای دی چې هلته امير،قاضي وی اوشرعي احکام نافذ وی ، چې دا خبره هم په قول د علي کرم الله وجهه پورې موقوفه ده چې يو روايت د امام ابويوسف رح نه دی او**

17:محمد علاء الدين ابن الشيخ على الحصني الحنفي ، ردالمختارج ، ٦ص، ٤٢-٤٣

18 : محمد علاء الدين ابن الشيخ على الحصني الحنفي ، ردالمختار ج ، ٦، ص ، ٦٣-

www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاين کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دهغه نه نور روايتونه هم نقل دي ، تبيين الحقائق کې د ښار د تعريف په هکله داسې ليکلي دي :** دجمعې د لمانځه داداکولو يوشرط دادې چې د جمعې لمونځ به په ښار کې کيږي له وجې د قول د علي رضی الله عنه : نشته د جمعې لمونځ او تکبيرات تشريق او نه د کوچني او لوی اختر لمونځ مګر په ښار کې.

او بيا ماتن ويلي: ( دکنز ملاصاحب ) ښارهرهغه ځای دی چې هغه لره اميراو قاضي او د شريعت احکام په کې نافذ وي . دا روايت له امام ابو يوسف ( رح ) نه نقل شوی اوکرخې غوره کړی اوبل روايت له امام يوسف ( رح ) نه ( په تعريف د ښارکې) دادې چې کله د يوځای خلک تر ټولوپه لوی مسجد کې سره راټول شي او پکې ځای نه شي، داښار دی . او دا روايت بلخي غوره کړی . او بل روايت له امام ابو يوسف (رح) نه داسې نقل شوی: هر هغه ځای چې پکې هرقسمه کسب ګر موجود وي او د خلکو د ضرورت وړ توکي پکې پيداکيږي دا ښاردی. په يو بل روايت کې له امام ابويوسف رح نه داسې هم نقل شوي دي: هر هغه ځای چې لس زراوسيدونکي لري هغه ښاردی .او له امام محمد( رح) نه يو روايت داسي هم نقل شوی: هرهغه ځای چې سلطان يې ښار جوړکړي که کلي هم وي،هغه ښارکيږي، چې خپل نائب ور واستوي او چې کله واپس راشي، هغه ځای بيا د کلي حکم ته راګرځي [19] )

لومړی روايت ( دشريعت د نفاذ شرط) په اس وخت کې ډير ګران دی ځکه چې اوس خو اسلامي خلافت نشته په زياته اسلامي نړۍ کې غير شرعي حکومتونه موجود دي له همدې کبله که موږ د جمعې لمونځ پريږدو نو په حقيقيت کې د قرانکريم د يو محکم ايات دپريښودلو په معنې دې. او بل داچې فقهاوو خو موږ ته لاره نه ده بنده کړی ، چې يوازې يې دښار همدا( دقاضی اوامير اونفاذ داحکامو ) تعريف کړی دی نور تعريفونه يې هم کړي دي چې پورته ذکرشول د مثال په توګه : که ډاکتر ناروغ ته درمل وليکي او هغه درمل په درملتونونو کې نه تر لاسه کيږي او ناروغه دمرګ په حالت کې

---

[19] الحسيني **محمد** ، تبيين الحقائق **شرح کنزالدقائق** ، ج ، ۳، دارالطبع الزاهرة ببولاق القاهره مصر- ۱۳۱۵ الهجريه ، ص ۳ ٥ –

۱٦: ( سره له دی داول قول مطلب چې يې دښآر په تعريف کې د آمير او قاضي شرط ويلی اسلامي خلافت مقصد نه دی بلکې مسلمان امير اومسلمان عالم قاضي او قادر په تنفيذ داحکامو د شريعت نه عملاً تنفيذ، نو اول شرط هم موجوددي په اکثره اسلامي ممالکوکې ( شيخ القران والحديث علامه سيد رسول حليم )،

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي نومورړ به انتظارکوو تر څو هغه مړشي اوکه بيا به ډاکتر ته مراجعه کوو تر څو بل مناسب درمل ناروغ ته وليکي همدا ډول د جمعې دفرضيت دليل په قرانکريم ثابت دی اوعلماوو شرطونه ورته ټاکلي دي، چې په دې جمله کې يوشرط : ښاردی او دښار ګڼ شمير تعريفونه علماوو کړي، چې د يو تعريف شرايط مساعد نوي موږ د علماوو هغه بل تعريف ته رجوع کوواو که مويوازې او يوازې يو تعريف د ښار په نظر کې نيولی وي او هغه هم په اوسني وخت کې نه شي موجود يدلی نو په حقيقت کې دا د قرانکريم د يو قاطع ( د جمعې لمانځه د فرضيت ) ايت نسخ ده [20]

ردالمحتارپه دې اړه لاندې عبارت ليکلی:

**په شرح شيخ ا سماعيل کې چې د دهلوي نه يې نقل کړی ليکل شوي: د جمعې د لمانځه لپاره چې د شريعت د احکامو نفاذ چا شرط کړی: دايې مقصدنه دی چې ټول احکام د شريعت به بالفعل جاري وي ځکه چې د جمعې لمونځ دلوی ظالم حجاج بن يوسف په زمانه کې هم چا نه دې پريښودلی اوحال داچې هغه ټول احکام نه وو نافذ کړي . بلکې مقصد دادې : چې حاکم به په نفاذ د احکامو قدرت لري .**

**په حاشيه د ابوسعود کې هم دغه مطلب ذکرشوی چې د علامه نوح افندي له رسالې يې نقل کړي دي .**

**زه ( دردالمحتار مصنف ) وايم که د بعضو شريعي احکامو نه جاري کيدل په ښار باندی دا اثر وکړي چې مصر ( ښار ) نه جوړيږي، ځنګه چې ظاهر الرواية ده نو په دې ډول خو په يو اسلامي ملک کې اوس د جمعې لمونځ جواز نه لري او نه يې له ډيره وخته پخوا لرلو نو معلومه شوه چې مراد قدرت په نفاذ ده نه با لفعل جاری کيدل .[21]**

**۲: دجمعې داداء دويم شرط سلطان دی چې خپله يا يې نائب موجود وي که يوهم نه وی، نو د ځای خلک دې يو څوک مخکې کړي د ضرورت له کبله ، ځنګه چې د بحرالرائق لاندې عبارت دی -**

---

[20] ليکوال ،

: ردالمختار ج ٦ص ، ٤٣[21]

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وَلَوْ لَمْ يَكُنْ ثَمَّةَ قَاضٍ وَلَا خَلِيفَةُ فَاجْتَمَعَ الْعَامَّةُ عَلَى تَقْدِيمِ رَجُلٍ جَازَ لِلضَّرُورَة وَأُطْلِقَ فِي السُّلْطَانِ فَشَمَلَ الْعَادِلَ وَالْجَائِرَ**[22]

**ژباړه: كه په هغه ځای كې قاضي او خليفه موجود نوو، عام خلک دي د جمعې لمونځ د يو سړي په امامت ادا کړي ، د ضرورت له امله او سلطآن يې مطلق ذکر کړ چې عادل او ظالم دواړو ته شامليږي .**

**۳: دريم شرط يې د ماسپښين وخت دی چې نه صحيح کيږي مخکې او وروسته د ماسپښين له وخته** [23]

**٤: شرط يې خطبه ده:** دوه لنډې خطبې سنت دي اوږدوالی يې مکروه دی چې يوه وړه جلسه ( ناسته) په اندازه د لوستلو د دريو اياتونو به د دواړو خطبو تر منځ کوي .

٥: شرط يې : اذن عام دی په داسې ځای کې به کيږي چې هرڅوک ورتللی شي. رد المختار ليکلي: **عادت په دې جاري دی چې هر څوک جامع جومات جوړ اواراده د جمعې د لمونځ پکې ولري نو د امام ( پاچا ) نه اجازت غواړي، کله چې هغه لومړی ځل ورته اجازت ورکړي نوهغه عامه اجازه حاصله شوه او د دې نه وروسته دويم ځل د امام اجازه شرط نه دی او هر خطيب کولی شي چې د امام نيابت وکړي، ځکه چې يو ځل اجازت اخستل شوی دی او دا بسنه کوي**[24]**.**

**د نوموړي کتاب په شپږم ټوک کې ئې داذن ( اجازت د خليفه ) په باره کې داسې ليکلي:** د پاچا له خوا عامه اجازه دومره بسنه کوي، چې د جامع مسجد دروازې د ورتلونکو په مخ خلاصې وي نوکه دکلا در وازه د دښمن د ويره له امله او عادتاً لا پخوا بنده ساتل کيدله، باک نه لري ځکه چې عامه اجازه د خپلو خلکو لپاره په ځای ده او د دروازو بنديدل خو د دښمن د دفعې لپاره دې نه د لمونځ کونکود منع کولو لپاره، هوکې که دروازې بندې نشي ښه خبره ده څنګه چې په مجمع الانهراو المنهح کی راغلي دي .

---

22- البحر الرائق شرح كنز الدقائق ج، ٥، ص ، ١٤٦ــــ١٥٥

23- : بحر ج ، ٥، ص ، ٧٩

24- ٢٥: محمد علاء الدين ابن الشيخ على الحصني الحنفي ، :ردالمختارج ٦، ص ، ٥٤

www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاين کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که امام کلا ته داخل شي او در وازې بندې کړي او په خپلو ملګرو د جمعې لمونځ وکړي  دا نه ده روا او که دروازيې خلاصي پريږدي، رواده سره له کراهية  نو امام  په ديني او دنياوي چارو کې عامو خلکوته محتاج دی  پاکي ده هغه ذات لره  چې چاته هيڅ احتياج نه لري اوهروخت د احتياج نه پاک دی .

۶: شرط يې د جَمَاعَتْ لمونځ دی [25] د جمعې لمونځ انفرادي نه کيږي ځکه چې  دا عمل د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه همداسې متواتر راغلی دی

**شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله تعالى د جمعې اونوروسنتو په اړه ليکلي**

**وَأَمَّا السُّنَّةُ بَعْدَ الْجُمُعَةِ فَقَدْ ثَبَتَ فِي الصَّحِيحَيْنِ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ { أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي بَعْدَ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَيْنِ } كَمَا ثَبَتَ عَنْهُ فِي الصَّحِيحَيْنِ { أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي قَبْلَ الْفَجْرِ رَكْعَتَيْنِ : وَبَعْدَ الظُّهْرِ رَكْعَتَيْنِ وَبَعْدَ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ وَبَعْدَ الْعِشَاءِ رَكْعَتَيْنِ } . وَأَمَّا الظُّهْرُ فَفِي حَدِيثِ ابْنِ عُمَرَ { : أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي قَبْلَهَا رَكْعَتَيْنِ }  وَفِي الصَّحِيحَيْنِ عَنْ عَائِشَةَ : " { أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي قَبْلَهَا أَرْبَعًا . } وَفِي الصَّحِيحِ عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : { مَنْ صَلَّى فِي يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً تَطَوُّعًا غَيْرَ فَرِيضَةٍ بَنَى اللَّهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ } " .**
**وَجَاءَ مُفَسَّرًا فِي السُّنَنِ : { أَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْفَجْرِ } . فَهَذِهِ هِيَ السُّنَنُ الرَّاتِبَةُ الَّتِي ثَبَتَتْ فِي الصَّحِيحِ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَوْلِهِ وَفِعْلِهِ . مَدَارُهَا عَلَى هَذِهِ الْأَحَادِيثِ الثَّلَاثَةِ : حَدِيثِ ابْنِ عُمَرَ وَعَائِشَةَ وَأُمِّ حَبِيبَةَ . وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُومُ بِاللَّيْلِ : إمَّا إحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً وَإِمَّا ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً فَكَانَ مَجْمُوعُ صَلَاتِهِ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ فَرْضُهُ وَنَفْلُهُ نَحْوًا مِنْ أَرْبَعِينَ رَكْعَةً .**
**وَالنَّاسُ فِي هَذِهِ السُّنَنِ الرَّوَاتِبِ عَلَى ثَلَاثَةِ أَقْوَالٍ : مِنْهُمْ مَنْ لَا يُوَقِّتُ فِي ذَلِكَ شَيْئًا . كَقَوْلِ مَالِكٍ فَإِنَّهُ لَا يَرَى سُنَّةً إلَّا الْوِتْرَ وَرَكْعَتَيْ الْفَجْرِ . وَكَانَ يَقُولُ إنَّمَا يُوَقِّتُ أَهْلُ الْعِرَاقِ . وَمِنْهُمْ مَنْ يُقَدِّرُ فِي ذَلِكَ أَشْيَاءَ بِأَحَادِيثَ ضَعِيفَةٍ بَلْ بَاطِلَةٍ كَمَا يُوجَدُ فِي مَذَاهِبِ أَهْلِ الْعِرَاقِ وَبَعْضِ مَنْ وَافَقَهُمْ مِنْ أَصْحَابِ الشَّافِعِيِّ وَأَحْمَد فَإِنَّ هَؤُلَاءِ يُوجَدُ فِي كُتُبِهِمْ مِنْ الصَّلَوَاتِ الْمُقَدَّرَةِ وَالْأَحَادِيثِ فِي ذَلِكَ مَا يَعْلَمُ أَهْلُ الْمَعْرِفَةِ بِالسُّنَّةِ أَنَّهُ مَكْذُوبٌ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَنْ رَوَى عَنْهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ { أَنَّهُ صَلَّى قَبْلَ الْعَصْرِ أَرْبَعًا } أَوْ { أَنَّهُ قَضَى سُنَّةَ الْعَصْرِ } " أَوْ { أَنَّهُ صَلَّى قَبْلَ الظُّهْرِ سِتًّا } أَوْ " بَعْدَهَا أَرْبَعًا " أَوْ { أَنَّهُ كَانَ يُحَافِظُ عَلَى**

---

25: محمد علاء الدين ابن الشيخ على الحصني الحنفي ردالمختار. ج- ٦- ص ، ٨٩-

www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاين کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



الضُّحَى } . وَأَمْثَالُ ذَلِكَ مِنْ الْأَحَادِيثِ الْمَكْذُوبَةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . وَأَشَدُّ مِنْ ذَلِكَ مَا يَذْكُرُهُ بَعْضُ الْمُصَنِّفِينَ فِي " الرَّقَائِقِ وَالْفَضَائِلِ " فِي الصَّلَوَاتِ الْأُسْبُوعِيَّةِ وَالْحَوْلِيَّةِ : كَصَلَاةِ يَوْمِ الْأَحَدِ وَالِاثْنَيْنِ وَالثُّلَاثَاءِ وَالْأَرْبِعَاءِ وَالْخَمِيسِ وَالْجُمُعَةِ وَالسَّبْتِ الْمَذْكُورَةِ فِي كِتَابِ أَبِي طَالِبٍ " وَأَبِي حَامِدٍ وَعَبْدِ الْقَادِرِ وَغَيْرِهِمْ . وَكَصَلَاةِ الْأَلْفِيَّةِ " الَّتِي فِي أَوَّلِ رَجَبٍ وَنِصْفِ شَعْبَانَ وَالصَّلَاةِ " الِاثْنَيْ عَشَرِيَّةَ " الَّتِي فِي أَوَّلِ لَيْلَةِ جُمُعَةٍ مِنْ رَجَبٍ وَالصَّلَاةِ الَّتِي فِي لَيْلَةِ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ مِنْ رَجَبٍ وَصَلَوَاتٍ أُخَرَ تُذْكَرُ فِي الْأَشْهُرِ الثَّلَاثَةِ وَصَلَاةِ لَيْلَتَيْ الْعِيدَيْنِ وَصَلَاةِ يَوْمِ عَاشُورَاءَ وَأَمْثَالِ ذَلِكَ مِنْ الصَّلَوَاتِ الْمَرْوِيَّةِ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ اتِّفَاقِ أَهْلِ الْمَعْرِفَةِ بِحَدِيثِهِ أَنَّ ذَلِكَ كَذِبٌ عَلَيْهِ وَلَكِنْ بَلَغَ ذَلِكَ أَقْوَامًا مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ وَالدِّينِ فَظَنُّوهُ صَحِيحًا فَعَمِلُوا بِهِ وَهُمْ مَأْجُورُونَ عَلَى حُسْنِ قَصْدِهِمْ وَاجْتِهَادِهِمْ لَا عَلَى مُخَالَفَةِ السُّنَّةِ . وَأَمَّا مَنْ تَبَيَّنَتْ لَهُ السُّنَّةُ فَظَنَّ أَنَّ غَيْرَهَا خَيْرٌ مِنْهَا فَهُوَ ضَالٌّ مُبْتَدِعٌ بَلْ كَافِرٌ . وَالْقَوْلُ الْوَسَطُ الْعَدْلُ هُوَ مَا وَافَقَ السُّنَّةَ الصَّحِيحَةَ الثَّابِتَةَ عَنْهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ ثَبَتَ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي بَعْدَ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَيْنِ وَفِي صَحِيحِ مُسْلِمٍ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ : { مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مُصَلِّيًا بَعْدَ الْجُمُعَةِ فَلْيُصَلِّ بَعْدَهَا أَرْبَعًا } . وَقَدْ رُوِيَ السِّتُّ عَنْ طَائِفَةٍ مِنْ الصَّحَابَةِ جَمْعًا بَيْنَ هَذَا وَهَذَا . وَالسُّنَّةُ أَنْ يُفْصَلَ بَيْنَ الْفَرْضِ وَالنَّفْلِ فِي الْجُمُعَةِ وَغَيْرِهَا . كَمَا ثَبَتَ عَنْهُ فِي الصَّحِيحِ { أَنَّهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ تُوصَلَ صَلَاةٌ بِصَلَاةِ حَتَّى يُفْصَلَ بَيْنَهُمَا بِقِيَامِ أَوْ كَلَامٍ } فَلَا يَفْعَلُ مَا يَفْعَلُهُ كَثِيرٌ مِنْ النَّاسِ . يَصِلُ السَّلَامَ بِرَكْعَتَيْ السُّنَّةِ فَإِنَّ هَذَا رُكُوبٌ لِنَهْيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . وَفِي هَذَا مِنْ الْحِكْمَةِ التَّمْيِيزُ بَيْنَ الْفَرْضِ وَغَيْرِ الْفَرْضِ كَمَا يُمَيِّزُ بَيْنَ الْعِبَادَةِ وَغَيْرِ الْعِبَادَةِ . وَلِهَذَا اُسْتُحِبَّ تَعْجِيلُ الْفُطُورِ وَتَأْخِيرُ السُّحُورِ وَالْأَكْلُ يَوْمَ الْفِطْرِ قَبْلَ الصَّلَاةِ وَنُهِيَ عَنْ اسْتِقْبَالِ رَمَضَانَ بِيَوْمِ أَوْ يَوْمَيْنِ فَهَذَا كُلُّهُ لِلْفَصْلِ بَيْنَ الْمَأْمُورِ بِهِ مِنْ الصِّيَامِ وَغَيْرِ الْمَأْمُورِ بِهِ وَالْفَصْلِ بَيْنَ الْعِبَادَةِ وَغَيْرِهَا . وَهَكَذَا تَمْيِيزُ الْجُمُعَةِ الَّتِي أَوْجَبَهَا اللَّهُ مِنْ غَيْرِهَا . وَأَيْضًا فَإِنَّ كَثِيرًا مِنْ أَهْلِ الْبِدَعِ كَالرَّافِضَةِ وَغَيْرِهِمْ لَا يَنْوُونَ الْجُمُعَةَ بَلْ يَنْوُونَ الظُّهْرَ وَيُظْهِرُونَ أَنَّهُمْ سَلَّمُوا وَمَا سَلَّمُوا فَيُصَلُّونَ ظُهْرًا وَيَظُنُّ الظَّانُّ أَنَّهُمْ يُصَلُّونَ السُّنَّةَ فَإِذَا حَصَلَ التَّمْيِيزُ بَيْنَ الْفَرْضِ وَالنَّفْلِ كَانَ فِي هَذَا مَنْعٌ لِهَذِهِ الْبِدْعَةِ وَهَذَا لَهُ نَظَائِرُ كَثِيرَةٌ وَاَللَّهُ سُبْحَانَهُ أَعْلَمُ .[26] }

[26]: مجموع فتاوى ابن تيمية، ج،٥، ص ، ٤١٢

www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاین کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: د جُمْعِي لمانځه د سنتو په هکله بخاري اومسلم د نبی صلی ا لله علیه وسلم نه احادیث نقل کړي : چې هغه به دجُمْعِي له لمانځه نه وروسته دوه رکعته لمونځ کولو، څنګه چې همداډول په بخاري اومسلم کې نور احادیث هم روایت شوي: چې نبی صلی الله علیه وسلم به دسحر د فرضو او د ماسپښین دفرضو او د ماښام د فرضو او د ماخستن د فرضو نه وروسته دوه دوه رکعته لمونځ کولو.**

**له ابن عمر رضی الله عنه نه د ماسپښین د لمانځه دسنتو په هکله حدیث نقل شوی اوهمدا ډول بخاري له عائشي رضی الله تعالی عنها نه روایت کړی: چې نبی صلی الله علیه وسلم به د ماسپښین د لمانځه نه مخته څلور رکعته سنت کول او امام بخاري دام حبیبي رضی الله تعالی عنها نه روایت کړی: چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي: څوک چې په شپه او ورځ کې دولس رکعته نفل لمونځ وکړي، الله تعالی به په جنت کې ورته کور جوړکړي .**

**دسننو په کتابوکې داحدیث په تفصیل سره ذکرشوی : چې نبی صلی الله علیه وسلم به د ماسپښین د فرضونه مخ کې څلوراو وروسته دوه رکعته او ماخستن نه وروسته دوه رکعته او د سحر دفرضو نه مخ ته دورکعته لمونځ کولو، چې دیته سنت راتبه ویلی شي چې د نبي صلی الله علیه وسلم نه په قول او فعل سره ثابت شوي دي اودلیل یې تیردرې احادیث دي چې ابن عمر، عائشي او ام حبیبې رضی الله تعالی عنهم روایت کړي: نبي صلی الله علیه وسلم به په شپه کې یولس او یا دیرلس رکعته لمونځ کولونوټول لمونځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په شپه اوورځ کې نفل او فرض تقریباً څلویښت رکعته وو او علماوو د راتبه سنتو په هکله درې قوله کړي، څوک وایي : چې دنفلو لپاره وخت نه دې معلوم لکه امام مالک رح چې وایې: سنت وتر او د سحرله لمانځه نه مخته دوه رکعته دي.**

**دسنتو لپاره د عراق خلکو وخت ټاکلی اونورهغه څوک دي،چې د نفلو په اړه یې په ضعیفو او باطلو احادیثو استدلال کړی ( زیات یې بولي ) څنګه چې د عراق د خلکو کړن لاره ده اوځینو شوافعو او حنابلو هم ورسره موافقه کړې، د دوی په کتابو کې نورلمنځونو هم ټاکل شوي او په دې اړه یې ځیني احادیث**

---

http://www.al–islam.com مصدر الکتاب : موقع الإسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library


**هم نقل کړي چې د علماوو له خوا دانه دي پيژندل شوي او په دروغه يې نبي صلی الله عليه وسلم ته منسوب کړي د بيلګې په توګه د مازديګر د فرضو نه مخکې د څلورو رکعتونو روايت او يا د مازديګر د سنتو د قضاء روايت اويا دا چې نبي صلی الله عليه وسلم د ماسپښين د فرضونه د مخه شپږ رکعته کړي او وروسته يې څلور رکعته کړي او دا چې نبي صلی الله عليه وسلم به هروخت دڅاښت لمونځ کولو او دا سي نور د درواغو احاديث چې نسبت يې نبي صلی الله عليه وسلم ته شوی او زيات دا سي احاديث هم شته چې ځينې مصنفين يې په هڅولو او فضائلو اوديوې هفتې اوکال په لمونځونو کې ذکر کوي لکه د شنبی ،يکشنبې،دوشنبې ،چهارشنبې اوپنجشنبې او جمعې نفل، څنګه چې دابو طالب او ابوحامد او عبدالقادراود نورو په کتابونو کې ذکردي.اولکه صلوة الالفيه کوم چې د رجب په اوله جمعة او په نيمايې د شعبان کې کولی شي او ا ثنا عشريه کوم چې د رجب د مياشي په اوله کې کولی شي او درجب د دولسمي لمونځ او نورهغه لمونځونه چې په دريو خاصو مياشتو کې کيږي او داخترونو د شپو لمونځونه او د عاشورا ( دلسم محرم ) لمونځ او دا سي نور لمونځونه چې نبي صلی الله عليه وسلم ته منسوب دي، په اتفاق د علماوو د احاديثو ( اهل جرح والتعديل ) د ټولو نسبت په دروغو نبي صلی الله عليه وسلم ته شوی چې ځينو اهل علمو ته رسيدلي او هغوي پرې د صحيحو احاديثو ګمان کړی او عمل يې پرې کړی، چې دوی ته به الله تعالی په دې اجر ورکړي،ځکه چې دوی په ښه نيت، قصد او د اجتهاد له مخې پرې عمل کړی، نه له دې کبله چې د سنت مخالف عمل دی اوکله چې ورته څرګنده شي چې دا عمل د سنت خلاف دی او بياهم دوی خلاف د سنت عمل غوره ګڼی نو داسي خلک ګمراه ، مبتدع بلکې کافر دي .**

**عادلانه،منځنې خبره داده چې د صحيح سنت سره موافق وي کوم چې د نبي صلی الله عليه وسلم نه ثابت شوي وي .**

**له نبی صلی الله عليه وسلم نه د جمعې لمانځه نه وروسته دوه رکعته لمونځ کول ثابت دي او په صحيح مسلم کې د نبی صلی الله عليه وسلم نه روايت دی: څوک چې د جمعي لمانځه نه وروسته لمونځ کوي نو څلوررکعته دي کوي او دځينو صحابوو نه دشپږو رکعتونو روايت هم راغلی دی ترڅو په پورتنيو دوارو احاديثو عمل وکړای شي د فرضو او سنتوترمنځ فاصله سنت ده؛ که د جمعي وي اويا نورفرض لمنځونو وي، نبي صلی لله عليه وسلم په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرضو پسي متصل سنت کولو نه منع فرمايلي،چې په صحيح احاديثو ثابته شوې ده ، بايد په درېدلو او خبرو سره دا فاصله رامنځ ته شي.

ډيرخلک له فرضو وروسته فوراً په دوه رکعته سنتو شروع وکړي، چې دا عمل نبي صلی الله عليه وسلم منع کړی او حکمت او مقصد د دې فاصلې؛ د فرضو او سنتوترمنځ توپيردی، څنګه چې د عبادت ا و غيرعبادت ترمنځ توپير وشي، د دې وجي نه په روژه ماتې کې بيړه او په سحري کې ورستوالی مستحب دي او د وړوکي اختر په ورځ خوراک لمانځه ړومبی سنت دی او دروژي د مياشتي راتګ نه يوه يادوه ورځي مخکې روژه نيول منع ده دا ټول ځکه سنت دي ، چې د فرضو او نفلو( ماموربه اوغيرماموربه) ترمنځ توپير رامنځ ته شي او عادت او عبادت سره بيل شي.

د جمعي دفرض او نفلو ترمنځ بايدفاصله راشي ځکه چې مبتدعين او روافض ( شيګان ) د جمعي د لمانځه نيت نه کوي او متصل د سلام سره سره د سنتو په نيت پورته شي او نيت يې د ماسپښين د لمانځه کړی وي او په ظاهره خلکو ته په پام کې ورکوي، چې دوی د جمعي دلمانځه نيت کړی دی ( داسلامي دولت په وخت کې شيګان او مبتدعين ويريدل اواوس په ډاګه د جمعي د لمانځه نه مبتدعين انکارکوي ) چې کله د جمعي د لمانځه او سنتو ترمنځ فاصله رامنځ ته شي د مبتدعينو[27] او شيګانو د دی بدعت مخنوی به وشي او د دې کار لپاره نوري زياتي بيلګې هم شته، کامله پوه دالله جلذ جلاله سره ده.

ابن النجيم د بحرائق شرح کنزالدقائق مصنف د جُمْعِي د لمانځه د مخکنيو سنتو په هکله داسي ليکلي: وَحُكْمُ الْأَرْبَعِ قَبْلَ الْجُمُعَةِ كَالْأَرْبَعِ قَبْلَ الظُّهْرِ كَمَا لَا يَخْفَى ) أَقُولُ : قَالَ شَيْخُنَا الشَّيْخُ مُحَمَّدٌ السِّرَاجِيُّ الْحَانُوتِيُّ وَأَمَّا كَوْنُهَا هَلْ تُقْضَى أَوْ لَا فَعَلَى مَا قَالُوهُ فِي الْمُتُونِ وَغَيْرِهَا مِنْ أَنَّ سُنَّةَ الظُّهْرِ تُقْضَى يَقْتَضِي أَنْ تُقْضَى سُنَّةُ الْجُمُعَةِ إذْ لَا فَرْقَ لَكِنْ فِي رَوْضَةِ الْعُلَمَاءِ فِي بَابِ فَضْلِ مَنْ سَمِعَ الْأَذَانَ وَإِذَا جَاءَ الرَّجُلُ إلَى الْجُمُعَةِ فِي وَقْتِ الْإِمَامَةِ هَلْ يُصَلِّي أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ الَّتِي يُصَلِّيهَا قَبْلَ الْجُمُعَةِ أَمْ لَا قَالَ لَا يُصَلِّي بَلْ يَسْكُتُ ثُمَّ يَدْخُلُ مَعَ الْإِمَامِ فِي صَلَاتِهِ

[27] : اهل بدعت ، او روافض ( شيګان ) د جمعي لمانځه سره حساسيت لري ،نه يې کوي او ډير عوام خلک يې د دې فريضې څخه بې برخي کړي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وَسَقَطَتْ عَنْهُ هَذِهِ الْأَرْبَعُ لِمَا رُوِيَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ { إذَا خَرَجَ الْإِمَامُ فَلَا صَلَاةَ إلَّا الْمَكْتُوبَةَ } ا هـ[28]**

**ژباړه: د جمعې د لمانځه دمخکنیو سنتو او ماسپښنین د سنتو حکم یودی زموږ شیخ محمدسراجي حانوتي ویلي: د جمعي مخکنې سنت به قضاء راوړل کیږي اوکه نه ؟ د متونو په کتابو کې د ماسپښنین دسنتو قضا ذکرشوې نو تقاِضاداده چې د جمعي د مخکنیو سنتو قضاء هم راوړل شي خو د روضة العلماء په باب د : فضل من سمع الاذان کې) ذکرشوې: څوک چې دجمعې لمانځه ته راشي او جَمْعَ ولاړه وي، داسړی به څلورکعته مخکني د جمعي سنت کوي او که نه ؟ هغه وویل: نه، پته خوله به دریږي او د امام سره به د جُمعي لمونځ شروع کوي اودا څلور مخکني سنت ساقط شول بیایې قضاء نشة، ځکه چې په حدیث کې ذکرشوي : کله چې امام د فرض لمانځه لپار راووځي بیا بل لمونځ نشته غیر دفرض لمانځه .**

**له دینه څرګنده شوه : چې د جمعې د مخکنیو سنتو قضاء نشته او داهم څرګنده شوه : چې د جمعي مخکنې سنت، څلور رکعته او ورستني شپږ رکعته دي .**

**د جمعې د ورځې ټول لمونځ دولس رکعته دی. ځینی خلک داحتیاط په نوم څلوررکعته کوي چې دا کار بدعت او حرام دی،کو م شرعي دلیل نه لري .**

**ددې خبرې دلیل چې د جمعې مخکني سنت څلوردي، لاندي حدیث دی**

**رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ { كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْكَعُ مِنْ قَبْلِ الْجُمُعَةِ أَرْبَعًا لَا يَفْصِلُ فِي شَيْءٍ مِنْهُنَّ:[29]**

**ژباړه: نبی صلی الله علیه وسلم به څلوررکعته سنت لمونځ جمعې لمانځه نه مخکې کولو او په منځ کې به یې فاصله نه کوله.**

**پنځم مبحث : اوله جمعه په اسلام کی :**

[28] : ابـن الـنجم البحر الرائق شرح كنز الدقائق ، ج ٤ ص، ٣٥٠، ٣٥١

[29] : ابن النجیم ، البحرالرائق ، ج ، ٤ ، ص ، ٢٣٦- ابن ماجه ج ۳ ص ۴ ۴۵ مکتبه شامله دویمه خپرونه ،

www.ketabton.com – د پښتو ژبی انلاین کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فَأَوَّلُ مَنْ جَمَعَ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ حَتَّى قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ فَجَمَعَ عِنْدَ الزَّوَالِ مِنْ الظُّهْرِ**

لومړی جُمْعه مصعب بن عمیر اداکړې ده تر څو چې رسول صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته راغې؛ د جمعې لمونځ یې دخلکو سره د ماسپښین په وخت کې اداء کړ.

دويم فصل: دجمعې دلمانځه فضيلت ،

لومړی مبحث : په اول وخت کې د جمعې لمانځه ته تلل

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ غُسْلَ الْجَنَابَةِ ثُمَّ رَاحَ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَدَنَةً وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّانِيَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَقَرَةً وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّالِثَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ كَبْشًا أَقْرَنَ وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الرَّابِعَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ دَجَاجَةً وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الْخَامِسَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَيْضَةً فَإِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ حَضَرَتْ الْمَلَائِكَةُ يَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ**[30]

ژباړه: رسول صلی ا لله علیه وسلم فرمایلي : څوک چې د جمعې په ورځ غسل وکړي په شان د غسل د جنابت او بیاد جمعې لمانځه ته ولاړ شي، دومره ثواب لري لکه یوه اوښه چې خیرات کړي او څوک چې په دويم ساعة کې ولاړشي، دومره ثواب لري لکه یوه غوا چې خیرات کړي او چې په دریم ساعت کې ولاړ شي، دومره ثواب لري لکه یوښکرور پسه چې خیرات کړي او چې په څلورم ساعت کې و لاړشي دومره ثواب لري لکه یو ه چرګه چې خیرات کړي او چې پنځم ساعت کې و لاړشي دومره ثواب لري لکه یوه هګې چې خیرا ت کړي اوکله چې امام خطبې ته راووځې، ملائکان د خطبې اوریدو لپاره حاضر شي .

صحیح مسلم په دوه لاندنیو احادیثو کې داسې لیکلي دي :

**و حَدَّثَنِي حَرْمَلَةُ بْنُ يَحْيَى أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ أَخْبَرَنِي يُونُسُ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ الْأَعْرَجُ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُا**

**قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ فِيهِ خُلِقَ آدَمُ وَفِيهِ أُدْخِلَ الْجَنَّةَ وَفِيهِ أُخْرِجَ مِنْهَا**

---

[30] بخاری محمد بن اسماعیل صحیح البخاری ، ج ۳، دریم چاپ ،۱۳۸۱هجری مطبعه : ،ایچ ، ایم سعید کمپنی ،کراچی پاکستان ص ، ۳۹۶-

www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاين کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



**و حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا الْمُغِيرَةُ يَعْنِي الْحِزَامِيَّ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنْ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ**

**أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ فِيهِ خُلِقَ آدَمُ وَفِيهِ أُدْخِلَ الْجَنَّةَ وَفِيهِ أُخْرِجَ مِنْهَا وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ إِلَّا فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ[31]**

**ژباړه: رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي: ترټولو غوره ورځ چې لمر پکې راخیژي د جمعي ورځ ده په دې کې ادم علیه السلام پیداشوی او په دې ورځ کې جنت ته داخل شوی او په دې ورځ کې د جنت نه ایستل شوی او قیامت به د جمعې په ورځ وي.**

**په اول حدیث کې د قیامت د قائمیدلو ذکرنشته نور دواړه حدیث په یوه معنی دي.**

**دویم مبحث په اسلام کې د جمعي لومړی انعام :**

**وعن أنس بن مالك رضي الله عنه قال : عرضت الجمعة على رسول الله صلى الله عليه وسلم جاءه بها جبريل عليه السلام في كفه كالمرآة البيضاء في وسطها كالنكتة السوداء فقال ما هذا يا جبريل قال هذه الجمعة يعرضها عليك ربك لتكون لك عيدا ولقومك من بعدك ولكم فيها خير تكون أنت الأول وتكون اليهود والنصارى من بعدك وفيها ساعة لا يدعو أحد ربه فيها بخير هو له قسم إلا أعطاه أو يتعوذ من شر إلا دفع عنه ما هو أعظم منه ونحن ندعوه في الآخرة يوم المزيد، ايضاً ورد ، وعن جابر رضي الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال يوم الجمعة اثنتا عشرة ساعة لا يوجد عبد مسلم يسأل الله عز وجل شيئا إلا آتاه إياه فالتمسوها آخر ساعة بعد العصر، وروي عن سمرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم احضروا الجمعة وادنوا من الإمام فإن الرجل ليكون من أهل الجنة فيتأخر عن الجمعة فيؤخر عن الجنة وإنه لمن أهلها ، رواه الطبراني والأصبهاني وغيرهم ا[32]**

[31]: مسلم بن حجاج، صحيح مسلم ج ، ٤ ص ، ٣٢٧-

المکتبه الشامله ،

[32]: [ صحيح الترغيب والترهيب - الألباني ،

ج ، ١ ، ص ، ١٧١-

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: انس رضی الله عنه فرمايلي: نبي صلى الله عليه وسلم ته جبريل عليه السلام جمعه په خپل اورغوي ( كف )كې د سپينې ائينې په شكل چې په منځ كې يې لكه تور خال غوندې و، راوړه هغه ( صلى الله عليه وسلم ) ورته وويل: يا جبريل دا څه شی دی؟ جبريل عليه السلام ورته وويل: داجمعه ده، الله تعالى تاسوته دركړې چې ستا او له تانه وروسته ستاد قوم لپاره اختر شي اوستاسو لپاره په دې كې خير دی ته اول يې اويهود او نصارا له تانه وروسته دي. په جمعه كې يو ساعت دی چې څوک خپل رب ته دعا د خير په كې وكړي او د هغه قسمت په كې وي، الله تعالى يې وركوي او چې د شرنه ځان ساتنه وغواړي ورنه دفعه كيږي كه هرڅومره لوی شرهم وي.**

**او موږ په اخرت كې نوموو داورځ د ( مزيد) زياتوالي ورځ .**

**اود جابر رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: د جمعې ورځ دولس ساعته ده كوم مسلمان چې د الله تعالى نه څه شی وغواړي، وركوي يې تاسو طلب كړئ دغه شی د جمعې د مازديگر په اخرې ساعت كې.**

**د سمرة رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: د جمعې لمانځه ته حاضرشئ او امام ته نږدی كينئ ځكه چې يو سړی د جنت مستحق وي خو چې كله د جمعې لمانځه ته وروسته ولا ړ شي، د جنت له داخليدو نه وروسته كيږي او حال دا چې داسړی د جنت مستحق وي .**

**دريم مبحث: دجمعې د لمانځه په نه كولو(وعيد) اخطار**

**وعن ابن عباس رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم**

**من ترك الجمعة ثلاثا جمع متواليات فقد نبذ الإسلام وراء ظهره )**

**( من سمع النداء يوم الجمعة فلم يأتها ثم سمعه فلم يأتها ثم سمعه ولم يأتها طبع الله على قلبه وجعل قلبه قلب منافق رواه البيهقي) [33]**

---

[33] : صحيح الترغيب والترهيب ،: محمد ناصر الدين الألباني مكتبة المعارف – الرياض الطبعة : الخامسة ج، ١ ،ص ١٧٩

www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاين كتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې درې واره پرله پسې د جمعې لمونځ ونکړي نو اسلام يې تر شاه واچولو.**

**د دويم حديث ژباړه: څوک چې د جمعې دورځې اذان واوري او لمانځه ته حاضرنه شي او بيا يې واوري اوحاضر نه شي او بيا اذان واري او لمانځه ته حاضرنه شو، الله تعالى يې په زړه مهر لګوي او زړه يې د منافق ګرځوي**

**څلورم مبحث: د جمعي لمانځه ته په څومره اندازه مسافه کې تلل لازمي ي :**

**وعن جابر بن عبد الله رضي الله عنهما قال قام رسول الله صلى الله عليه وسلم خطيبا يوم الجمعة فقال عسى رجل تحضره الجمعة وهو على قدر ميل من المدينة فلا يحضر الجمعة ثم قال في الثانية عسى رجل تحضره الجمعة وهو على قدر ميلين من المدينة فلا يحضرها وقال في الثالثة عسى يكون على قدر ثلاثة أميال من المدينة فلا يحضر الجمعة ويطبع الله على قلبه**

**رواه أبو يعلى بإسناد لين[34]**

**وروى ابن ماجه عنه بإسناد جيد مرفوعا) وَقَالَ الْأَوْزَاعِيُّ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ : مَنْ كَانَ يُمْكِنُهُ أَنْ يَشْهَدَهَا وَيَرْجِعَ إلَى أَهْلِهِ قَبْلَ اللَّيْلِ فَعَلَيْهِ أَنْ يَشْهَدَهَ [35]**

**ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم د جمعې په ورځ د خطبې د ويلو په وخت کې وفرمايل: هغه سړى چې مدينې منورې سره په اندازه د يو ميل ( ۱۷۰۰ يا ۲۰۰۰متره ) کې اوسي اود جمعې لمانځه ته حاضريدى شي خو حاضرنه شي اوبيايې دويم ځل وفرمايل: چې يوسړى په اندازه د دوه ميله کې د مدينې منورې اوسي اود جمعې لمانځه ته حاضريدلى شي خوحاضرنه شي او دريم ځل يې وفرمايل: چې يوسړى په اندا زه د دريو ميلو کې د مدينې**

---

[34] : صحيح الترغيب والترهيب ،: محمد ناصر الدين الألباني مكتبة المعارف – الرياض الطبعة : الخامسة ج ، ۱ ، ص ۱۷۱، ۱۷۹

[35]: سرخسى شمس الدين محمد بن احمد بن سهل ، المبسوط ج ، ۲، مطبعة السعادة، 1324ه) بعناية الشيخ محمد راضي الحنفي. (القاهرة : مصر العربى ، وأعيد نشر هذه الطبعة في بيروت (1986 ، ص ۳۱۱،

(c) ketabton.com: The Digital Library


**منوريږ اوسي او د جمعې لمانځه ته حاضريدلی شي او حاضرنه شي، نزدې ده چې الله تعالی يې په زړه باندې مهر ولګوي .دا حديث ابويعلی روايت کړی په لين روايت، ابن ماجه هم د جابر رضی الله عنه نه په جيدسند سرةً روايت کړی .**

**امام اوزاعي رضی الله تعالی عنه فرمايلي: څوک چې د جمعې د لمانځه له ځايه په دومره اندازه لري وي، چې که لمانځه ته ولاړشي نو بيا بيرته خپل کورته شپه رارسولی شي، د جمعې لمونځ په داسې شخص فرض دی .**

**دجابر رضی الله تعالی عنه د حديث نه دا څرګنده شوه چې کوم واړه کلي چې هلته د جمعی لمونځ څوک نه کوي؛ په اندازه د درې ميله ( تقريباً شپږ کلوميتره) تګ ورپسې ضروري دی او د اما م اوزاعې په قول نوره هم زيا ته فاصله احتمال لري ، هرځای چې وړوکی کلی وي او د جمعې لمونځ په کې نه کيږی د دې ځای خلک به هغه ځای ته ورځي چې هلته د جمعې لمونځ کيږي تقريباً په اندازه د شپږو کلومتيرو مسافه به مزل ورپسي کوي اويا په قول دامام اوزاعې ( رح) چې دوباره خپل کور ته خلک شپه رارسولی شي، نوپه دې خلکو د جمعې لمونځ فرض دی او کوم ځای چې د جمعی لمونځ فرض وي شرايط يې برابروي د هغه ځای په اطرافو کی هم د جمعې لمونځ فرض دی .**

**ابن همام په فتح القديرشرح هدايه کې ذکرکړي: د ښار پناه ( اطراف ) هغه ځای دی چې د ښار د مصالحولپاره وي، که په ښار پورې متصله وي اويا منفصله، په اندازه د کاڼې د ليندۍ چې امام محمد ( رح ) په نوادرکې هم دومره اندازه تعين کړې ده اويوقول داهم دی چې ښارسره يې په مزرعه ( زراعت ) کې فاصله نه وي راغلي اومصنف ( د هدايې ) ويلی: چې جامع مسجد ورته ضرور نه دی، دښار په ټولو اطرافو کې د جمعې لمونځ روادی .** **36**

دريم فصل : د اخترونو لمونځ:

**لومړی بحث :د اختر د لمنځونو حکم :**

[36]:ابن همام ، فتح القدير ، شرح الهدايه ، ج ، ۳، ص، ۱۹۹-

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حسن د امام ابوحنیفه رضی الله عنه روایت کړی، چې د اخترلمونځ په هغه کس واجب دی،چې د جمعې پرې لمونځ واجب وي خوزیاته څرګنده خبره داده چې د اخترونو لمونځونه سنت دي او د دین د نښې دي، چې کول یې هدایت او پریښودل یې ګمراهي ده.**

**د اختر په لمونځونو کې اذان او اقامة نشته اوهمدا سلسله د رسول الله صلی ا لله علیه وسلم نه ترنن ورځی پورې راروانه ده او دایې د سنتوالي دلیل دی .**

**دویم بحث: داخترد لمانځ شرطونه:**

**امام سرخسي رحمه الله تعالی په مبسوط کې داسي لیکلي دي :**

**يُشْتَرَطُ لِصَلَاةِ الْعِيدِ مَا يُشْتَرَطُ لِصَلَاةِ الْجُمُعَةِ إلَّا الْخُطْبَةَ فَإِنَّهَا مِنْ شَرَائِطِ الْجُمُعَةِ وَلَيْسَتْ مِنْ شَرَائِطِ الْعِيدِ وَلِهَذَا كَانَتْ الْخُطْبَةُ فِي الْجُمُعَةِ قَبْلَ الصَّلَاةِ وَفِي الْعِيدِ بَعْدَهَا لِأَنَّهَا خُطْبَةُ تَذْكِيرٍ وَتَعْلِيمٍ لِمَا يَحْتَاجُ إلَيْهِ فِي الْوَقْتِ فَلَمْ تَكُنْ مِنْ شَرَائِطِ الصَّلَاةِ كَالْخُطْبَةِ بِعَرَفَاتٍ وَالْخُطْبَةُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ بِمَنْزِلَةِ شَطْرِ الصَّلَاةِ لِمَا ذَكَرْنَا وَالدَّلِيلُ عَلَى أَنَّ الْخُطْبَةَ فِي الْعِيدِ بَعْدَ الصَّلَاةِ مَا رُوِيَ { أَنَّ مَرْوَانَ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى لَمَّا خَطَبَ فِي الْعِيدِ قَبْلَ الصَّلَاةِ قَامَ رَجُلٌ فَقَالَ : أَخْرَجْت الْمِنْبَرَ يَا مَرْوَانُ وَلَمْ يُخْرِجْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ**

**وَخَطَبْت قَبْلَ الصَّلَاةِ وَلَمْ يَخْطُبْ هُوَ قَبْلَهَا وَإِنَّمَا كَانَ يَخْطُبُ بَعْدَ الصَّلَاةِ فَقَالَ مَرْوَانُ : ذَاكَ شَيْءٌ قَدْ تُرِكَ فَقَالَ أَبُو سَعِيدٍ الْخُدْرِيُّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ : أَمَّا هَذَا فَقَدْ قَضَى مَا عَلَيْهِ سَمِعْت رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ وَذَلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ } يَعْنِي أَضْعَفَ أَفْعَالِ الْإِيمَانِ:[37]**

**ژباړه: داختر د لمانځه لپاره ټول هغه شرطونه چې دجمعې د لمانځه لپاره دي ضروراو لا زمي دي یوازې خطبه چې د جمعې د لمانځه لپاره شرط ده او د اخترد لمانځه لپاره شرط نه ده ځکه د جمعې د لمانځه خطبه د لمانځه نه مخکې لوستل کیږي اود اخترد لمانځه خطبه د لمانځه نه وروسته لوستل کیږي ځکه چې دا د وعظ او نصیحت لپاره خطبه ده، لکه چې د عرفات د ورځې خطبه، د لمانځه نه وروسته ده .**

---

[37] : شمس الدين السرخسي محمد بن أحمد بن سهل (ت 483هـ- مبسوط ج ٢- ص -٣٥٦- مكتبة الشامله

www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاین کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د جمعې د لمانځه خطبه د لمانځه د جز په مرتبه ده دليل يي دادې: مروان چې کله داخترد لمانځه خطبه مخکې ولوستله،يوسړی ورته راپورته شواو ورته يې وويل: مروانه! منبردې د مسجد نه بهر را ويستلو او رسول الله صلى الله عليه وسلم نه و رايستلى او د اختر د لمانځه خطبه دې مخکې ولوستله او حال دا چې رسول الله صلى ا لله عليه وسلم به وروسته لوستله، مروان ورته وويل: دا يوشی و، چې اوس پريښودل شوی دی ( يعنې اوس موږ خطبه مخکې وايو ) ابوسعيد خدري رضى الله تعالى عنه وفرمايل : دې سړي په هغه کار عمل وکړ چې ما د رسول الله صلى ا لله عليه وسلم نه اوريدلي دي: څوک چې د شريعت مخالف عمل ويني نو هغه دې منع کوي په لاس سره او که په وس کې يې نه وه نو بيا دي په خوله سره منع کوي اوکه دا يې هم په وس کې نه وه نو په زړه دي د دې کارنه کرکه کوي، چې داد ايمان ضعيفه درجه ده .**

**دريم بحث : داخترونو فضيلت ،**

**عن أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ { : قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ وَلَهُمْ يَوْمَانِ يَلْعَبُونَ فِيهِمَا فَقَالَ : قَدْ أَبْدَلَكُمْ اللَّهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى بِهِمَا خَيْرًا مِنْهُمَا الْفِطْرَ وَالْأَضْحَى }**

**ژباړه: انس رضى الله عنه فرمايلي: کله چې نبي عليه السلام مديني منورې ته تشريف راوړ؛ د مدينې د خلکو لپاره دوه ورځې وې چې لوبې به يې پکې کولې، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: الله سبحانه وتعالى دا دوه ورځې په دوه نورو غوره ورځو تاسوته بدلې کړې، چې هغه د کوچنې اولوی ا ختر ورځې دي[38]**

سرخسی شمس الدين محمد بن احمد بن سهل ، المبسوط ج ، ٢ مطبعة السعادة، 1324هـ) بعناية الشيخ محمد راضي الحنفي.

(القاهرة: مصر العربى ، وأعيد نشر هذه الطبعة في بيروت (1986) ، ص، ٣٥٦---٣٥٩- -

،

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پایله

د جمعې لمونځ فرض عين دی او په مختلفو احاديثو کې يې فضيليت او غوره والی راغلی دی اودايو مستقل فرض دی او د ماسپښين تر لمانځه زيات ثواب لري او په پريښودلويې زيات عذاب دی اوپه هر وخت کې ورته زياته اړتيا ليدلې شي، ځکه چې خلک په دنياوی کا رونو کې زيا ت بوخت وي که د جمعې په لمونځ کې ورته ديني لارښوونې و شي زياته ګټه لري اوډير معلومات ورته کيږي او که موږ د جمعې لمونځ پريږدو نو کيدای شي خلک او خصوصاً ځوان نسل له د خپل دين له معلوماتوبی برخې شي ، ځکه چې ټول خلک خو مدرسوته نه ځي ، هغه خلک خو نيک بخته دي چې ديني زدکړې لري خوله بده مرغه نن سبا د دنيا حرص زيات شوې دی ديني زده کونکي ډيرکم دي د دعوت اوتبليغ لپاره د جمعې لمونځ ښه لار ده اوبل داچې يو مستقل فرض هم دی چې دجمعې په سورة کې په ځرګنده الله سبحانه وتعالی امرکړی دی: کله چې د جمعې د لمانځه لپاره اذان وشي نو تاسي د الله تعالی ذکر ( د جمعې لمونځ او خطبې ) ته ولاړشئ ) او دا، ايت شريف مطلق دی ( داصولي فقهي په اصطلاح کې داحکامو آيتونه خپل څلورګونې تقسيمات لري چې دهغو داقسمامو د جملې نه يو مطلق هم دی ) د احنافو دامسلک دی چې مطلق په خپل اطلاق ( بی قيد) جاري کيږی .

په حديث شريف کې ذکرشوي او مخکې مې حواله ورکړي ده : د جمعې لمانځه ته تلل په هرمسلمان واجب دي او شرايط او فضيلتونه مې هم ذکرکړي دي د وجوب په شرطونوکې چې چا د مصر ( ښار ) شرط ذکرکړی دی او د ښار تعريف يې داسي کړی : ښار هغه ځاي ته ويلی شي: چې اميراو قاضي به لري او د شريعت احکام به په کې نافذ وي .

دا د علی کرم ا لله وجهه قول دی او د امام ابويوسف رح نه روايت دی چې هدايې هم د جمعې په باب کې ذکرکړی چې امام کرخي غوره کړی دی په هم دې پاڼه کې يې له امام ابويوسف رح نه دوه نور روايتونه هم ذکرکړي دي

۱: ښار دې ته وايې چې کله يې اوسيدونکي سره رايوځای شي نو تر ټولو په غټ جمات کې ځای نه شي ۲: ښار هغه ځای ته ويلی شي چې هر قسمه کسب ګر په کې موجود وي اود خلکو اولنې اړتياوي پکې پوره کيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ردالمحتار ليکلي: په دې قول داکثرو فقهاوو فتواى ده . نور تفصيل مې په کتاب کې ورکړى دى حتى چې دهلوي( رح) ويلى: چې که د قاضي ، امير، ديني احکامو او د حدودو شرط معتبر شي نو په ټوله اسلامي نړۍ کې ږوبى لا د جمعې لمونځ جواز نه درلود. درې ا ماماناو، مالک، احمد او شافعي او نورو جمهورو فقهاوو( رحمهم الله تعالى) ټولو په اتفاق سره بې له د ې تعريفه ( چې امير، قاضي اوتنفيذ داحکامود شريعت ) د جمعې لمونځ فرض عين ګرزولې دى او احنافو علماوو ، چې د ښار شرط ايښى دى خو، تعين او حصر يې په يو تعريف کې نه ده کړى نوموړ نورو تعريفو ته د ښار ځو چې مخکې مې ذکر کړل .

په اسلامي عباداتوکې د جمعې لمونځ خورامهيم دى ټول مسلمانان په د ې مکلف دي چې دا مهمه فريضه په غوراو فکر سره ادا کړي چې ډير زيات اجرونه لري او په ژوند کې د عبادت يوه ډيره ښه لاره ده.

هغه څوک چې د جمعې لمونځ نه کوي، الله تعالى يې په زړه د ګمرا هې مهرلګوي او ديولوى عبادت نه محرومه پاتي کيږې .

د جمعې په ورځ يو داسې ساعت دى، چې الله تعالى په کې دعا قبلوي حتې په حديث شريف کې داهم ذکر شوي: چې يوسړى د جنت مستحق وي خو د جمعې لمانځه ته ناوخته ولاړشي، دجنت په ننوتلو کې ورسته کيږى.

چې څوک يې نه کوي نو فکرکوم چې د جنت بوي به هم و نه ويني.

ځيني خلک چې مطالعه يې کمزورې وي، په هرځاې کې خلکو ته د جمعې لمانځه ته د نه تلو خبرې کوي ، وايې په ټوله نړۍ کې اوس نه کيږي چې دا په دين د ناپوهۍ لويه نښه ، لويه ګناه ده . په درنښت

حزب الله رښتين ، غزنيوال ، فاضل وفاق المدارس العربيه ، ايم اے اسلاميات و عربى، يونيورسټى پيښور ، ليسانسه پوهنځې شرعيات پوهنتون کابل افغانستان

دپاى نيټه : ٢٢ سلواغه ١٣٨٩ش مطابق ٩ فرورى ٢٠١١- ميلادى پيښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماخذونه

١: ابوداؤد سليمان بن اشعث ، سنن ابي داؤ

٢: ابو يحى زكريا ، شرح البهجة الوردي

٣: ابن همام ، فتح القرير ، شرح الهدايه ،

٤: بخارى محمد بن اسماعيل صحيح البخارى

٥: الباني ناصرالدين ، صحيح الترغيب والترهغيب

٦: بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع

٧: البحر الرائق شرح كنزالدقائق

٨ الجوهرى نصر بن عاصم اليثى ، الصحاح في اللغة ،

٩: الحسيني محمد، تبيين الحقائق شرح كنزالدقائق

١٠: الداغستانى محمدامين بن ملا احمد، مطالب أولي النهى في شرح غاية المنتهى

١١:سرخسى شمس الدين محمد بن احمد بن سهل ، المبسوط: مصر العربى

١٢:شيخ زاده عبدالرحمن بن الشيخ محمد بن سليمان ، مجمع الأنهر في شرح الأبحر

:١٣:مسلم بن حجاج، صحيح مسلم ،

١٤: مولوى سيد رسول ،حليم ،(شيخ القران والحديث) باللؤ المنثور

١٥: محمد علاء الدين ابن الشيخ على الحصني الحنفي ، رد المختار

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com – د پښتو ژبې انلاین کتابتون

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**